

| کرونايي کيسې | ۶

د هرات، غور، بادغيس، فراه او نيمروز کيسې

# غرقاوی

عبدالواحد رفیعی

انځورگره: فرحناز عثماني

ACKU

ACKU

کرونایي کیسې ۶

غرقاوی

عبدالواحد رفیعی

د ارېکو شمېره: ٤٥٦

Facual Stories on Covid-19

## The Whirlpool

Abdul Wahid Rafie

جنجال هغه مهال زيات شو چې مړي ته د غسل مسئله رامنځته شوه. دا چې مړی پر کرونا اخته کس و، د جومات ملا امام يې په خپله دنده کې پاتې راوستی و. له يوې خوا د ديني مسووليت ادا کول او له بلې خوا د خپل ځان ساتنه پر يو وخت دوې سختې خبرې وې. بالاخره نتيجه دا شوه چې ملا امام خپل امامت په سيستان ښارګوټي کې له لاسه ورکړي.

د ملا تګ او د ښارګوټي د جومات لپاره د نوي ملا ګومارل د هغه ځای د خلکو لپاره تل ستونزمن و. ځکه د سيستان ښارګوټی څو کاله وړاندې د کندهار نيمروز پر لار د نيمروز ښار څخه يوڅه دباندې نوی جوړ شوی و او تراوسه يې ټول او مجهز امکانات نه درلودل. د هغه ځای خلک د ډېرو چارو لپاره له ښارګوټي دباندې تلل، چې يو يې د ملا لټول و. کله به کندهار، کله هرات او حتی کابل ته به پسې تلل.

ملا يوسف اصلاً د غزني و. حاجي ارباب هغه په هرات کې د خپلو دوستانو په مرسته، له غزني را وستی و. سيستان ښارګوټي ته به چې هر ملا راغی د مسافرۍ ژوند به يې کاوو. د خوب ځای او ډوډۍ يې هم د سيمې خلکو ورکوله. د ملا چای او ډوډۍ هره ورځ پر يوه کور حواله وه.

توانا

برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترويج فرهنگ کتابخوانی و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان

ACKU Box Library Extension

Est. 1996

ISBN 978-9936-662-18-6

9 789936 662186

بسم الله الرحمن الرحيم

# غرقاوی

کـــــــرونـــا او
د لوېديځ زون د خلکوکيسې

عبدالواحد رفيعی

ACKU

توانا
برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی
و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ACKU Box Library Extension

د کتاب پېـژندنه:

نوم: غرقاوی

لیکوال :عبدالواحد رفیعی

پښتو ته ژباړن: محب الرحمان

ادبي ناظر/پراجکت کوالیتی کنترولر: محب الله زغم

انځورګره: فرحناز عثمانی

ګرافیک ډیزاینر: وحید عباسی

خپروونکي اداره: په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز ACKU

دپروګرام‌مسوول: کاظم‌حمیدی‌رسا

خپرنیزه کمېټه: عبدالوحیدوفا، رشمی دانګل، فیض محمدنایاب او زینت الله قانت

برېښنالیک‌پته:: publicaiton@acku.edu.af

وېبپاڼه: www.acku.edu.af

پر له پسې شمېره: ٤٥٦

شابک: ISBN:٩٧٨-٩٩٣٦-٦٦٢-١٨-٦

لومړی چاپ: ١٤٠١لمریز (٢٠٢٢ ز)

په افغانستان کې د کرونا لومړنی ناروغ ..........۹
د پلار مینه ..............................۲۳
د عارف پلار ...............................۳۹
کرونا او استاد مهدي.........................٤۹
کرونايي تابوت ...........................۵۹
د وېښتو تار ..............................٦۹
کـوټه قـلفي ..............................۸۳
وچ ټـــوخی ................................۹۷
سيدنجات آغا................................۱۰۹
يو کرونايي ماښام ...........................۱۱۹
گرداب.......................................۱۳۵
د کرونايي مړي غسل .........................۱٤۷
د ملا تـــنخـــواه ...........................۱۵۷
د بډوډو خرڅولو بازار ........................۱٦۷

# له لوستونکو سره خواله

ځینې انساني پېښې یوازې تاریخي پېښې نه دي چې په ثبتولو سره یې د تاریخ لیکلو کار وکړو. دغه پېښې پخپله دقیقاً د تاریخ مبدأ دي: نوی پېر ته د سفر پیل او د اوښتون ټکی. د تاریخ لوری بدلوي او تر هغه وروسته به د تاریخ په اړه د بشر پوهه بل کیفیت لري.

د کورونا نړۍواله وبا هم دغسې پېښه ده. دا یوازې د یوې ساري ناروغۍ خورا تېز خپرېدل نه وو. په یوه شپه کې د نړۍ د اقتصاد راپرځېدل، د بې‌روزګارۍ بې‌خرته زیاتېدل، د دنیا د صحي سیستمونو ګډوډېدل وو، او تر ټولو مهمه د یو ویشتمې پېړۍ انسان د ناچارۍ او بې‌چاره‌ګۍ ننداره هم وه. هغه انسان چې د تخیل او ځان غوښتونکي تکبر په وجه د خپل چاپېر جهان پر پوهې مسلط شوی و خو ډېر آسان د داسې موجود په وړاندې په ګونډو شو چې تر ده میلیونونه ځله کوچنی و.

نو، د کورونا ویروس راخرګندېدل او خپرېدل یوازې د یوې ساري او

نیوونکې ناروغۍ خپرېدل نه وو. د بشر د تاریخ داسې نوی پړاو و چې ثبتول او خاطره کول یې یوازې د تاریخ او تاریخ لیکنې په وس کې نه دي. دا په دې چې تاریخ د روایتګرۍ د سنت پر بنا یوازې د لویو پېښو روایت کوي. جزئیاتو او وړو کیفیاتو ته پام نه کوي، د ټولنیز ناورین مختلف اړخونه نه راسپړي، د غمېزې پر خاصې زمینې تکیه نه کوي، همدا ځای دی چې ادبیات میدان ته وردانګي او د پېښې ماهیت په لا زیات دقت سره ګوري، کیفیات او جزئیات یې توصیفوي، له تخیل سره یې ګډوي او په آخر کې یې د بشر جمعي خاطرې ته ور ننباسي.

په همدې وجه، لودینه وه چې د کورونا په خېر عالمګیر ناورین دې یوازې په رسمي او غیر رسمي تاریخ سره مکتوب او پایېدونې نه شي. ادبیات هم باید د هغه په تل پاتې کولو کې خپله ونډه واخلي. ادبیات باید تر تاریخ ډېر څه وکړي چې د ثبتولو او خوندي کولو چاره یې لا ډېره وپایي.

همدا وه چې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د داسې فرهنګي مرکز په توګه چې په مختلو برخو کې د بشري تجربو خوندي کول خپله یوه اصلي وظیفه ګڼي، را مخکې شو او هڅه یې وکړه چې د دې ستر او حیاتي کار مدیریت په لاس کې واخلي. دغه کتاب د همدې هڅې او موخې نتیجه ده. له کورونا ویروس سره د ځینو افغانانو د مجادلې کیسې.

د هغو واقعي انسانانو چې د ژوندي پاتې کېدو او بقا لپاره یې هڅه کړې ده؛ د اتلولیو، مېړانو، ماتو او بریاوو حکایتونه. هغه هم په داسې هېواد کې چې په دې نابرابره جګړه کې یې د نړۍ تر ډېرو هېوادونو په ډېرو برخو کې خورا لږ امکانات او ځواک درلود.

دا چې دغه کتاب څنګه ولیکل شو، لنډه توضیح یې دا ده چې په هېواد کې د کورونا ویروس د خپرېدو د لومړۍ څپې په پای کې، د افغانستان د معلوماتو مرکز له دې وبا سره د مجادلې د تجربو د راټولولو پروګرام طرح

کړ. پر یکړه داسې وشوه چې د هېواد له شپږو زونونو څخه دې د دې مجادلې بشري تجربې راټولې شي.

دغه شپږ زونونه کابل، شمال، جنوب، شرق، غرب او مرکزي زون وو. په لومړي سر کې د پروګرام له وګړو سره د مصاحبې له لارې اطلاعات او عيني تجربې راټوې کړې. وروسته، دغه خام مواد د کتونکې ډلې په لاس ليکوالو ته ولېږدېدل. ليکوالانو له يوې يا څو تجربو يوه لنډه کيسه جوړه کړه. نو، د دې ټولګې کيسې په ټوله کې د عيني واقعيتونو پر اساس ليکل شوې دي. پېښې ټولې واقعي دي او په دې کيسو کې د ليکوال د تخيل ونډه يوازې د فضا جوړولو، د صحنو اوډون او د لحن توليد و.

د کيسو په ليکلو کې هڅه شوې ده چې د امکان په حد کې د هغو سيمو د بومي کلتور ګوټېو خوند او رنګ وساتل شي چې دغه پېښې په کې شوې دي. دغه لحن د کرکټرونو نومونه، د ځايونو، جامو، خوړو، بوټو او ... نومونه رانغاړي چې په ټولو داستانونو کې يې خوندي کول عمدي کار و.

بله خبره دا چې، ليکوالو په لومړي سر کې کيسې په يوه ژبه يعنې يا پښتو، يا فارسي، يا اوزبيکي ژبه ليکلې دي. وروسته بيا د هرې ژبې کيسې دوو نورو ژبو ته هم ژباړل شوې او چاپ ته چمتو شوې دي.

د کار نتيجه په شپږو جلا جلا دفترونو کې راغلې ده چې دغه کتاب يې يو دفتر دی.

د توانا پروګرام
په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز



# په افغانستان کې د کرونا لومړنی ناروغ

# ۱

د کرونا د راتګ کال پوره شوی و، د ژمي یوه سړه ورځ وه، په ټکسي کې ناست وم او په شهرنو کې ترافیکي اشارې ته منتظرو چې «په افغانستان کې د کرونا لومړنی ناروغ» مې ولید. د ټکسي ډرایور ترمور مخکې پرهغه سترګې ولګېدې، غوښتل یې هغه موږ ته را وښیي؛ ماته یې مخ راواړو او پوښتنه یې وکړه:

- هغه پېژنې؟

زموږ له څواب مخکې یې وویل:

- دا په هرات کې پر کرونا لومړنی اخته کس و.

د نهه ویشتو یا دېرشو کلونو عمر لروونکی ځوان پر بایسکل سپور، د ترافیکي اشارو ترڅنګ د موټرو مخې ته تېرېده. لوړ قد یې درلود و،

تار تار ږیره یې سپینه وه، د شاه په سیټ کې ناست یو مسافر غوښتل د موټر چلوونکي خبر اصلاح کړي، ویې ویل:

- صرف د هرات نه، « په افغانستان کې د کرونا لومړنی ناروغ» دی.

ټکسي چلوونکي د شاته ناست مسافر له خبرې سره هوکړه وکړه، ویې ویل:

- هو رښتیا وایې، « په افغانستان کې د کرونا لومړنی ناروغ ».افغانستان ته کرونا همده راوړه، پخپله اوس بې غمه باسیکل چلوي.

یوه بل کس وویل:

- کرونا هسې هم راتلونکې وه، خو پلمه یې دی شو. خلک اوس دی غریب ملامتوي.

ترافیکي څراغونه لا سره و، اشارې ته د ولاړوموټرو تر منځ له یوه موټر څخه یوه ډرایور سر را بهر کړ او « په افغانستان کې د کرونا لومړنی کس». باندې یې غږ کړ:

- ژوندی دې وي کرونا والا!

زموږ ډرایور ورغږ :

- زه دی ښه پېژنم، د سرور بوټ خرڅوونکي زوی یې. د پلاستیکو په مارکېټ کې بوټ خوڅوې.

په موټـر کې شاته ناست کس وویل:

- د خدای قدرت ته گوره، څومره خلک کرونا مړه کړل او ولاړل، خو دی تر اوسه ژوندی دی، داسې نېغ پرلاره روان دی.

ټکسي چلوونکي ځواب ورکړ:

- له هغه وروسته چې ټلویزیونو د کرونا د راتگ اعلان وکړ، پر دې

سړي به څه حال تېر شوی وي. زه ترې خبر يم. د روغتيا وزير پخپله مرکه ورسره وکړه. وزير وويل چې په کرونا لومړنی اخته کس په هرات کې دی. د ايران له قُم ښار څخه راغلی دی... ټلويزيونونه او خبريالان روغتون ته پسې راغلل ، ترڅو له هغه سره مرکې وکړي.

## ۲

څراغ شين شو او موږ حرکت وکړ، په افغانستان کې د کرونا لومړی ناروغ، د پلاستيک په مارکېټ کې خپل دوکان ته رسېدلی و. حامد د پلاستيکي بوټونو په دوکان کې، خپل لاسونه غوږونو ته يوړل، غوږونه يې ونيول او ويې ويل:

- له مرکې مې توبه کړې ده، قسم مې خوړلی چې بيا به له چاسره مرکه ونکړم.

د پلاستيکي بوټونو په دوکان کې يې زما لپاره څوکۍ راکش کړه، خپله پر ځمکه کېناست ويې ويل:

- له مرکې توبه!

ومې ويل:

- لالا ! کومه ده مرکه، زما له څېرې داسې برېښي چې زه دې خبريال يم ؟

زما خبره يې پرې کړه ويې ويل:

- ياره توبه، نور چې هر کار وايئ زه مو نوکر يم، خو مرکه به نه راته يادوې.

د چای پياله يې ماته کېښوده ، راته ويې کتل، غوښتل يې چې ماته يو

راز ووايي، ورو يې وويل:

- پر همدې مرکو يې ماته گواښ وکړ.

- د څه شي گواښ ؟

- له ناپېژندلې شمېرې زنگ راته راغی ، ويل يې چې نور به له چاسره مرکه نه کوې، زه هم ووېرېدلم.

حامد شکايت پيل کړ:

- دا کرونا نه وه بلا وه. زما نوم يې بدل کړ، ټولو به «حامد کرونا!» بللم. له بلې خوا ټلويزيونو زه د خلکو خولې ته واچولم، اوس دا ټول شهرنو راته «حامد کرونا»وايي.

حامد رښتيا ويل، شهرنو ته چې د ننه شوم، له يوه دوکانداره مې وپوښتل:

- د بوټ پلورونکو مارکېټ چېرې دی؟

هغه کوڅې ته يې اشاره کړه چې د مارکېټ دروازه پکې وه. د کوڅې په سرکې يوه سپين ږيري کباب ته پکه وهله ، ترې ومې پوښتل:

- په هغه کس پسې گرځم چې لومړی ځل کرونا نيولی و؟

له ځنډه او فکر پرته يې وويل:

- هغه کرونايي لټوې؟ هغه حامد نومېږي، دننه مارکېټ ته ورشه، له هرچا چې پوښتنه وکړې، حامد کرونا درته ښيي، يو درې غوړي دوکان لري.

اوس په درې غوړي دوکان کې «حامد کرونا» ته مخامخ ناست وم. حامد د چاى دويمه پياله هم راته ډکه کړه. په خپل ذهن کې مې د هغه لپاره مناسبه کلمه لټوله. په دې مې هم فکر کاوو چې د چين په وهان

ښار کې به يې، پر کرونا له لومړي اخته کس سره څه ډول چلند کړی وي؟

يوه شپه مې په فېسبوک کې يو خبر راياد شو چې ليکلي يې و : « په شمالي کوريا کې يې پرکرونا لومړنی اخته کس اعدام کړ». د طاعون کتاب راياد شو چې کامو ليکلی دی. حامد مې په نظر هغه موږک راغی چې د آرا ښار په يوه تعمير کې ډاکټر برنارريو پر يوه پله ليدلی و...

په يوه غږ له چرتونو را ووتم :

- چای دې وڅښه چې يخ‌ېـــږي.

حامد و، بېرته مې پام شو. په افغانستان کې پر کرونا اخته لومړی کس مې مخې ته ناست و.

## ۳

ډاکټر له حامد څخه پوښتنه وکړه:

- چېرته خو مسافر نه وې ؟

حامد په موسکا سره ځواب ورکړ:

- مسافر وم ډاکټر صاحب!

حامد تر څو چې وم ويل، د ډاکټر سترګې رډې راووتلې، پوښتنه يې وکړه:

- چېرته وې؟ بهر يا په هېواد کې دننه ؟

حامد وويل:

- په ايران کې .....

ډاکټرخپل ځان راټول کړ. تا به ويل معاينه خانې ته يې مار راننوتی.

په څېره کې یې وېره پیدا شوه. پر مېز اېښودل شوی ماسک په بېړه راواخیست او په خوله یې وتاړه. بل ماسک یې حامد ته ورکړ او ویې ویل:

- ماسک واغونده !

ډاکتر د معاینې د الې غوړۍ په غوږ کې کېښوده، دستکش یې په لاس کړ او له لرې څخه یې د حامد معاینه پیل کړه. له حامد څخه یې پوښتنه وکړه:

- د ایران په کوم ښار کې وې؟ ..... ساه وباسه.

حامد ژر ژر ساه اخیسته ، ویې ویل:

- قُــم.

قـُـم نه و، سم بم و چې په ډاکتـر ور وچاودېده. ډاکتر له خپله ځایه جگ شو، رنگ یې زېړ شو، حامد ته یې مخ ور واړولو او ویې ویل:

- ته چې له قُم راغلی یې ولې ماته ته راتلې ؟ د خلکو د ژوند فکر نه کوئ؟

حامد چې له ایران څخه په لومړی ځل کور ته راغی ، پنجشنبه د شپې ناوخته و. په هغه شپه ښه ویده شوخو پر سبایې له خپلو دوستانو سره کوم غره ته مېلې ته تللی و. ټوله ورځ تر ماښامه له خپلو دوستانو سره په غره کې گرځېدلي و. د ده په وینا چې ((سخت ستړی وم او یخې اوبه مې وڅښلې)). سړو اوبو د حامد پر ستړي اوجود بد اغېز کړی و. له غره چې کور ته راستون شو، پر ځان یې درد شو. شپه یې له همدې درد سره سبا کړه. سهار یې د کورنۍ غړو ته وویل:

- فردین زوی مې ډاکتر ته بیایم پښه یې پانسمانوم ،ځان به هم

ډاکټـر ته ورښکاره کړم.

فردین، د حامد یوکلن زوی و. څو ورځې د مخه یې - کله چې حامد په ایران کې وـــ پر ښه ابشېدلې اوبه ورتویې شوې وې او سوځېدلی و. د فردین پښه باید هره ورځ پانسمان شوې وای. اوس حمید د ډاکټـر مخې ته ناست و. ډاکټر د قم د نوم په اوربدو په چټکۍ او وارخطایۍ سره پر خپل لاس مکروب ضد مایع وکاروله او د الکول بوی په فضا کې تیت شو. تلیفون یې د مېز له سره را واخیست، پر خپل ټلیفون یې هم مکروب ضد مایع وشیندله. ډاکټـر کارول شوي دستکشونه د خځلوسطل ته واچول او نوي دستکش یې پر لاس کړل. حامد له ځانه وېرېدلی و، نه یې تبه درلودله او نه ټوخی، خو د ډاکټر چلند د هغه لپاره یوه بلا وه. حامد داسې احساس وکړ چې حال یې خرابېـږي، زړه یې ضعف کاوو، اوجود یې گرم شو، له ځان سره یې ویل:

- لکه چې تبه مې شوه.

ورو ورو یې ټوخی پیل شو. ډاکټر داسې وارخطا شوی و چې د ټلیفون پر شمېرو نه پوهېده. بیا یې حامد ته وویل:

- د کرونا دا اوازې دې نه دي اوریدلي؟ په قُـم ښارکې خو ټول خلک کرونا نیولي دي.

حامد د ډاکټر په دې خبرې سره ټکان وخوړ، غوښتل یې څه ووایي خو ژبې یې ورسره یاري ونکړه. مسکی شو، څېره یې ژېړه شوې وه. ډاکټر په وارخطایۍ سره یوه شمېره وموندله او زنگ یې وواهه. شمېره د روغتون وه، ډاکتر هغوی ته وویل:

- ژر یو ټیم زما معاینه خانې ته راولېږئ...



تر څو چې امبولانس رارسېده، تا به ویل چې دواړه په کوم خطرناک سیند کې د ډوبېدو په حال کې دي. له یو بل څخه وېرېدلي وو. د دواړو په سترګو کې له یو بل څخه د بېزارۍ حس لیدل کېده. ترڅو چې امبولانس راته، په ډاکټر وخت د قیامت په شان تېـرېده. څلور کسه چې سپینې چپنې یې پر ځان وې، تورې عینکې او عجیبه ماسکونه یې درلودل، له امبولانس څخه راښکته شول اوحامد یې ونیو. د امبولانس دننه نرسانو، حامد داسې کېناوو لکه کوم مجرم یې چې نیولی وي. ډاکټر نرسانو ته د حامد په اړه مالومات ورکړل:

- دغه مشکوک کس له قم څخه تازه راغلی، د کرونا نښې نښانې

لري، د کرونا ټېسټ یې باید ژرووشي.
په لاره کې حامد نرسانو ته توضیحات پیل کړل:
- زما د زوی پښه سوځېدلې ده، زه باید هغه کور ته بوزم.
خو چا یې خبرو ته غوږ کېنښود. حامد مجبور شو او پر یوه نرس یې غږ وکړ:
- ډاکټر صاحب! په کومه ژبه تاسو پوه کړم، زما زوی د سویو په روغتون کې دی.
حامد دویم ځل د فضانوردانو په څېر لباس اغوستونکي نرس ته وویل:
- زه هره ورځ باید خپل زوی د پانسمان لپاره د سویو روغتون ته بوزم.
نرس هېڅ عکس العمل ونښود، حامد فکر وکړ نرس تر دې مخصوص لباس لاندې د هغه غږ نه اوري، خپل غږ یې جګ کړ:
- تاسو اورې چې زه څه وایم؟ زوی مې اوس د سویو په روغتون کې ماته انتظار دی.
نرس په ځواب کې پر حامد غږ وکړ:
- څه خبره ده چې چیغې وهې.
حامد ځواب ورکړ:
- یو ځل اجازه راکړئ چې خپل زوی مې تر کوره ورسوم، وعده کوم چې روغتون ته پرخپلو پښودرځم.

# ٤

هغه نرس چې د فردین ساتنه یې کوله، د هغه پښه یې پانسمان کړه منتظر و چې د فردین پلار راشي. خو یو ناڅاپه یې چلند بدل شو. یوه بل نرس یې په غوږکې څه ورته وویل. د هرات له انتاني روغتون څخه د سویو روغتون ته زنګ وهل شوی و چې د فردین پلار چې له قُم څخه نوی راغلی دی، شک پرې کیږي چې پر کرونا به اخته وي.

حامد یې د هرات حوزوي روغتون، انتاني برخې ته وړی و. هغه وخت، په هرات کې د کرونا کوم ځانګړی روغتون نه و چمتو شوی. د کرونایي ناروغانو لپاره موقت ځای انتاني روغتون و. د حامد لپاره یې یوه کوټه خالي کړه. دغه کوټه د روغتون په یوه ګوښه برخه کې وه. کوټه ډېره کوچنۍ وه. اوسپنیزو کړکیو یې حامد ووېراوو، له ځان سره یې وویل:

- وای خدایه! دا ځای خو د زندان په څېر دی.

څه وخت وروسته حامد وخت وموند چې له ډاکټرانو پوښتنه وکړي:

- دا مسخرې به تر کله روانې وي ؟ کور ته به څه وخت ځم؟

ډاکټر د خپل ماسک له شا ځواب ورکړ:

- د څه شي مسخرې زړګیه!؟ تر هغه وخته چې د ټسټ پایله دې راځي ، همدلته به یې.

حامد غږ کړ:

- کوم ټسټ؟ تاسو حق نه لرئ چې ......

ډاکټر په کلکله دروازه بنده کړه او له شا یې کولپ پسې واچاوو.

حامد چې د کولپ غبړ واورېده، نور هم وارخطا شو. انتاني روغتون ته د حامد په راتګ سره، د کرونا بلا په روغتون کې غوغا پیل کړه. په روغتون کې اوازه شوه چې پرکرونا اخته شکمن کس یې راوړی دی . د ډاکټرانو حواس او غوږونه هغه اتاق ته و په کوم کې چې حامد قرنطین و. نرسانو به هم له شیشې حامد ته کتل. ځینو به یې لاس خوځولو او له کوم څه ویلو پرته به ولاړل. روغتون ته راتلونکي خلک هم پوه شوي و چې دلته یې پر کرونا اخته یو کس راوستی. هغوی به هم ډلې ډلې راتلل او د شیشې له شا به یې حامد ته ورکتل . ځینو خو د شیشې له شا د حامد عکسونه اخیستل. خبریالانو به د شیشې له شا څخه خپلې کمرې د حامد پر مخ زووم ( ورنژدې) کړې، حامد ته به یې لاس ښوراوو. ځینو به یې غبړ کړ، څنګه یې؟ حامد به هغوی ته موسکا کوله. دا مهال له کور څخه حامد ته ټلیفون راغی. دې زنګ د حامد روح او روان وځپل او سخت خپه شو.

## ۵

له روغتون څخه د ډاکټـرانو یو ټیم د حامد کور ته تللی و. په پوره هوښیارۍ سره یې د کورنۍ ټول غړي اول راټول او بیایې د بندیانو په څېر امبولانس ته یې اچولي وو. پر ټلیفون حامد ته وویل شول چې اوس هغوی سرجنګل روغتون ته لېږدول شوي دي او له ښاره دباندې دي. شپه وه او په سرجنګل روغتون کې یوازې یو کس ساتونکی و. د حامد مېرمن، پلار، مور، زوی او د حامد دوه تنه خپلوان په دې ځای کې قرنطین وو. د ګوانتانامو په څېر په یوه ساړه سالون کې. په سرجنګل

روغتون کې د حامد د کورنۍ او د روغتون د نوکریوال تر منځ شخړه پیل شوه.

د حامد پلار، سرور پر ساتونکي چیغه کړله:

- موږ مو په څه دلیل دلته راوستي یوو ؟ پـرېږ مو بړدئ چې خپل کور ته لاړ شو.

ساتونکي یې په ځواب کې وویل:

- ماته یې دنده راسپارلې چې ستاسو ساتنه وکړم، زه نشم کولای تاسو ازاد کړم.

بوټ پلورونکي سرور وویل:

- ښا ، په څه دلیل؟

ساتونکي وویل:

- په دلیل یې نه پوهېږم، امر شوی چې تاسو تر سهار د وتلو حق نه لرئ.

نیمه شپه وه چې ساتونکی پوه شو چې دوی کرونا لري. د ساتونکي چلند له هغوی سره بدل شو. له هغوی څخه لېـري لاړ، خپل ځان یې پر ماسک او خولۍ سمبال کړ.

# ٦

حامد د خپلې مېرمنې له زنګ وروسته - چې له سرجنګل روغتون څخه یې اړیکه نیولې وه- له یوه نرس سره شخړه پیل کړه. خو چا یې خبره نه اورېدله. د شپې یوولس بجې وې چې درې تنو ډاکترانو دروازه پرانیستله. حامد ته جنايي فلمونه ورپه یاد شول. ډاکټران د څارنوالانو

په شان ورته وایسېدل چې نیمه شپه له تورن کس څخه د اعتراف اخیستو لپاره بندي خانې ته ننوځي. ډاکټرانو د معایناتو بّ خاطر د حامد له ستوني او د پـزې له لارې له د ماغ څخه سمپل واخیست، کله چې وتل، یوه یې حامد ته وویل:

- تر څو چې دې د ټسټ پایله راځي درې، څلور ورځې باید دلته پاتې شې!

خو دا درې څلور ورځي، څلور ویشت ورځو ته اوږدې شوې. حامد چې سهار له خوبه را ویښ شو، خپل تصویرونه یې پر فېسبوک پاڼو ولیدل.

لنډ خو مهم خبر و، « په افغانستان کې پر کرونا لومړی اخته کس په هرات ښار کې وپېژندل شو ».

په دوام یې د عامې روغتیا وزیر له خولې ویل شوي و: « د کرونا لومړی پېژندل شوی سړی تازه د ایران له قُم ښار څخه هرات ته راغلی دی».

فېسبوک د حامد له عکسونو څخه ډک و. په دې وخت کې له کابل، ایران، المان، مزار، تخار او بدخشان څخه حامد ته زنګونه پیل شول، خلکو به پوښتنه کوله : «حامده! ژوندی یې؟»

د حامد په وینا ډېری زنګونه د همدردۍ له امله نه ، بلکې د دې لپاره وچې کرونا زه وژلی یم کنه ؟ حامد خپل موبایل بند کړ.

حامد د کرونا له امله ډېـــر مشهور شو. ۲۴ ورځې تېرې شوې، حامد روغ شو او کور ته راغئ. اوس په خپل درې غوږي دوکان کې ناست دی او ماته وایي :



- وروره له مړکي کولو بښنه غواړم، نه غواړم خپل قسم مات کړم!

# د پلار مینه

ډاډه یم  چې د فراه ګرمي په هغو ورځو کې له څلوېښتو، دوه څلوېښتو لوړه وه، خو پلار مې له یخه لړزېده. وروسته یې سخته تبه شوه. مور ډ شکي شوو چې کرونا نه وي نیولی، خو ټولو غوښتل چې دا خبره پټه کړي. بس دا یوه خبره کېده:

- ان شاالله چې ښه به شي، عادي تبه ده.

خو مابه په خپل زړه کې وویل:

- هسې نه چې کرونا وي؟

په رښتیا سره د دې خبرې د منلو جرأت مې نه درلود. نه یوازې ماته د ټولې کورنۍ غړو ته یې منل سخت وو. هسې نه چې کرونا زموږ کور ته راغلې وي.

په هغه ورځ مو غوښتل «باغ پل» ته واده ته ولاړ شو خو په دې حالت کې معلومه نه وه چې ځو که نه. په دې خو پوهېدو چې پلار مې نه ځي، خو مور مې واده ته د تګ او له پلار سره د پاتې کېدلو تر منځ دوه زړه شوې وه. پلار مې په عادي ژوند کې هم له مور سره، په تېره بیا خو زموږ له مور سره بد چلند کاوو. په وېره کې وو چې ، له پلاره پوښتنه وکړو چې واده ته لاړ شو او که نه ؟

مور مې وېرېدله او واده ته د تګ خبره یې زموږ پلار ته نشوای کولای. داسې خبرې به اکثـر په شخړه بدلېدلې او په پای کې به هرڅه ګډوډ شول. بله خبره دا وه چې که خدای مه کړې په پلار مو څه وشي بیا به ټول خلک موږ ملامتوي چې پلار مو په تبه کې سوځېده، ستاسو وجدان څنګه ومنله چې واده ته لاړشئ.

د کورنۍ لپاره دا خبره تر کرونا هم سخته وه خو مور مې موږ ته راغبږ کړ:

- تاسو مو جامې بدلې کړئ چې ناوخته کېـږي، زه بیا وروسته په تاسو پسې درځم.

پاک کالي مو واغوستل او نوي بوټونه مو پر پښوکړل. د جامو په اغوستو سره مې مور بیا ماته وویل:

- ګوره بیا هم سلمانۍ ته نه ولاړې.

پر سر مې یې لاس راکش کړ، ما وویل:

- د ښوونځي تر پیل کېدلو وخت لرو، سلمانۍ ته به هم لاړ شم.

مور مې وویل:

لکه ځناور داسې ښکارې، یو ځل خو په هنداره کې وګوره.

پر لاس مې ویښتان پورته کش کړل. ومې ویل:
- کومه دې پیسې؟ سلماني ته په څه شي لاړ شم.
- خو پرون مې پنځوس افغانۍ درکړې، څه شوې؟
- فوټبال.
- فوټبال نو څومره مصرف لري؟
فوټبال په اونۍ کې کابو پنځوس یا شپېته افغانۍ مصرف درلود. که مو د مېوې اوبه او شېدې هم څښلې ، مصرف له دې هم زیاتېده.
مور مې بیا پر سر لاس راکش کړ او ویې ویل:
- په دې څېره دې واده ته څنګه ځې ؟
ما ځان ترې خلاص کړ، غوښتل مې د دروازې خواته لاړ شم چې مورمې غږ راپسې وکړ:
- ته ښه یې، له پلار څخه دې پوښتنه وکړه چې ځې او که نه؟
پلار مې هماغسې اوږد پروت و، له ما سره یې د مور خبرې اترې واورېدلې. له هماغه ځایه یې ځواب راکړ:
- هغه متل دی چې، وزه ساه وتو ته او قصاب یې وازدې ته په چورت کې و. ټول لاړ شئ، زه ښه یم. که مړ شوم، یو به پیدا شي چې د مرګ خبر مې درکړي.
زه چې په دروازه کې ولاړ وم، مور مې راته وویل:
- یو هم واده ته نه ځو،کېدای شي ټول روغتون ته لاړ شو.
د فراه ولایت روغتون په دې وختونو کې له ښار څخه د لېوا خواته لېږدول شوی و. پوه شوم که روغتون ته تګ شي بیا نو واده پاتې دی. ویل کېدل چې د کرونا روغتون یې هم د ولایتي روغتون تر څنګ جوړ

کړي. هغه ځای ته د تګ لپاره مو باید رېکشا دربست کړې وای.
مور مې راته وویل:
- ولاړ شه یوه رېکشا راوله چې روغتون ته ځو.
پلار مې څه ونه ویل.
رېکشه وان وویل:
- زه د کرونا ناروغ نه بیایم.
ومې ویل:
- چا ویلي چې کرونا دی؟
رېکشه وان مې پلار ته اشاره وکړه:
- له حالت څخه یې معلومېږي چې کرونایي دی، ولې امبولانس نه راغواړئ؟ وړیا به مو بوزي.
دا یې چې وویل، رېکشا ته یې رېز ورکړ او لاړ. په چټکۍ سره له موږ وتښتېده.
تر اوسه مو هېڅ په یاد نه وو چې د کرونا روغتون، ځانګړې شمېره لري. له یوې تبلیغاتي پاڼې مو د امبولانس شمېره واخیسته.
امبولانس چې راورسېد، له سپینو جامو، ماسک او عجیبو عینکو سره یو کس ترې راکوز شو. زما له پلار څخه یې وپوښتل:
- نوم دې څه دی پلار جانه؟
پلار مې ځواب ورکړ:
- دستګیر خان.
- څو کاله عمر لرې پلار جانه؟
د پلار ږیره مې تار تار سپینه شوې وه، مور به مې په دې وروستیو کې

ویل چې : « پلارمو پنځه پنځوس کلن دی ».
پلار به مې د مور د دې خبرې په ځواب کې ویل:
- هو زه دې د نیکه په عمر وم چې له تا سره مې واده وکړ.
مور به مې د پلار څېرې اوخېتې ته په اشارې ویل:
- نه، ته څوارلس کلن ځوان وې ،هههههههه.
د پلار نیم وزن مې د ده خېټه وه. کله چې نرسانو هغه پر چپرکټ څملاوو، د هغه له دروند وزن څخه شکایت وکړ. څلورو کسو په سختۍ هغه تر امبولانسه یووړ. مور او مورې هم ورپسې ولاړو. مور مې مورې ته وویل:
- تاسو چېرته ځئ؟ کور کې کېنئ !
پلار مې له امبولانس څخه راغږ کړ:
- پـرېږده چې راشي.
مورې ته یې وویل:
- راځئ.
د امبولانس د ننه یو ډاکټر وویل:
- له یوه پایواز څخه زیات نه پرېـږدي.
مور مې امبولانس ته وختله خو د امبولانس ډاکټر وویل:
- تروري ! د نارینه وو په واډ کې ښځینه پایوازانې نه پرېـږدي.
مور مې وارخطا شوه، پلار ته مې په سوالیه انداز وډونګېده. پلار مې په تشویش سره نرس ته وویل:
- اجازه ورکړه چې راسره لاړه شي، هیله کوم. دوی په کور کې یوازې وېرېـږي.

مور مې وویل:

- د ننه واړ ته نه ورځم، د باندې په روغتون کې به کېنو، خیر دی!

د پلار او مور په دې خبرو اترو کې مې یو داستان په یاد راغئ «مینه بېل ډولونه لري».

نرس غلی شو او موږ سپاره شوو. مور مې د پلار پښو ته کېناسته، زه یې سر ته نږدې کېناستم او نرسان په مخامخ څوکۍ کې ناست وو. د فراه د کرونا روغتون یې له ښاره دباندې د حوزوي روغتون تر څنګ جوړ کړی و ، کافرغره ته څېرمه. د فراه له هوایي ډګره چې تېرېدو هېڅ الوتکه پکې نه وه. د کرونا روغتون شاوخوا څو ډبرینې غونډۍ او د فراه د نورو دښتو په څېر، وچې دښتې وې. نیم ساعت وروسته روغتون ته ورسېدو. له روغتون څخه د کافر غـره څوکې لیدل کېدې. د روغتون پر یوه لوحه لیکل شي و. د پروژې پیل : د ۱۳۹۹ کال د غویي لومړۍ نېټه

د پروژې پای : د ۱۳۹۹ کال د غویي ۳۰ مه نېټه.

پلار مې د امبولانس پر کټ پروت و، د دې په خاطر چې پر حالت یې پوه شم ، ورته ومې ویل :

- د کرونا روغتون یې په دېرشو ورځو کې جوړ کړی دی.

پلار مې سترګې چت ته نیولې وې، له ځان سره یې وویل:

- پیسه بد شی ده ، چې پر ډبره یې کېږدې، ډبره اوبه کوي.

روغتون دوه تعمیرونه لرل چې یو یې اداري برخه او بل یې د ناروغانو برخه وه. موږ یې د ناروغانو برخې ته رهنمایي کړو.

که رښتیا ووایم له وړکوالي مې روغتون نه خوښېږي. په تېره بیا خو

د کرونا روغتون. چې د روغتون نوم واورم ، انې ( نیا) مې را په یاد شي چې له روغتون څخه یې هدېـــرې ته یووړه.

امبولانس ته  په راختو اوس پښېمانه وم. مور لا د روغتون په انګړ کې و، څومره چې روغتون ته نږدې کېدو وېره مې زیاتېدله او حالت مې خرابېده. پلار راڅخه هېر شو او پر خپل ځان شوم.

د ګناه احساس مې وکړ، خپل پلار ته مې ور ټیټ شوم او لاس مې یې ونیو. پلار مې مسک شو. ما د خپل پلار خندانه څېره ډېره کمه لېدلې وه. لږ مې حالت ښه شو، خوشحاله شوم چې بالاخره پلار مې په ژوند کې ماته موسکا وکړه.

امبولانس ودرېده. د امبولانس دروازه چې پرانیستل شوه دوه تنه ډاکټران راغلل چې دوی هم وېروونکې جامې یې اغوستې وې. مور مې هغوی ته وویل:

-کرونا نه دی ، صرف شکریې پورته شوی.

له ډاکټرانو یوه یې وویل :

- چې کرونا نه دی نو ولې مو دلته راوستی ؟

بیا یې مور ته وکتل او ویې ویل:

- ولې ماسک نه لرئ ؟ ماسک مو واغوندئ !

دوه ماسکونه یې راکړل. ماسک مې په مخ کړ، ساه مې پکې بندېده.

په پلار پسې ولاړو، پرچپرکټ پروت و. حالت یې شېبه په شېبه خرابېده. مور مې ډېره بېړه درلودله ، کټ ته به یې ورغله  او ویل به یې:

- شکر دې  په ځای کې را ناست دی، ان شاالله کرونا نه ده.

په روغتون کې یې دوا یې شیندلې وه، یو رقم بوی و. یوه نرس مې

مورته اجازه ورنکړه چې له دې وړاندې ولاړه شي. زما پلار یې د سالون وروستۍ برخې ته یووړ. دهلېزونه کاشي و، پر دېوالونو ښه رنګونه کارول شوي و. پر دېوالو او دروازو مې د ژېړ او آبي رنګونو په لیدلو یوه شېبه ښه احساس وکړ. رنګونه د سړي پر روحیه ښه اغېز لري، که څه هم دا اغېز لنډمهاله و. کله یې چې پر موږ دروازه بنده کړله او پلار مې یې یوازې دننه یووړ، هغه د لږ وخت خوشحالي مې هم ورکه شوه او بیا په پلار پسې خپه شوم. په دې وخت کې یې له هغې کوټې چې زما پلار یې وردننه کړ، یو کس پر چپرکټ کې راویوست. سړی مړ و او پر سر یې سپین ټوکر ور اچولی و. ماته مې انۍ (نیا) را په یاد شوه ، د ښار هدېره او د انۍ جسد ...

چپرکټ یې د باد په څېر زما له څنګه تېر کړ، نږدې و چې ما لاندې کړي، شاته شوم او دېوال ته ودرېدم. مورمې د دهلېز په پای کې پر څوکۍ ناسته وه. د مړي له چپرکټ څخه یې مخ واړاو او پر دېـوال یې لاس کېښود. زه بې طاقته شوم، په دهلېزونو کې چې به ګرځېدم د هرې برخې کوټو ته مې دننه ورکتل. دروازې پرانیستې وې، بې اختیاره مې واړونو ته ورکتل. د وارډ ونو د ننه ځای د موزیم په څېر و، ویل به دې چې سړي یې مومیایي کړي دي. ناروغان پر چپرکټونو او څوکیو کې ناست ول. ځینو یې له کړکۍ دباندې کتل، ځینو ته خواکسیجن چالان و او په سختۍ یې ساه اخیسته.

د دې ناروغانو لیدل وحشتناک و، کرونا وېره درلوده. که رښتیا ووایم له ناروغانو به مې ژرسترګې واړولې او خپلې لارې ته به مې دوام ورکړ. ګډوډ وم ، پلار ته خپه وم. سترګې پر یوې نرسي ولګېدې. د

ناهیلۍ په داسې وخت کې، په سپینو جامو کې د یوې ښکلې نجلۍ لیدل د ژوند نښه وي. یوه شېبه مې داسې احساس وکړ چې د وحشت او وېرې په تونل کې تللی ژوند مې بېرته راستون شو. د کرونایي نړۍ په تیارو کې مې داسې احساس کاوو چې ژوند روان شو او د ژوند زړه درزا کوله. له ماسک سره د نجلۍ سترګې لا تورې او ښایسته معلومېدلې، یوازې دوې سترګې او بس. کله چې ماته را نږدې شوه، بې اختیاره مې موسکا وکړه او هغې ته مې سلام ورکړ. ویل به دې چې د هغې په لیدلو مې په رګونو کې وینه پیدا شوه او ژوند ته راستون شوم. هغې ته مې سلام ورکړ او موسکا مې وکړه. سلام مې هم بې اختیاره و. هغې ته به یو لېونی معلوم شوی یم . زما د سلام له ځواب پرته یې په حیرانۍ راته کتل ، لکه یوه لېوني ته چې سړي ګوري. له ما تېره شوه او ما ترهغه پسې کتل تر څو کوټې ته دننه شوه. د کوټې شمېره ۹ وه.

له څو ساعته وروسته یې ماته اجازه راکړه چې د پلار لیدلو ته مې ورشم. خو له ځانګړو بوټونو او ماسک سره. پلار مې پر چپرکټ غزېدلی و. څېره یې سپینه او ماشومانه را ته ښکاره شوه. د مور خبره مې را په یاد شوه چې یو وخت یې راته ویلي و:

-کله چې انسان ته مرګ رانږدې شي، څېره یې خپل ماشومتوب ته ورته شي.

دا مې د مور یوه خبره وه خوعلمي نه وه. پلار مې چې زه ولیدم ویې خندل. سترګې یې وبرېښېدې. نه پوهېږم چې د مینې نښه وه او که د ستړیا، لاس یې را اوږد کړ او ویې ویل:

- صلا... !



زما نوم صلاح الدين و، خو پلار مې صلا راته ويل. لاس مې يې په لاس کې ونيو، د لاس هډوکي يې داسې معلومېدل چې که لږ فشار ورکړم، مات به شي.

د لاسو پوستکو يې گونځې کړې وې. رگونه يې له سيروم څخه ډکو پيپونو ته ورته وو چې وينه پکې تله راتله. مسکی شو او وې ويل :

- خوشحاله شوم چې راغلې زويه! فکر مې نه کاوو چې تاسو به دننه را پرېږدي.

غږ يې نرم شوی و. پوښتنه يې وکړه:

- مور دې څه شوه؟

ومې ويل:

- په دهلیز کې ده، یوازې یوه کس ته دننه اجازه ورکوي.

بیا مې هغه جمله په یاد شوه، «مینه بېلابېل ډولونه لري». مخ یې تاو کړ او بهر یې وکتل. بیا یې اسمان ته وکتل، له سترګو یې اوښکې راغلې. چوپتیا یې غوره کړه. له کړکۍ مې دباندې وکتل، سترګې مې په هغه نجلۍ ولګېدې چې په دهلیز کې مې لیدلې وه. یوې بلې برخې ته دننه شوه.

پلار مې یوه شېبه ماته په کتو سره وویل:

- اوس ښه معلومېږې.

ویې خندل. وشرمېدم، په وارخطایۍ مې وویل:

- چې ته مې ولیدې ښه شوم پلاره! د خدای شُکر دی ښه کېږې. ډاکټرانو ویل چې ژر به ښه شې، ان شاالله .

رښتیا چې سپین ږیري د مینې تږي وي ، په تېره بیا هغه وخت چې د مړینې احساس وکړي.

پلار مې یوه شېبه ماته وکتل، بیا یې بهر وکتل، بیا یې له سترګو اوښکې راغلې او د غوړو ترشا یې ورکې شوې. بیا یې ماته وکتل:

- صلا! لکه چې له دې ځایه هیڅوک ژوندی نه وځي ؟

د اتاق په کونج کې یې تش چپرکټ ته اشاره وکړه :

- یو کس همدا اوس مړ شو، تا ونه لید؟

ما څه ونه ویل. دروازه پرانیستل شوه، نجلۍ دننه راغله، ماته یې وویل:

- اجازه راکوې چې سیروم ورته ولګوم.

نجلۍ د شلو یا پنځه ویشتو کلونو وه، ماسک یې تړلی و، له رنګه

سپینه وه او تورې سترګې یې وې. ښه چلند یې یې کاوو. تر اوسه هېڅ نجلۍ له ما سره داسې ښه چلند نه و کړی. نرسي چې سېروم وصل کړل ویې ویل:

- تاسو مهرباني وکړئ پر څوکۍ کینئ.

زما رنګ لکه چې ژېړ شو، ځان مې ګرم شو، اوجو مې لکه د مني پاڼه داسې رېـږدېده. نجلۍ په خلاصه ټنډه سېروم وصل کړ او ویې ویل:

- که مو موږ ته اړتیا شوه ، زه په ۹ نمبر اتاق کې یم.

نرسه ووته او په دهلېز کې ورکه شوه. زموږ له کوټې چې وته، داسې احساس مې وکړ چې هرڅه یې له ځان سره یووړل. له تاسو یې څه پټه کړم؛ په زړه کې مې هیله وه چې کاشکې همدلته ناسته وای ترڅو چې سېروم پای ته رسېده خو د هغوی دنده داسې نه وه.

سېروم څک څک څکېده، د وخت تېرېدو په څېر ورو ورو. د نجلۍ دوې سترګې مې له سترګو د سېروم د څاڅکو په څېر تېرېدلې.

یووخت متوجې شوم چې پلار مې ماته ګوري. غوښتل یې ماته څه ووایي، خو تبوخي وخت ورنکړ. تبوخی یې زیاد شو. ما دهلېز ته منډه کړه، د فراه تودوخه کله کله له ۴۵ تر ۵۰ درجو هم رسېږي، خو د دهلېز هوا څه ناڅه ښه او یخه وه. منډه مې کړه د ۹ اتاق ورمې ټک ټک کړ، یو سړی ناست و، ویې ویل:

- څه خبره ده؟ خیریت دی؟

ومې ویل:

- نرسه چېرته ده؟

- د هغې شېفټ ( د کاروخت) ختم شو، څه دې ویل؟

شکي شوم چې کار مې درلود او که نه؟ ومې ویل:

- پلار مې ټوخېـــږي.

- دلته خو ټول ټوخېږي، ستونزه نشته. په کومه کوټه کې یاست؟

- د دهلیــز په اخېري کوټه کې.

کله چې بېرته راغلم پلار مې په ټوخي کې راته وویل:

- چېرې لاړې؟

بیا یې لاس زما لوري ته اوږد کړ. لاس مې یې ونیو. په داسې حال کې یې چې زما په لاس یې زور کاوو،ویې ویل:

- په یاد یې لره زویه! ...

خبرو یې زه وویرولم، وارخطا شوم چې څه پرې ونشي. هغه چپرکټ مې رایاد شو چې لږ وړاندې یې له همدې کوټې ایستلی و. زما لاس یې په لاسونو کې نیولی و، په پلرنۍ مینه یې راته ویل:

- دا ورځې تېرېږي، ته به لوی شې، درس به ووایې...


غږ یې غمجن و، داسې غمجن و چې ما په همدردۍ او دلدارۍ له خپل ځان سره څه ویل ، نامنظمي او بې مانا خبرې مې کولې. پلارمې چې ماته کتل، سترګې یې عجیبه معلومېدې. تر هر وخت راته مهربان معلوم شو خو سترګې یې له اوښکو ډکې وې او هروخت یې د دې امکان و چې له اوبو د ډکې کاسې په څېر راوڅاخي. بیا ووېرېدم، غوښتل مې چې دباندې لاړ شم او له روغتون څخه ووځم.

سترګې یې راواړولې، زما پر لاس یې زور وکړ. په ژوند کې مې د لومړي ځل لپاره مینه ولیدله، دا نه سینمایي مینه وه، نه د رومان او داستان مینه وه، نه د ټلویزیوني سریالو مینه، بلکې دا مې پلارمینه وه ، پاکه او

سپېڅلې مینه. بیا یې ماته یې وکتل. هڅه یې وکړه چې څه ووایي خو ټوخي یې بیا خبر بنده کړه. یوازې پوه شوم چې ویې ویل:

- پر مور دې پام کوه...

ساه یې لږ لږ بندېدله، پر بالښت ولوېد. هغه سړی چې له ما سره راغلی و، د اکسیجن ماسک ته یې ورمنډه کړه. بې اختیاره ورتیټ شوم او د پلارلاسونه مې ښکل کړل. لاسونه یې د پانډو په څېر وچ شوي و، سترګې یې پټې کړې. لږ صبر مې وکړ، داسې ښکارېده لکه ویده چې وي. ساه یې ارامه شوه. خدای ته مې زارۍ کولې چې پلارمې جوړشي. خو پلار مې بله خبره ونکړه. غوښتل مې چیغې کړم؛ « پلاره زه یم، صلا!» خو ووېرېدم چې څواب به رانکړي. له کوټې ووتم. په دهلېز کې روان وم. نور مې په دهلېـز کې د هغې نجلۍ او د ماسک پر سر د هغو تورو سترګو په هکله فکر نه کاوو، ځکه چې د پلار غم درووند و.



د عارف پلار

له څو ورځو راهیسې د کلي د خلکو ترمنځ دا کیسه ګرمه و چې د عارف پلار کرونا نیولی. په دې کلي کې به چې څوک سره مخامخ شول، لومړی به په خندا شول بیا به یې پوښتنه وکړه:

- د عارف له پلاره خبر یې؟

- نه ، څه شوي؟

مخامخ کس به ویل:

- کرونا نیولی!

د عارف د پلار په کرونا کېدو به ټولو کلیوالو خندل.

- هغه بله شپه دې په یاد ده ، د عارف پلار څه ویل؟

و به مې ویل :

- په یاد مې دي، ویل یې چې مه ډارېــږئ ، کرونا مسلمانان نه نیسي.
وبه مو خندل، بیا به یو بل وویل:
- هو، څنګه ډاډه لګیا وو، ویل به یې چې که کرونا رښتیا وي ما دې ونیسي.
ما به د خبرو د تودولو لپاره وویل:
- کله بلا جدي ونه ګڼې ، په بلا اخته کېږې!
مخامخ کس به ویل:
- داسې خلک ښه دي چې ویې نیسي.
یوه بل کلیوال به د دې خبرې په تایید سره وویل:
- دوی دې ونیسي چې نور پند ترې واخلي، چې باور یې وشي ، چې کرونا دروغ نه ده.
بیا به یوه بل کلیوال وویل:
- هغه د حاجي اسماعیل په کور کې شپه دې په یاد ده ، د عارف پلار څه ویل؟
ویل مې:
- هو، ټولې خبرې یې راته یاد دي!
هغه شپه مې په یاد وه. د جمعې شپه وه، موږ کلیوال د حاجي اسماعیل کره را غونډ شوي و چې کلي ته په ګډه دعا وکړو. له څو کالونو راهیسې، هماغه د تنظیمي جګړو راهیسې په لعل ولسوالۍ کې دا دود دی چې د کلي خلک د جمعې په شپه په یوه ځای کې را ټولېږي او په ګډه دعا کوي.
خدای او وس ، د هرچا چې څه په توان کې وي کلیوالو ته یې

پخوي. له ډوډۍ وروسته لومړی په ګډه دعا کېـږي او بیا نورې خبرې پیل شي. څوک په تجارت کې ، څوک د کلي په ورانه ودانه، څوک د نرخونو په لوړوالي ، څوک بیا د وطن په حالاتو او ځینې خویې ان په نړیوال سیاست خبرې او تبصرې کوي.

دعا ته راټول شوي کسان له خپلې پوهې سره سم د هېواد او نړۍ په حالاتو خبرې کوي. له تلویزیون او راډیو څخه یې چې څه اورېدلي وي خلکو ته یې کیسې کوي. کله کله ځینې بحثونه دومره تاوده شي چې پر شخړو پای ته ورسېږي خو تر بلې اونۍ او تر بلې دعا هېر شوي وي. کلیوال له کینې پرته ، بیا د دعا لپاره راټولېـږي. له دې ټولو خبرو سره سره کلیوال په یوه خبره اتفاق لري ، هغه دا چې د دعا اصلي موخه یې د کلي د خلکو سلامتي ،خیر او برکت دی. په دې اړه یو چا شعرویلی:

« د سهار دعا او د شپې زارۍ ، د غوښتل شوي ګنج کیلي ده ».

یوه ورځ حاجي اسماعیل په جومات کې له خلکو پوښتنه وکړه:

- هغه د کرونا کیسه کوم ځای ته ورسېده ؟

یوه کلیوال ځواب ورکړ:

- اوازو خو یې دنیا نیولې خو د شیطان غوږونه دې کاڼه وي، د خدای شُکر زموږ د خلکو غوږونه ترې بې غمه دي.

له ناستو کسانو یوه یې وویل:

- زموږ وسوالي لېري پرته ده، تر څو چې کرونا غورولایت ته رارسېـږي، بیا لعل ولسوالۍ ته راځي او بیا زموږ کلي ته رارسېـږي، کرونا ویروس به ورک وي. بې غمه اوسئ !

ملا صیب چې د جومات په محراب کې ناست و، وې ویل:

- که له ایران څخه څوک رانشي، په بل رقم کرونا دا ځای، ان شاالله نشي موندلی. دعا وکړئ چې الله یې په هغو لېـري ځایوکې ورکه کړي، امین ثما امین.

استاد ممدلي چې په لیسه کې ښوونکی و، وویل:

- رښتیا دا دي چې کرونا د امریکا او چین تر منځ اقتصادي جګړه او سیاسي لوبه ده. امریکا ویروس جوړکړ په چین کې یې وشینده چې په دې توګه د چین د اقتصادي ځواک مخه ونیسي.

صفرمحمد وویل:

- اوس خو خپله امریکا تر بل هر ځای ډېرې مړینې لري.

استاد احمد چې ځاه کیندونکی دی، ویې ویل:

- څوک چې بل ته ځاه کاږي پخپله به په ځاه کې لوېـږي.

خلک په خندا شول، یوه وویل:

- احمد استاد له خپلې دندې ښه بېلګه وړاندې کړه.

ټولو ناستو خلکو وخندل. ملا غږ وکړ:

خدای دې دوی په خپلو کې سره واچوي، شاید نړۍ د دوی له شره خوندي شي.

حاجي اسماعیل وویل:

- خو لوګی یې ټولې نړۍ ته رسېـږي ملا صېب !

استاد ممدلي د صفرمحمد په ځواب وایي:

- له شک پرته چې امریکا پکې ښکېله ده، دا ویروس یې جوړ کړ چې چین له پښو وغورځوي خواوس یې خپله تر ستوني نیولې.

حاجي اسماعیل وویل:

- امریکا او چین پرېـږدئ، راځئ خپل فکر وکړو، یو تصمیم ونیسو، په خپله ناسته ولاړه کې احتیاط وکړو او که اړتیا شوه چې ځانونه قرنطین کړو.

په دې توګه د خلکو تر منځ د کرونا خبره رایاده شوه. حاجي اسماعیل چې د کلي په هر کار کې د چارو تنظیموونکی او وروستی تصمیم نیوونکی و، وړاندیز یې وکړ چې د کرونا ویروس له خپرېدو د مخنیوي لپاره، ښه ده ځانونه او اولادونه قرنطین کړو:

- ټوله نړۍ قرنطین شوې، که زما منئ ، ښه ده چې یو څه وخت موږ هم دعا پرېږدو. د ځان ساتنه واجب ده.

د عارف پلار وویل :

- څه اندېښنه کوئ، موږ شُکر پر سر خدای لرو، زما په خیال که پر الله توکل وکړئ، د الله په فضل هېڅ خبره هم نشته! که زموږ او ستاسو پر خدای لږ هم ایمان او عقیده وي، زه قول درکوم چې ویروس میروس به نږدې رانشي.

صفر محمد وویل:

- د عقیدې او توکل مسئله جدا ده ، ناروغي او ویروس بل څه دي.

د عارف پلار وویل:

- خبر نه یې، په هرات کې ملا وویل چې کرونا مسلمانان نه نیسي؟ موږ ځانونه مسلمان ګڼو باید ونه وېرېږو!

صفرمحمد وویل:

- وبا مسلمان او نامسلمان نه پېژني. کرونا د چا پوښتنه نه کوي ، سیده دې له پښو غورځوي!

د خلکو په خندا کې د عارف پلار وويل:

- کليمه وواياست، لږ خپل ايمان کامل کړئ، انديښنه يې مه کوئ! ولې ، زموږ دا دعاګانې د دې لپاره نه دي چې موږ د دې بلاګانو له شر څخه وساتي؟ که باور نه لرئ ولې دعا ته راځئ. څه جبر دی چې ځان په عذاب کړو؟ که په غيبي مرستو باورلرئ، راشئ. په خدای توکل وکړئ او د شاه اوليا په زيارت باور ولرئ.

د ديني مدرسې شاګرد ته ورته يوه ځوان د جومات له يوې بلې څنډې وويل:

- د عارف پلار رښتيا وايي، موږ که د ويروس له امله، چې هغه هم د کافرانو پرلاس جوړشوی جومات ته لاړ نشو، دعا پرېږدو، حج بند کړو، نو ده چې نور نو ځانته مسلمان و نه وايو.

صفر محمد ځواب ورکړ:

- احساسات دې کنټرول کړه، دا مسئله زموږ په عقيدې او اسلاميت پورې هېڅ اړه نه لري، حتی حج يې رخصت کړی، زموږ دعا خو ترحج لوړه نه ده.

ملا صيب د هغه په تاييد وويل:

- په تاريخ کې راغلي چې د طاعون او وبا په څېر ناروغيو او د طبيعي افتونو له امله تراوسه اووه ځلې د حج مراسم رخصت شوي دي.

د عارف پلار وويل:

- که د هغوی عقيده رښتيا له زړه څخه وای، په قران يې باور درلودلی، حاجيانو ته به يې اجازه ورکړې وه چې طواف يې کړی وای. که هغوی په قران کې پر «طيراً ابابيل» باندې باور درلودی، د حج مراسم به يې نه

بندول.

هغه ځوان بیا غږ کړ:

- ابرهه له هغه ټول لښکر سره، له فیله تر آسانو پورې، څنګه تبا شو؟ د خدای زور څوک نه لري.

د عارف پلار د ځوان خبرې تایید کړلې:

- هی تر خوله دې جار شم، تر څو چې ابرهه مکې ته نږدې کېده ، د پروردګار په امر ابابیل مرغۍ نازلې شوې. د خدای په امر سره یې د مې یا نخود په اندازه ډبرې له پاسه په ابرهه وورولې. د سترګو په رپ کې یې ټول لښکر دړې وړې شو.

حاجي اسماعیل ځواب ورکړ:

- تاسو چېرې تللي یاست، خبره بل لوري ته مه ولئ، داسې څه له یو بل سره مقایسه کوئ چې نه د عطار په قوتي کې ځایېـږي نه ...

د عارف پلار ځواب ورکړ:

- دا دی زه پخپله، د الله په مرسته، نه ماسک اچوم او نه یې هم پروا لرم. کرونا دې راشي ما دې ونیسي، د خدای په زور او د دعاګانو په برکت ماته نشي نیولی.

په همدې وخت کې ټولو وخندل.

د عارف پلار د خلکو په خندا سره حیران شو او وې ویل:

- که تاسو په رښتیا پر خدای او قران عقیده لرئ، که په رښتیا او د زړه له کومې دعا ته حاضرېږئ، باید و نه وېرېږئ! دا دی زه وعده کوم چې کرونا خو لا پرېـږده چې خپله ټرمپ هم راشي ان شاالله پر ما به هېڅ هم ونکړي.

په مجلس کې ناستو کسانو چې د عارف د پلار جوش و خروش ولید، مناسبه یې وګڼله چې چوپ پاتې شي. د عارف پلار د خلکو په چوپتیا کې دوام ورکړ:

- زه وایم چې تاسو مه ډارېږئ دعاګانو ته ادامه ورکړئ، که کرونا زموږ لوري ته راتاو شوه، زه به خپله بړیره د ټولو تر مخ وخرییم.

ملا د مجلس ختم اعلان کړ:

- مجلس ختم دی له خیره، درود وواياست چې رخصت شو. خلک د درود په ویلو له ځایه جګ شول. ملاصیب خلکو ته چې دروازې پرلور روان ول وویل:

- هرسړی اختیار لري چې له کرونا څنګه ځان ساتي.

اوس چې د عارف پلار کرونا نیولی، دباندې نه راوځي، کنه نو کلیوال یې ډېر یادوي.



# کرونا او استاد مهدي

له  کله چې په هرات کې د کرونا دراتګ اوازه شوه،استاد مهدي له خلکو سره د مرستې، د ویروس د خپرېدو د مخنیوي او د دې ناروغۍ له خپرېدو سره د مقابلې په فکر شو. استاد مهدي د پوهنتون استاد او د ډېرو ځوانانو لپاره د انسانیت یو ښه مثال و. په خپله سیمه او ښارکې یو پېژندلی سړی و. اوس چې کرونا وبا راغلې وه، پوهنتون له ټولو پاتې و.استاد مهدي له ډاکټرانو سره د مرستې لارغوره کړه، تردې چې د روغتیایي چارو پر یوه تبلیغ کوونکي بدل شو.

په دې شپواو ورځو کې استاد مهدي له کرونا ویروس سره د مقابلې په موخه د خلکو په همغږۍ کارکاوو. هري سیمې ته به ته او د کرونا وبا له خطرونو یې خلک خبرول. خلکو ته به یې په دې اړه پوهاوی

ورکاوو او له خلکوبه يې غوښتل چې د ډاکټـرانو خبروته غوږ کېږدي. ماسک واچوي، خپل لاسونه ومينځي، او په يو ځای کې له راټولېدلو ډډه وکړي.

د دې کار لپاره يې يوه تګلاره جوړه کړې وه. د روغتيايي چارو د پوهاوي يو ټيم يې جوړ کړی و، د هرات ښار په  بېلا بېلو سيمو کې به ګرځېدل او خلکو ته يې د کرونا په اړه پوهاوی ورکاوو. پرون ماښام استاد مهدي په خپله حويلۍ کې د يوه ليک په ليدو نا ارامه شو. ويل به دې چې ليک نه دی، د ټول انسانيت د مړينې پيغام دی.ليک په ښکلي خط د کتابچې پر پاڼه ليکل شوی و. لومړی خو استاد مهدي فکر وکړ چې کاغذ به باد راوړی وي خو کله چې سم ورته ځيرشو د پاڼې په بل مخ ليکل شوي و: « استاد مهدي ته دې ورسيږي...».

پرکاغذ ليکل شوي و : الف، لکه اوبه، ب، لکه بابا، ز،لکه زندګي، ک ،لکه کرونا، م، لکه مرګ او .......... ن ، لکه نان.

د يوه بالغ سړي خط مالومېده. ليک لنډ و خو له درده داسې ډک و چې استاد يې په لوستو خپه او هک پک شو.په ولاړه يې ليک څو ځلې ولوست، بيا بيا يې ولوست،له سترګو يې اوښکې وڅڅېدې. ليک يې بيا ولوست. ليک يو دردوونکی وصيت ته ورته و. يوه تريخ  ژوند ته يې هنداره نيولې وه. په ليک کې ليکل شوي و:

« قدرمن استاده ! که مړ شوم، خلکو ته ووايه چې د شرعت مطابق غسل راکړي. د جنازې د لمونځ امامت مې ته وکړه او په قبر کې مې هم ته  کېـــږده. له کرونا به نه يم مړ خو کېدای شي له لوږې مړ شم».

استاد مهدي اوس له بېوزلو سره د مرستي په پلان کار پيل کړ. موبايل

ته يې زنګ راغی. له هغې ورځې چې کرونا پیل شوې وه، د استاد مهدي ټلیفون یوه ورځ هم ارام نه و؛ په یوه پسې به بل زنګ راغی، یا به یې په خپله خلکو ته زنګ واهه. د یوې میاشتې لپاره به یې زر دقیقې واخیستې، میاشت به نه وه پوره چې له مخابراتي شبکې به پیام ورته راغی چې کرېډېټ مو پای ته رسېدلی. ډېرې اړیکې به له قومي اتحادیو، د سیمې له ډاکټرانو او روغتونونو سره وې.

له څو ځله زنګ وهلو وروسته استا مهدي ځواب ورکړ:

- بلې.... مهرباني وکړئ ! .......... کوم هوټل ؟ دا چېرته دی؟

- په خپله سیمه کې مو، هشت متری ته څېرمه؟

- سمه ده، همدا اوس درځم.

استاد مهدي چې کاپي شاپ (کوچنی هوټل) ته ورسېده په دروازه کې یې یوه زده کوونکی چې عصمت الله نومېده انتظارکاوو. عصمت الله له احترام وروسته استاد ته وویل:

- استاده ! موږ خو ونه توانېدو چې د ویروس دغه مرکز بند کړو، شاید له تاسو وشرمېږي.

استاد مهدي پوښتنه وکړه:

- څه وایې؟ ولې یې نه بندوي؟

- وایي موږ په قرنطین کې نه راځو.

- دوی د حکومت او قومي شورا له فیصلې خبر نه دي؟

- خبر دي استاده، خو ځان نه پوهوي.

- فیصله شوې چې هغه ځایونه چې خلک پکې راټولېږي باید بند شي.

استاد دا وویل او سیده کافي شاپ (کوچنی هوټل) ته د ننه شو، پوښتنه یې وکړه:

- د دې کافي شاپ مدیر څوک دی؟

د مېز له شا څخه یو ځوان سړی را پورته شو استاد ته یې سلام ورکړ او ویې ویل:

- زه یم، امر وکړئ!

استاد مهدي په موسکا ځوان ته وویل:

- تاسو له کرونا خبر نه یاست؟

- خبر یوو.

- تاسو خبر نه یاست چې هغه  ټول ځایونه چې هلته خلک راټولېـــږي باید بند شي؟

- خبر یوواستاده! خو دا ځای د زده کړو د خدمتونو مرکز دی.

استاد مهدي په موسکا پوښتنه وکړه:

- څنګه زده کړې؟

ځوان هغو مېزو ته په اشارې سره چې د ځینو تر شا یو کس او د ځینو ترشا دوه کسه ناست و، وویل:

- تاسو به خبر یاست او که نه، د زده کوونکو درسونه انټرنټي شوي، دوی انلاین درس وایي...

- زه خپله په پوهنتون کې خدمت کوم، خبر یم چې درسونه انلاین شوي دي، خو ستاسو مرکز خو کافي شاپ دی.

- ښه دی چې خبر یې استاده! دغه کسان چې تاسو یې ګورئ محصلین یا هم متعلمین دي. دوی راځي چې خپل درسونه دلته په انټرنیټ وګوري.

دوی ستاسو په شان په کورکې انټرنټ او لپ ټاپ ( کمپیوټر) نه لري.

استاد مهدي په دې خبر ځوان ته موسکی شو، ځوان خبره اوږده کړه :

- دا کسان چې دلته راځي، بېوزله محصلین دي، هغوی خپل درسونه له دې لارې وایي.

استاد مهدي خپله ټنډه د لاس په ګوتو ونیوه او ځوان ته یې وویل:

- ستاسو خبره سمه ده، خوهمدا پوهنتون چې تاسو یې یادوئ د کرونا له امله بند شو، که څنګه ؟

- هو، بند شو.

- ښه نو اوس دغه ځای د پوهنتون له ټولګیو سره څه توپیرلري؟ مقصد خو دا دی چې خلک یو ځای سره راټول نشي.

- د روغتیا ریاست پخپله وایي چې که واټن مراعات شي پروا نه لري، تاسو وګورئ ټولو واټن مراعات کړی دی. هر کمپیوټر له بل کمپیوټر سره یو نیم متر واټن لري.

استاد مهدي تراوسه هم پر(( بېوزله ) کلمې فکرکاوو، بې وزله محصلین ......

استاد له خپل بکس څخه یو کاغذ راویوست او وې ویل:

- وراره ! موږ په خپلو غونډو کې فیصله کړې چې، هغه ځایونه چې خلک پکې راټولېـــږي باید بند شي. په دې فیصله د سیمې ټولو خلکو لاسلیک کړې، تاسو هم باید د سیمې د شورا له فیصلې سره سم دا ځای بند کړئ.

ځوان ځواب ورکړ:




- زما خپل پلار د سیمې په شورا کې دی، که داسې څه وای، زه خوبه یې خبرولم. په هغه فیصله کې کورسونه او ښوونځي شامل دي استاده! په ټولګي کې خو پنځوس یا شپېته کسان راټولېږي. دلته خو له سهاره تر ماښامه ټول پنځوس کسه نه کېږي.

استاد پوښتنه وکړه:

- ستا پلار څوک دی چې د سیمې د شورا غړی هم دی؟

- وکیل فاروق خان، د ګذر وکیل دی.

- ته د وکیل صېب زوی یې؟ زه به اوس زنګ ورته ووهم.

څو شېبې وروسته وکیل فاروق د کافي شاپ مخې ته راورسېد. خلکو ته پردې لانجه نیم جشن ښکاري. دلته هم خلک د دې پېښې د لیدو لپاره

د کافي شاپ دروازې ته راټول شوي وو. وکیل فاروق چې له خپل موټر څخه راښکته شو، خلکو ته یې په کړس کړس وخندل او استاد مهدي ته یې وویل:

- څه خبره ده استاده!؟ خیرت دی، سم لښکر دې رایستلی؟

استاد مهدي ځواب ورکړ:

- خلک ما نه دې را ټول کړي وکیل صېب! یوه کوچنۍ مسله ده، که تاسو وغواړئ حل کېږي.

- نه پوهېږم، زه دې ولې احضار کړم، خیریت خو به وي؟

- اندېښنه مه کوه وکیل صېب! خیر وخیریت دی. راغلی یم چې له کرونا سره مبارزه وکړم، د حیرانتیا ځای دی چې ستاسو زوی له کرونا سره په یو صف کې ولاړ دی، نه یې مني.

وکیل فاروق بیا وخندل او استاد مهدي یې په اوږه ووهلو:

- استاده ګله! خدای دې وکړي چې د کرونا په پلمه خلک له روزګاره ونباسو. ګېډه له کرونا څخه ضروري ده.

وکیل خلکو ته مخ ور واړولو او ویې ویل:

دا خلک که کار ونکړي څه شی وخوري؟ داسې نه کېږي چې د خلکو کار او کسب بند کړو.

استاد مهدي ته بیا هغه د پرون شپې لیک او بېوزلي ورياده شوه، وکیل فاروق ته یې وویل:

- که کافي شاپ بند نکړو نو کورسونه هم باید پرانیستل شي، هغوی هم ډوډۍ غواړي. کورسونه چې پرانیستل شي، خصوصي ښوونځي هم باید پرانیستل شي، او که داسې وشي نو بیا قرنطین څخه مانا؟

وکیل د استاد خبره پرې کړه او وې ویل:

- که رښتیا غواړې چې کرونا بنده شي، ته خو یو څه ملا هم یې، د شرعیاتو استاد هم یاست، لومړی باید جومات او په جمع لمونځ کول بند کړئ. هلته خو ډېر سپین ږیري راځي او د کرونا گواښ ورته ډېر دی. تر څو چې جماعت او جوماتونه پرانیستي وي، فاتحې اخیستل کیږي، کرونا د یوه کافي شاپ په بندلو یا نه بندولو، نه بندیـــږي.

استاد مهدي وویل:

- د جومات مسئله توپیر لري،خلک یې نه راسره مني، څه وکړو.

په دې وخت کې وکیل فاروق خلکو ته وویل:

- دلته څه کوئ ؟ ځئ خپلو کارونو ته مو لاړ شئ.

بیا یې استاد ته وکتل او زیاته یې کړه :

- کرونا یوازې په همدې کافي شاپ کې ده؟

وکیل د خلکو په منځ کې د خپل موټر پر لور حرکت وکړ.

استاد مهدي په وکیل پسې غږ وکړ:

- ستاسو خبرې پر ځای دی وکیل صیب، اوس خوږ زموږ خبرو ته هم غوږ شه کنه! جوماتونه به هم وتړل شي، موږ په دې برخه کې له اختیار لرونکو دیني ادارو د فتوا اخیستلو په حال کې یوو، د فاتحې او ختم محفلونه به هم بند شي.

وکیل فاروق راوگرځېد او استاد ته یې وویل:

استاده! هر کله چې په جوماتونو کې په جمعه لمنځونه بند شول ، موږ به هم دغه کاپي شاپ بند کړو.

استاد مهدي له خپل بکس څخه یو کاغذ راویوست په لاس کې یې

جګ کړ او خلکو ته یې وویل:

- دغه دی موږ علماوو ته لیک استولی، د علماوو ځواب چې راشي جومات هم بندېږي.

وکیل فاروق وویل:


- له پوه سړي ځار شم، کله چې جومات او په جمعه لمنځونه بند شول، د کوژدنو او واده محفلونه بند شول، کافي شاپ او دوکانونه به هم بند شي.

وکیل فاروق چې دا وویل، په خپل موټر کې سپور شو داسې رېز یې ورکړ چې خلک یې د موټر په لوګو او خاورو کې پټ کړل.

استاد مهدي لا ولاړو، خلکو ته په موسکا وویل:

- وروڼو ! تاسو چې دلته راټول شوي یاست، که مو خپل ځان دربانديې ګران وي، یا مو خپل اولادونه او مېرمنې دربانديې ګرانې وي، هیله کوم چې له کرونا وبا ځان وساتئ. کرونا د هیچا پروا نه لري.

په دې وخت کې د ولاړ خلکو تر منځ ګنګوسې پیل شوې. استاد مهدي لا خبرې کولې چې خلک یو یو روان شول.استاد مهدي له همدې اولې ورځې، له کرونا سره د مبارزې ترڅنګ ، بېوزلو خلکو ته د ډوډۍ رسولو مبارزه هم پیل کړه .



# کرونايي تابوت

د خلیفه خدایداد  په کورکې د قرآنکریم د ختم په مراسمو کې و چې یو چا وویل:

- حاجي حسن هم مړ شو.

له څو ورځو را په دې خوا د سیمې د اتحادیې غړید حاجي حسن له ناروغۍ خبر و. زوم یې ویل:

- حاجې له خوراکه لوېدلی و او په مصنوعي اکسیجن ژوندی و.

له دې وړاندې هم خلک خبرو چې حاجي حسن د زړه ناروغي لري. کرونا د زړه پر ناروغانو ډېر بد اغېز  کاوه. کله چې د حاجي حسن د مړینې خبر راورسېد، ځینې کسان همغه مهال د جومات په لور روان شول. د خلکو دا ګڼه ګوڼه جنازې ته د هرکلي په څېرو. خلکو غوښتل

ترڅو پوه شي چې مړی څه وخت خاورو ته سپاري. ځینې خلک جومات ته رسېدلي وو او ځینې بیا په لاره کې وو، چې خبر راغی، چې مړی تر سهاره په روغتون کې ساتي. جنازه به یې سهار وختي په همدغه جومات کې وي.

له کوچني اختر څو ورځې وروسته له کرونا د خلکو مړینې یو دم لوړې شوې. زموږ د سیمې په جومات کې به هره ورځ یوه یا دوې او ځینې وخت حتا درې جنازې وې. نن سهار یې هم دوې جنازې راوړې وې چې یوه یې د حاجي حسن وه.

د حاجي حسن تابوت د جومات په منځ کې ایښی و. څو کسه د تابوت خواته وېرېدلي ګرځېدل، تا به ویل چې تر څنګ یې ماین د چاودېدو په حال کې دی. د تابوت سر خلاص و. د حاجي حسن جسد یې په یوه توره کڅوړه کې اچولی و. پر مخ یې د ګچ په څېر سپین مواد ور شیندلي و. مخکې داسې ګنګوسې وې، چې د کرونا په ناروغۍ مړه شوي خلک له کالیو سره یو ځای خښېږي.

حاجي حسن شاوخوا شل ورځې وړاندې د ستوني درد احساساوو او ټوخی یې کاوه. د خولې لاړې یې سمې نشوای تېرولې. نیمه شپه وه، چې وچ ټوخی ورته پیدا شو. د نورو خلکو په شان حاجي حسن هم لومړی خپله ناروغي جدي ونه ګڼله، فکر یې وکړ چې ساده والګی دی تېر به شي. له هغې ورځې وروسته یې په خپل ټول بدن کې درد احساس کړ او د شپې په پاتې نیمایي برخه کې سخته تبه او لړزه ورته پیدا شوه. دا ګومان یې نه کاوه، چې کرونا دې نیولی وي. حاجي حسن به د شلغمو ښوروا او اش ډېـر خوړل، فکر یې کاووچې همدابه یې جوړکړي. یوه

شپه چې ټوخي يې زور واخيست او تبه يې هم سخته شوه، مېرمنې يې په داسې حال کې چې تودې اوبه يې ورباندې توېولې،هغه ته وويل:

- ډاکټر ته به لاړ شو، هسې نه چې کرو...

مېرمنې يې لاسم د کرونا نوم نه وه اخيستی چې حاجي يې خبره ور پرې کړه او وې ويل:

- کرونا يې لا څه شی وي او کار يې څه دی؟ معمولي ذوکام يم ښه کېـږم.

وروسته يې غبږ کړ:

- هغه شلغم او اش يو وار بيا راته پاخه کړه، ورسره ښه کېږم.

ټوخی يې ډېرشو او ساه تنګي ورته پيدا شوه. سينې يې د برقي جارو په څېر شغا کوله. نيمه شپه وه چې مېرمنې يې زوم، انجنير حميد ته زنګ وواهه چې حاجي ساه نشي اخيستلی.

په کلينيک کې چې د ډاکټر سترګې پر حاجي حسن ولګېدې، وې پوښتل:

- څور ورځې کېږي، چې ناروغ دی؟

- درې څلور ورځې به کېږي.

- ولې مو دومره ناوخته راوست؟

ډاکټـر يې سينه معاينه کړه او انجنير حميد ته يې وويل:

- کرونا نيولی، چټک يې د کرونا روغتون ته ورسوئ.

کرونا روغتون ته پر لاره حاجي ډېـر ټوخی کاوه او ويل يې:

- کرونا چېرې وه، يوازې زوکام وم، هغه هم تېرېده. دا ډاکټران يوازې خپلو ځانو ته کار جوړوي.

کله به یې چې توخی ډېر شو نو وبه یې ویل :
- دا بلا بیا له کومه را پیدا شوه، خدایه ته رحم وکړې!
کله چې د هرات کوېډ۱۹روغتون ته ورسېدل، ډاکترانویې وینه معاینه کړه ، د وینې د اکسیجن اندازه او د سینې اکسره یې واخیسته، ډاکتـرانو وویل :
- د کرونا شک ور باندې کېږي، ښه به وي چې په روغتون کې یې پر کرونا د شکمنو خلکو په برخه کې بستري کړئ.
ډاکترانو امر وکړ چې د حاجي د مېرمنې او زوم، انجنیر حمید ټېسټ دې هم وشي. ډاکتر یې مېرمنې ته مخ ور واړاوه او ویې ویل:
- تروري! ناوخته مو راوړ، ناروغي یې سخته شوې او سږي یې نیولي؛ موږ بیا هم خپله هڅه کوو. ډاکترانو یې د مېرمنې او زوم له رخصت کېدو سره سم هغوی ته وویل، چې د ټېسټ د پایلې تر مالومېدو باید له چا سره اړیکه ونه نیسي. له دواړو یې ټېسټ واخیست او رخصت یې کړل. په سبا د حاجي حسن د ټېسټ نتیجه مثبته شوه خو د مېرمنې او زوم ټېسټ یې تر هغه وخته منفي و.
حاجي حسن په روغتون کې له کرونا وفات شو. سهار د آذان پر وخت د روغتون امبولانس د سیمې جومات ته راغی. د حاجي حسن جسد یې په یوه تابوت کې ایښی و.ډاکترانو له روغتون څخه د حاجي حسن کورنۍ خبره کړې وه چې ناروغ مو وفات شو خو ټینګار یې کړی و چې، تاسو مه راځئ، موږ یې تابوت دروړو. د کورنۍ څو تنه غړي یې د جنازې رارسېدو ته په تمه وو چې د حاجي وروستی دیدن وکړي او بیا یې دفن کړي. په سیمه کې دا ګونګوسې وې چې کرونایي جسدونه د

روغتون کارکوونکي په پټه وړي او په يوه نامعلوم ځای کې يې خښوي او له هغه وروسته يې کورنۍ ته خبر ورکوي.

د حاجي حسن زوم انجنير حميد په روغتون کې څوک واسطه کړې و او له هغوی څخه يې ژمنه اخيستې وه چې، د حاجي مړی بايد له خښېدو وړاندې د يوې شپې لپاره دوی ته راوړي چې دوی يې ووينې.
اوس يې جنازه جومات ته راوړې وه او د کورنۍ غړي يې هم جومات ته راټول شوي وو. له تابوت لږ ها خوا ، د جومات په يوه گوښه کې دوو کسانو چې د حاجي خپلوان ول په خپل منځ کې خبرې کولې چې مړی بايد چېرته خښ کړي. يوه يې وپوښتل:

- همدې عمومي هدېـرې ته به يې يوسي؟


بل يې وويل :

- فکرنه کوم چې په دغه هدېره کې يې پرېږدي. اورېدلي مې دي، چې د کرونا مړي له ښاره دباندې د ميرداوود يا د شيدايي په خوا کې يوه ځانگړي ځای ته وړي او هلته يوه لويه کنده ورته باسي. نور به نو خدای ته معلومه وي خو خلک وايي چې له خپلو جامو سره يې يو ځای، له غسل او کفن پرته خښوي.

- توبه خدايه! دا څه بلا نازله شوه، اوس خلک د خپل مړي واک هم نه لري.

- زما په نظر چې په عمومي هدېره کې به يې د کلي خلک هم مخالفت وکړي.

- نه بابا! هلته يې نه پرېږدي. کېدای شي د غره لمنې ته يې يوسي، هلته کومه کنده ورته وباسي.



په دې وخت کې درې څلورکسان له امبولانس څخه راښکته شول او د جومات انګړ ته ننول. داسې ښکارېدل چې ته به وایې تازه د مریخ له سیارې راښکته شوي دي. د هغوی په راتګ د جومات فضا وېرې په سر واخیسته. ناست خلک د دوی په لیدو داسې ووېرېدل، چې تابه ویل روح یې ترې واخیست. له سره تر پښویې لکه کفن سپینې جامې اغوستې وې. تورې عینکې یې پرسترګووې. د زرورقو په څېر دستکش یې په لاسوکړي و، چې لمر ته له ورایه ځلېدل. د دې کسانو پرسر، فضاه ته د تلونکو کسانو په څېر خولۍ وې. هغوی سیده د هغه تابوت په لوري لاړل، چې جنازه پکې اېښودل شوې وه.

دغه مهال یوه ښځه د جومات له ښځینه برخي راووته، له روغتون څخه د راغلیو کسان په طرف یې منډه کړه او په ژړا او زاریو یې پیل وکړ:

- د خدای لپاره لږ خو یې پرېږدئ چې زه یې یو ځل مخ ووینم....... د خدای لپاره یوازې یو ځل اجازه راکړئ، چې ویې وینم. دا مې وروستي لیدل دي، د خدای لپاره ما پرېږدئ چې مخ یې ووینم....... په رغتون کې چې بستري و، موږ یې هلته هم نه ورپرېښودو چې ویې وینو. زما پلار دی، زه یې لوریم...... تاسو خو یو ځل زما خبره ومنئ!

د روغتون کسانو په داسې حال کې چې غوښتل یې د تابوت سرپوښ ورباندې کېږدي، ښځې ته وویل:

- نه کېږي خورې! نه کېږي.

ښځې نورهم ژړا او چیغو ته زور ورکړ. په ژړا او زاریویې هڅه کوله، ځان پر جنازه ور وغورځوي. د تابوت سرپوښ یې ونیو او کش یې کړ، داسې چې تابوت یو ځل بیا پرانیستل شو. د حاجي حسن زوم انجنیر حمید د خلکو له منځه د ښځې په طرف ورمنډه کړل او غږ یې پرې وکړ:

- نور بس دی، خیر دی، اجازه ورکړه چې یو یې سي. هغه کرونا شهید کړ، له لیدلو څخه یې تېره شه!

وروسته یې په یو څه غوسه وویل:

- وایم بس دی نور!

ښځه په ژړا او زاریو شوه:

- یو ځل، یوه شېبه، وعده کوم چې لاس نه پرې وهم. یوازې یوه


شېبه، وروستی دیدن ...

په دې وخت کې یوې بلې نجلۍ له جومات څخه د خپل بابا جنازې ته رامنډې کړه. د روغتون کسانو تابوت پر اوږه کړ. نجلۍ څو گامه منډه وکړه، خو تابوت ته ونه رسېده. د سپینو جامو ولا کسان د امبولانس پرخوا روان وو. لوراو مور له یو بل سره غاړه په غاړه، څنگ پر څنگ په تابوت پسې منډې وهلې خو د روغتون کسانو تابوت تر امبولانس ورساوو. د مور او لور د هیلو وروستۍ چینه په وچېدو شوه، دواړو د ژړا په حال کې د جومات پر ډبرین غولي گونډې ووهلې او په چیغو یې پیل وکړ.

دری څلور کسان چې په جومات کې و، په جنازه پسې له جوماته بهرشول. د جومات خادم د اوبو د نل خواته منډې کړه، اوبه یې په فشار سره راخوشې کړې، د پوډرو خلته یې څېرې کړه او پوډر یې د جومات په انگړکې وشیندل. په هغه ځای کې چې تابوت اېښودل شوی و، هلته یې ښه ډېر پوډر وشیندل. د اوبو نل یې پوډرو ته ونیو او د جومات د انگړ په مینځلو یې پیل وکړ. ښځې د دغې صحنې په لیدو په ژړا پیل وکړ او جومات خادم ته یې وویل:

- څه خبره ده؟ څه چټل خو نه و؟ تر پرون پورې دې ملگری او دوست و، اوس بیاچټل درته ښکاره شو؟ لږ شرم وکړه، حیا وکړه ،دومره صبر خو به دې کاوه چې موږ خو تللې وای...

ښځو همداسې ژړل، د امبولانس پر سر لگېدلې اشاره به کله سره او کله شنه شوه. د حاجي حسن جسد یې خدای خبر پر کوم طرف یووړ.



# د وېښتو تار

قرنطین تازه په تازه خلاص شوی و، خلک لږ او ډېر بیدار شوي او د کرونا وېره یې لږ او ډېره په بدن کې کمه شوې وه. مېلمستیاوې یې کوی شوای، کوی یې شوای د واده جشن جوړ کړي، د قران کریم ختم او د فاتحې مراسم ونیسي. له همدې کبله په څو وروستیو ورځو کې، د واده په څېر د خوښۍ د پروګرامونو ترڅنګ په هره کوڅه کې د ختم او فاتحې د مراسمو ګڼه ګوڼه وه. پرلپسې مراسم وو، هره ورځ به په هر مسجد کې په کرونا د مړو شوو له پاره څو فاتحې او ختمونه نیول کېدل، له هغې ورځې چې وویل شول کرونا کمه شوې او قرنطین پای مونډلی هره ورځ به فاتحې نیول کېدې. خلک اړ وو په یوه ورځ په مسجد کې څو فاتحې ونیسي. تېره ورځ یې له غرمې وروسته، په محمد

رسول الله مسجد کې د اتو کسانو فاتحه یو ځای اخیستې وه. په توحید کوڅه کې یې د دوولسو تنو فاتحه یو ځای واخیسته. په جامع مسجد کې یې په لویه لوحه په کرونا د ټولو مړو شوو کسانو عکسونه لګولي وو او تر هر عکس لاندې د وفات شوي نوم لیکل شوی و. هره تابلو د دې نښه وه چې دا څو تنه تر یوې قومي یا سیمه ییزې ټولنې پورې تړلي دي. د بېلګې په توګه په هغې بېنر چې د محراب شاته خلکو ته مخامخا لګول شوی و لیکل شوی و: «د توحید سیمې تر قومي ټولنې پورې اړوندو او...»

نن شپه زموږ په کور کې مېلمستیا وه. دغه مېلمستیا هم تر کرونا پورې تړلې وه دلته دود دی چې د یو چا له مړینې وروسته د سیمې خلک او خپلوان مېلمستیا ورته کوي، موږ هم په کرونا د څو وفات شوو کورنۍ رابللې وې. دغه دود په خلکو کې له پخوا څخه و. دا د مړو شوو له کورنیو سره یو ډول همدردي وه.

د مېلمنو له تګ وروسته د نژدې خپلوانو د کورنیو مېرمنې په خپل منځ کې راټولې او خبرې یې کولې د دوی خبرې او مجلس تر ډېره د کرونا د ورځو په اړه و. ټول خوشاله وو چې پخیر سره له کرونا خلاص شوي او ژوندي دي. تر ټولو نېکمرغه بیا هغه کورنۍ وه چې یو تن یې هم کرونا نیولی نه و او نېکمرغي یې په دې کې وه چې ټول ژوندي وو. په دې توګه هغه متل دی چې وایي مرګ ښه دی خو د ګاونډي له پاره، اوس او په دې ښځینه مجلس کې چې ټولې یو ځای ناستې او کیسې کوي، د ملایانو په خبره د بشپړ مصداق لرونکې وې.

د کور مېرمنو د مېلمستیا د پیالو او کاسو له مینځلو وروسته، چای

دم کړ او د تنور د کوټې مخامخ په دهلیز کې د مېلمنو څنګ ته ټولې راټولې شوې. زه د مېلمنو په منځ کې ناسته وم کومه پیاله به چې تشېده ډکوله مې، د ټولو خبرو ته مې ښه غوږ نیولی و، مور مې د کرونا په اړه خبرې پیل کړې:

«له خدایه بیا زر ځله شکر چې کرونا پخیر سره تېره او لاړه. بلکې نور به ورکه شوې وي...»

افروز ترور وویل:

«پناه به خدای ته وړو، ورکه شوې».

مور مې په خندا وویل:

«دغې د وېښتو تار ورکه کړه... وا مو ورېدل»؟

ټولو مې مور ته وکتل، مور مې وویل:

«ویلي یې دي، د قران له منځه د وېښتو تار پیداکړئ، یا یې اوبه وڅښئ کرونا مو نه نیسي»!

ګل افروز وویل:

«هسې خو وایي تور چای هم ښه دی»!

مور مې وویل:


«څه ووایم، ما خو چې اورېدلي په قران کریم کې چې وېښته وي ښه دی»!

یوې مېرمنې پوښتنه وکړه:

«وووووی وېښته؟ هغه یې څه ډول له منځه وړي»؟

افروز ترور وویل:

«وایي که څوک یې اوبه وڅښي، کرونا یې نه نیسي»!



افروز ترور د مجلس له بل سر زما مور ته په خندا وویل:
«امنې ښځبلې دي ښه ورته مالوم دي».
امنې وخندل او ويې ويل:
«خبره شوې يم چې تاسې هم ښځبلې دي، اوس پر ما زړه تشوئ».
مور مې په خندا امنې ته وويل:
«دا رښتيا ده چې له تاسې ورک شوی و».
ټولو وخندل.
افروز تروور وويل:
«څه ورک شوی و»؟

مور مې مېرمنو ته مخ کړ ویې ویل:

«خپله به ووایي ترې وپوښتئ»

د کور مېرمنې چې له مېلمنو لږ لیرې ناستې وې، ټولو په امنه کې سترګې ګنډلې او غوږ یې ورته نیولی و چې پوه شي امنه څه وایي.

امنې ترور د مېرمنو د خندا په ځوږ کې ځواب ورکړ:

«هو، یوه ورځ لاړم اودس مې وکړ په ترتیب سره مې حمد او قل هوالله وویل، لاړم قران کریم مې پرانیست، له ټولو قران کریمونو ځار شم، خدای دې ماته ښښنه وکړي، قران مې پاڼه پر پاڼه وکوت چې یو دانه د وېښتو تار پیداکړم».

د حاضرینو د خندا په ځوږ کې امنې بیا وویل:

«خدای دې ماته وبښي قران کریم مې څومره په عذاب کړ، اخېر مې هم یو تار پیداکړ».

افروز ترور وویل:

«لومړی دې باید غسل او اودس کړی وای».

مور مې وویل:

«باید یوه سیپاره قران دې هم ویلی وای...»

افروز ترور وویل:

«وایي هماغه وخت چې قران تلاوت کوې، تار پکې پیداکېږي».

امنې ترور وویل:

«اودس مې و، رښتیا چې ووایم یوه سیپاره مې تلاوت نه کړ اوس څه دروغ ووایم».

افروز ترور وویل:

«نو څکه ورک شوی».

ټولو بیا وخندل.

امنې ترور خبرو ته ادامه ورکړه:

«مقصد د وېښتو تار مې پیداکړ، یو تور او اوږد تار و».

افروز ترور وویل:

د حضرت خضر وېښته به و، وايي هغه تل ځوان وي».

امنې ترور وویل:

وېښته مې په عزت او درناوي سره واخیست، ترې څار شم د پاڼې له منځه مې پورته کړ. زینب ته مې وویل یو ګیلاس اوبه راوړه چې په وېښته اوبه تېرې کړم او ویې څښم».

مور مې وویل:

«وېښته ناڅاپه وزرې وکړې او ورک شو».

امنې د حاضرینو د خندا په ځوږ کې وویل:

«هوکې، له لاسه مې ناڅاپې ورک شو او لاړ»!

افروز ترور وویل:

«نیت دې صاف نه و».

امنې ترور وویل:

«نیت مې صاف و، په خدای چې اودس مې هم و، همداسې په صاف او پاک زړه سره وم، خو نه پوهېږم څه ډول ورک شو».

افروز ترور وویل:

«کېدای شي، هسې دې سترګو ته وېښته ښکاره شوی وي، ودې لید...»

د حاضرینو په خندا کې د افروز ترور خبرې نه اورېدل کېدې.

امنې ځواب ورکړ:

«نه، ښه مې په یاد دي چې وېښته مې په موټې کې ونیو، رنګ یې هم تور و، د هر چا چې و ځوان و. وېښته مې د قران کریم له منځه واخیست، همداسې ټینګ مې په موټې کې و، تر هغې چې زینب ته مې وویل یو ګیلاس اوبه راوړه، ښه مې په یاد دی چې په موټې کې مې و، زینب یو ګیلاس اوبه راوړې غوښتل مې په اوبو کې وېښته خوشې کړم، خو چې موټی مې پرانیست وېښته نه و».

بیا یې هم وخندل.

امنې ترور ادامه ورکړه:

«دعاوې مې وویلې خو وېښته هېڅ پیدا نه شو».

مور مې یې په خبرو کې ولوېده:

«وېښته وزرې وکړې او والوت».

امنې ترور وویل:

«هوکې، ستا په وینا وزرې یې وکړې او لاړ، ښه مې په یاد دي چې زینب پخلنځي ته لاړه، موټی مې کلک نیولی و، وېښته مې لاس کې و، زینب ته انتظار وم چې اوبه راوړي، زینب چې اوبه راوړې د اوبو ګیلاس مې ترې واخیست، لاس مې پر ګیلاس ونیو چې ویښته پکې خوشی کړم، همدا چې موټی مې پرانیست ګورم ویښته نشته. زینب ته مې وویل، او نجلۍ وېښته څه شو؟ زینب ویل، وېښته خو زما لاس کې نه و، له ما ولې پوښتنه کوې»؟

ټولو وخندل.

امنې ترور ادامه ورکړه:

تر اوسه پورې همداسې چې تاسې ونه لید ما هم ونه لید، تر نن ورځې چې هر څومره پسې وگرځېدم پیدا نه شو».

په دې مهال زینب هم په خبرو راغله ویې ویل:

«ترور ببرته قران کریم ته لاره هسې نه چې ببرته قران کریم ته تللی وي».

ټولو وخندل.

امنې ترور خبرې پسې اوږدې کړې:

«ما ویل وېښته لوی و، خامخا به ببرته قران کریم ته تللی وي».

مور مې ترې وپوښتل:

«وېښته څه ډول و؟ تاو تاو و که مستقیم او صاف»؟

امنې ترور وویل:

«تور او اوږد وېښته و، لکه د مېرمنو وېښته».

مور مې وویل: «نو د حاجي له قران به نه و، خامخا د حاجي انۍ له قران کریم و، د خدای بښلې حاجي انۍ وېښتان تاو تاو وو، خدای ورکړي وو.

امنې ترور وویل:

«خدای پوهېږي چې وېښته د حاجي که د حاجي انۍ و، خو تور وېښته و، د هر چا چې و د ځوانۍ یې و».

مور مې پوښتنه وکړه:

«له کوم قران کریم دې پیداکړ، هماغه کشف الایات»؟

«هو، له کشف الایات و، زما هم ښه په یاد نه دي».

«کشف الایات د خدای بښلی حاجي و. هغه بل قران کریم چې

سور پوښ او وریښمین دسمال لري، د خدای بښلې حاجي انۍ و. حاجي خدای بښلی چې کله له حج راغی یو یې د ځان له پاره چې لوی لوی خطونه یې لرل او یو یې هم د حاجي انۍ له پاره راووړ. حاجي به تل ویل: هر سهار باید هر څوک خپل قران کریم تلاوت کړي».

مور مې کیسې ته ادامه ورکړه:

«زه نوې ناوې وم، هر سهار به دواړه له لمانځه وروسته د قران کریم تلاوت ته کښېناستل تر هغې چې مابه چای تیاراوه او د زینب پلار به د قلبې له پاره کار ته تیارېده، دواړو حاجي او حاجي انۍ به قران تلاوت کاوه. یوه یا دوې سیپارې قران کریم به هره ورځ په کور کې تلاوت کېده. له همدې کبله په کور کې خیر او برکت هم و. اوس خو څوک کلونه هم قران کریم نه تلاوت کوي.

افروز ترور وویل:

«همدا چې له کورورنو څخه قران کریم ویل کم شول داسې بلاوې نازلې شوې، کنه کرونا او دا بلاوې چېرې وې».

مور مې امنې ترور ته وکتل او ویې پوښتل:

«خو سره له دومره خبرو، کرونا ونیولې کنه»؟

امنې ترور ځواب ورکړ:

«نه د خدای شکر دی او د شیطان غوږونه دې کاڼه وي، تر اوسه خو یې د خدای ج په مهربانۍ سره نه یم نیولې، له دې وروسته هم الله تعالی مهربانه دی او د اولیاوو او څوارلسو معصومو په روی به ورکه شوې وي.

افروز ترور وویل:



«ستاسې نیت صاف و او وېښته خپل کار کړی و».

بیا هم ټولو وخندل.

په دې مهال ټولو دعا وکړه چې خدای دې دا بلا ورکه کړي. مور مې په تسبیحو سره پیل وکړ او تر ژبه لاندې یې دعاوې کولې. شونډې یې په دعا خوځېدې امنې ترور ته یې مخ کړ او ویې ویل:

«همدا چې ستاسې نیت پاک و، که د الله تعالی رضا وه نه مو نیسي، یو نذر وکړه او صدقه ورکړه».

گل افروز ترور وخندل او ویې ویل:

«که یې نیت پاک وای وېښته نه ترې ورکېده، د چا له موټې هم

وېښته ورکېږي»؟

مور مې د مېرمنو د خندا په څوږ کې وویل:

«نیت یې پاک و، امنه ترور ساده او پاک زړې مېرمن ده».

ګل افروز ترور بیا امنې ترور ته مخ کړ او ویې ویل:

«پرېږدئ اوس د یوې بلې وېښتان ونه شکوئ، خامخا همغې وېښته له دې بلا ژغورلي یاست، یا یې هم نیولی یاست او ترې تېر شوي یاست».

ذاکرې ترور وویل:

«موږ تور چای وڅښه څکه یې ونه نیوو، تور چای هم ښه دی».


افروز ترور وویل:

«هوکې، تاسې ته د تور چای کیسه وکړم، یوه شپه ویده وم چې مبایل ته زنګ راغی، وارخطا شوم خدایه خیر په دې شپه کې چا زنګ وواهه، خدای وکړي خیریت وي، ګورم چې نفیسې له کابل څخه زنګ وهلی، نوره هم وارخطا شوم ومې ویل خیریت دی په دې نیمه شپه دې زنګ وهلی؟ نفیسې ویل همدا اوس تور چای دم کړه ویې څښه. په زړه کې وایم دا څه وایي لېونۍ شوې، یا هم زه له خوبه یم نه پوهېږم. ورته ویل مې ته څه وایې، زه دې لېونۍ کړم چای څه دی؟ ویل یې اورېدلي دې نه دي، وایي چې یو ماشوم تازه پیداشوی ویلي یې دي تور چای دم کړئ ویې څښئ کرونا مو نه نیسي. حیرانه پاتې وم چې دا نجلۍ په څه اوتو بوتو سر ده. ورته ویل مې ایا دا ماشوم عیسی علیه السلام و چې په زانګو کې په خبرو راغی، دا ته څه وایې؟ نه دا یو تازه ماشوم پیداشوی، خبرې یې کړې دي ویلي یې دي تور چای وڅښئ کرونا مو نه نیسي، له خوبه هم وم حیرانه پاتې وم څه ووایم او له هغې خوا سخت ټینګار

کوي چې همدا اوس تور چای دم کړه او ویې ښنه چې کرونا دې ونه نیسي....»

ټولو حاضرینو وخندل. په دې وخت کې ټولو د تور چای خاطرې وویلې.

د شپې تر درې نیمو یا څلورو بجو پورې د کرونا کیسې روانې وې. ورو ورو هرې یوې یوه ښنګ ته سر کېښود لکه کرونا ځپلې خوب یوړو.



# کوټه قلفي

د بلاک له کوچنۍ او اوسپنیزې دروازې چې ووتم، خنجرخان – د بلاک قوماندان – پر ما پسې دروازه بنده کړه او ویې ویل:

- دا دی تاسو هم لاړئ له خیره!

خپل لاس یې زما په لور اوږد کړ. څنګه مو چې د خدای په امانۍ لپاره د یو بل لاسونه خوځول، ومې ویل:

- ودرېږه چې قسمت به مو څه وي لالا !

د دې جملې له ویلو وروسته نه پوهېږم ولې مې زړه ولړزېده. زه خرافاتي سړی یم او پر شګون عقیده لرم، دا جمله مې په بد فال ونیوله.

خنجر خان موسکی شو ویې ویل:

- ان شاالله ووایه! قسمت هغه څه دی چې الله یې وغواړي.

ومې ویل:
- بې شک چې تقدیر او قسمت د الله په لاس کې دي.
کله چې له خنجرخان لېرې کېدم، غږ یې وکړ:
- کوټه دې وساتم که یې بل چاته ورکړم؟
هغه اتاق چې خنجرخان یې پوښتنه وکړه، د بلاکونو تر منځ و چې هغې ته به یې «کوټه قلفي» ویل . دا کوټه قلفۍ د بندیانو او دهغوی د کورنیو د غړیو ترمنځ د ملاقات لپاره جوړې شوې وې، خو له څو کالو راپدې خوا دا رواج و چې د محبس مدیران دا اتاقونه د بلاکونو د قوماندانانو په واسطه بندیانو ته په کرایه ورکړي ؛ یا ښه ده ووایم یوه سودا کوي. په هغه کوټه کې د هغو بندیانو ژوند چې پنځه یا لس کاله بند لري، د «وېنګ» په پرتله ډېر هوسا دي. چې هر څه وي خو بیا هم د «وېنګونو» تر دوه یا درې منزلو چپرکټونو ښې دي.
یوه ورځ مې چې مور زما د لیدلو لپاره راغله، له ځانه سره مې وویل: «که مې ۵۰ زره درلودلای له یو بل بندي سره مې یو اتاق نیولو، په دې وېنګونو کې له ۵۰ یا ۶۰ کسانو سره سرې تر پښو لاندې کېږي.»
مور مې وکتل او ویې ویل:
- د اوسېدو کوټې مو ګذاره کوي؟
ومې ویل:
- څه وایې مورکې! تر وېنګونو ډېر ښه دي، د ملک صاحب د دروازې تر مسافرخانو هم ښې دي.
مورمې په بله لیدنه کې ۵۰ زره افغانۍ راکړې او وې ویل :
- مقصد چې پلار دې له دې پیسو خبر نشي.

مور مې داسې ژبه وره ښځه وه چې ماریې له خپلې سمڅې رایوست.
فکر مې وکړ چې له کومه ځایه به یې راوړې وي، خو د دې وخت نه و چې څه ووایم!

د هغې ورځ پر سبا زه د کوټې خاوند شوم. خو د هماغه ۵۰ زرو په بیه په اتاق کې له یوه شریک سره. اوس هم خنجر خان داسې « ستا اتاق » وویل چې د مالکیت پر احساس مې ځواب ورکړ:

- ودرېږه چې څه کېږي!

له دې ځواب څخه چې « ودرېږه چې څه کیـږي » یو ډول بدشگون مې په زړه کې پیدا شو. له هماغه خراب فکر سره، له تورې دروازې چې د هرات د محبس دروازه وه راووتم.

د محبس د حویلۍ دننه، د ښښې په فرمان کې راغلي کسان په کتار کې ولاړ وو. د هر یوه خپله دوسیه له سرو، شنو او نارنجي رنگه پوښونو سره په لاس کې وه. دوی انتظار وو چې نومونه یې ولوستل شي او له سیم څخه تېر شي. د سیم هاخوا یې د ازادۍ کاغذ لاسلیک کېده. درې کسان د مېز تر شا ناست وو. یوه یې نومونه لوستل، د خپل نوم په اورېدو سره به بندیان مېز ته ورغلل؛ هلته به یې ترې وپوښتل: نوم؟ د پلار نوم؟ جرم؟

وروسته به یې له لیست او دوسیې سره د ازاد شوي بندي د نوم سمون ورکړ. په پای کې له هغو درې کسانو یوه به یې په امرانه لهجه ویل:

- ځه.

د هغه مامور چې ژېړه نیکټایي او توره درېشي یې پر ځان وه، ما ته یې مخ کړ ویې پوښتل:

- نوم؟

ومې ویل:

- طارق.

- د پلار نوم؟

ورته ومې ویل.......

- جرم دي؟

ومې ویل:

- تهمت یې راباندې لګولی مدیرصېب ! خدای که به مې اروا هم خبره وي.

تکرار یې کړ:

- جرم؟

ومې ویل:

- پر ما یې ناحقه شاهدي ورکړې، ما دا ګناه نه وه کړې .

له هغوی څخه یوه یې زما له لاسه دوسیه واخیسته، د کاغذ له مخې یې جرم ولوست، دوسیه یې ټاپه کړه، ویې ویل:

- ځه!

د سیم تر شا ځای ته ، کېدای شي دا ازادۍ سیمه ووایو. موږ ټول یې په همدې سیمه کې کتار کېنولي وو. د ټولو زړونو درزا کوله خو د یو په څېره کې هم خوشحالي نه لیدل کېده . شاید له دې سیمي دباندي پر نامعلومه او بې سرنوشته راتلونکې یې فکر کاوو. له هغې جملې یو زه پخپله وم، دې آزادۍ زما لپاره هېڅ نه لرل. له ځان سره مې ویل: دا یې زه ازاد ، نو څه؟

په لاسپیکر کې د زندان د مشر غږ زما فکر خراب کړ. د زندان مشر هغه خبرې چې په دې څو ورځو کې یې حفظ کړې وې، د لاسي لاسپیکر له ټکټېک او بغ بغ سره، پیل کړې، خوغږ یې پرې پرې کېده.

- سمه ده چې تاسو بندیان وئ، خو ستاسو د ځان ساتنه تر هر څه مهمه ده. ولسمشر صېب و نه غوښتل چې کرونا ستاسو ځان ته گواښ شي ، له همدې امله یې د بـښنې فرمان صادرکړ. خوشحاله یوو چې اوس مو د کورنیو غېږې ته ورځئ. د مشر تر ټولو د خندا وړ خبر دا وه چې ویې ویل:

- محبس باید تاسو ته د پوهنتون مقام لرلی وي، ډاډه یم چې تر دې مهاله به مو ډېر څه زده کړي وي.

یوه کړس کړس وخندل او ویې ویل:

- مدیر صېب دې ژوندی وي!

دا مهال ټولو بندیانو چې د مدیر وینا ته ستړي او بې تابه ناست وو، چک چکې کړې.

په بله دروازه کې یوه مامور له موږ څخه دوسیې اخیستې او د هریوه پرلاس یې یوه نښه کوله. په وروستۍ دروازه کې وروستي مامور موږ ته کتل او ویل یې:

- په خیر لاړ شئ!

ماته یې چې « په خیر لاړ شې » وویل، تر دروازې یو گام هاخوا ازاد شوم! بیخي ازاد وم. که له حقه تېر نشو، د ټولو ناهیلیو سره سره، د یوې شیبې لپاره مې په خپل ځان کې د ازادۍ خوند احساس کړ خو باید ووایم چې هماغه یوه شیبه وه او ورکه شوه . خلک د خپلو بندیانو د بدرگې او

روغبړ لپاره راغلي وو. یو اشنا کس مې لټولو. چا ته منتظرهم نه وم، بیا مې هم سوچ کاووچې نه ویل کېږي؛ یو څوک راته راغلی وي، خو نه و راغلي . د بندیانو خپلوان به راتلل او خپل بندیان به یې له ځانه سره بوول. له نارینه وو ها خوا ښځینه پایوازانې انتظار وې. د ښځینه وو خواته چې ولاړم، خپله مور مې وپېژندله. کله یې چې ولیدم راټوپ یې کړ، لاس مې یې چې ونیو، لکه کلالي لوښی مات شوم، اوښکې مې وڅڅېدې؛ سر مې پر اوږه ورکېښود، مورمې کلک په غېږ کې ونیولم. هغه سړی چې څو کاله یې نه وي ژړلي او ناڅاپه وژاړي، ارامېدل یې ستونزمن وي. د هغو ښځو او نارینه وو په مخ کې مې د یوه ماشوم په شان ژړل. مورمې یوې خواته کش کړم او ویې ویل:

- تا خو نه ژړل؟ ته خو بې غیرته نه وې؟ زندان د نارینه وو ځای دی!

- وروسته یې وخندل او ویې ویل:

- ماشاالله ، مزی شوی یې، پړسېدلی یې!

په ژړا کې په خندا شوم، ومې ویل:

- مفته ډوډۍ مورجانې، د بې ننګۍ ډوډۍ!

مور مې ځواب راکړ:

- خدای دې نکړي زویه! کومه بې ننګي؟ ټول عالم خبر دی چې ته بې ګناه وې. خدای دې د رشوت اخیستونکي کور خراب کړي. خدای دې د شل کریم کور خراب کړي چې په ناحقه یې شاهدي ورکړه.

مورې چېرې ځو؟

ویې ویل:

- د قصابانو محلې ته، له هغه پخوانې ځایه مو کډه کړې، له هغې شپې

وروسته په هغه ځای کې پاتې کېدی نشوای؛ موږ ویل یوه داسې ځای ته ځو چې څوک مو و نه پېژني.

له رېکشه چلوونکې سره مو خبره وکړه. اورېدل مې چې رېکشه وان ویل:

- هغه ځای ته خو ډېره لار ده تروري !

مور مې وویل:

- له یوه شلګون ډېرې نه درکوم، نه یې لرم چې دریې کړم.

رېکشه وان نه یې پورته کړو او نه یې پرېښودلو، ویې ویل:

- ځه تروري ! الله دې په بل ځای کې روزي درکړي.

پر رېکشه وان مې سوک وار کړ. غوښتل مې د کمیس له غاړې یې راونیسم او په خوله خوله یې ووهم، خو مور مې ځان زموږ منځ ته را واچاوو.؛ عذر او زارۍ یې پیل کړې. رېکشاوان پوه شوچې حالت مې ښه نه دی، رېـز یې ورکړ او ولاړ. یو څو ګامونه مې پسې واخیستل. ومې ویل:

- که نه وای تښتېدلی حاضر وم چې لس کاله نور هم زندان کې وای خو د دې بې پلاره او بې موره ځواب مې ورکاوو .

له بل رېکشه وان سره پخپله وغږېدم، پنځوس افغانۍ مې ورکړې او سپاره شولو.

په ښار کې د پخوا په څېر ګڼه ګوڼه نه وه، قرنطین و، ټول ځایونه بند وو. د دوکاندارانو غږ نه وو، ځینې خلک پر لار ستړي روان ول . هوا توده وه، پر مخ مې سور اور لګېده. باد پلاستیکي خلتې هاخوا دېخوا وړلې . د مسګریانو سیمې ته چې ورسېدو، د غلام سرخه دوکان

بند و. پوښتنه مې وکړه:

- مورې! د سرخه دوکان ولې بند دی؟

ویې ویل:

- خبر نه یې ؟ هغه غریب خو کرونا مړکړ.

د قصابانو سیمې ته چې ورسېدو، خاوري بادېدلې کوڅې له خاورو ډکې وي ؛ د دوکانونو له لرګینې دروازې یوه نیمه یې پرانسته وه. ومې ویل:

- دا کوم ځای دی مورې! بل ځای نه و؟

ځواب یې راکړ:

- دا یې هم نه راکاوو، هغه کار و چې تا وکړ؟ موږ هم درسره خراب شوو، د کوم کار تور یې چې پر تا ولګاوو، د ویلو نه دی زویه!

بیا د شل کریم خان شاهدي یاد ته راغله. د هغه درغجنې شاهدي پر ما جرم ثابت کړی و، حتی مور مې باور کړی و. یوه شېبه مې سر وګرځېده، د کریم له یادېدو سره مې سر په درد شو.

د کور دروازه د لرګي وه. له غژژژژ غږ سره پرانیستل شوه. پلار مې له دهلېـز څخه را غږ کړ:

- څوک دي؟

مور مې ځواب ورکړ:

- سترګې دې روښانه، طارق راخلاص شو.

پلار مې وټوخېده، مور مې بیا ورغږ کړ:

ـــــــ راشه، ته یې نه ګورې!؟

پلار مې ځواب ورکړ:

- ولې يې وګورم، مخې ته يې پسه هم حلال کړم؟

مور دهلېز ته دننه شوه. پلار مې چې زه وليدم ويې خندل، په ټوخي کې يې په خندا وويل:

- کرونا د ټولو لپاره د مرګ سبب شوه خو ستاسو بنديانو ته برکت شوه.

بيا موسکی شو او په لوګو کې يې ژېړ او ګډوډ غاښونه و برېښېدل. وروستی لوګی يې چې کش کړ ويې ويل:

- راځه راځه چې په ښه وخت کې راورسېدې.

پر شا مې له محبسه راوړې پنډه يوې خواته کېښوده. غوښتل مې لاس ورکړم، لاس يې ښکل کړم، هر څنګه چې و پلار مې و، خو لاس يې پر زر ورقو او سګرېټو بند و. په ناچارۍ له لاس ورکولو پرته يې څنګ ته کښېناستم. وټوخېده له خولې او پوزې يې لوګی راووت، سګرېټ يې ماته راکړ او پر بالښت يې سر کېښود. څو لوګي مې کش کړل، مور مې يوې کنډوالې ته ننوته چې پخلنځی يې پکې جوړ کړی و . انغری يې تازه کړ چې چای پرې باندې کړي. يو بل کش مې وکړه هره خوا لوګي و په مور مې غږ کړ :

- مورې ! هغه صندوقچه مې چېرته ده؟

بل کش مې اخيستلو چې مور مې صندوقچه راوړه، ويې ويل:

- ستا شيان مې بې ځايه کړي نه دي، پلار دې څو ځلې وغوښتل چې کولپ يې مات کړي، خو ما اجازه مې ورنکړه.

مور مې بيا کنډوالې ته دننه شوه. صندوق ته مې پښه بنده کړه ، کولپ ټق وکړ، له خندې مات شو. صندوق پرانيستل شو. پلارمې



وتوخیده ، بیا یې پر بالښت سر کېښود. د هغه د خُر و پوف په غږ کې له ځایه پورته شوم.

ښخلنځي ته مخ کړ او ومې ویل:

- تر څو چې چای جوشوې زه یو چېرته ځم خو بېرته ژر راځم.

له صندوقه مې چاقو را اخیستی او په جېب کې مې ایښی و. له کوره چې بهر ولاړم، د مور غږ مې واورېد چې ویې ویل:

ـــــ چېرته ؟ چای مې دم کړی، دا دی تاته ډوډی تیاروم.

تر څو چې راپسې راتله زه کوڅې ته وتلی وم.

د کوڅې د سر په دوکان کې مې د ټلیفون کارت واخیست ، سخي ته

مې زنګ وکړ. سخي د مخدره موادو دوسیه درلوده، د کرونا په همدې فرمان کې له ما څخه دوې ورځې دمخه راخوشی شو. د ده په وینا (( کرونا ناروغي نه وه، برکت و برکت )). سخي ته مې زنګ وواهه.

ویې ویل:

- راغلې؟

ومې ویل:

- هو، راغلم.

- څه وخت ؟

- یو ساعت به کېـــږي. کوم شی لرې چې یوه ځای ته پرې ولاړ شو؟

- هو، دروازه خشک ته راشه.

په موټرسایکل شاته پسې کښېناستم، ومې ویل:

- درځه چې ډېر مهم کار لرو!

- چېرته له خیره؟

- ځم چې یو څوک ووینم.

- ټول ځای قرنطین دی، چېرته یې ګورې؟

- په خپل کور کې دی .

ویې ویل:

- لکه چې شل کریم خان دې مطلب دی؟

ومې ویل:

- هـو، ولې یې داسې شاهدي ورکړه؟ ده ته له دې شاهدۍ څه ګټه ورسېده ؟ زړه مې نه ارامېږي چې همداسې یې پرېـــږدم.

سخی ځواب راکړ:

- د دوی کار همدا دی، محکمه دې ونه لیدله؟

- ۸۰ زره افغانۍ یې اخیستې دي.

- ماته چې ۸۰ زره راکړي، په خدای قسم پر خپل پلار شاهدي وایم.

ربـــز یې کم کړ او پوښتنه یې وکړه:

- کور یې درمعلوم دی ؟

- عید ګاه ته در تاو شه!

د کور دروازه مې ټک ټک کړه ، زوی یې پرانیستله. کور ته یې وځغاستل چې پلار ته غبږ کړي. سخي خپل ځان د دروازې تر شا پټ کړ، لکه چې پوه شوی و چې زه کوم کارکوم. د شل کریم خان سترګې چې پر ما ولګېدې رنګ یې والووت، خو په زور یې وخندل او ویې ویل:

- سترګې مو روښانه!

لاس یې رامخکې کړ چې روغبړ وکړي. لاس مې یې راونیو ، دباندې مې راکش کړ. لاس یې زما له لاسه خلاص کړ، ځان یې شاته کړ. غوښتل یې دروازه کلکه بنده کړي، خو زما پښې یې مخه ونیوله. له دې مخکې چې دروازه زما پښه ونیسي ما وهلی و. پښه مې له دروازې لرې کړه، دروازه په کلکه ولګېده. شل کریم د دروازې شاته وغورځېده. په سخي پسې تر شاه په موټر سایکل سپور شوم. سخي چیغې کړې، ویې ویل:

- لکه چې مړ دې کړ؟

په همدې وخت کې مې پر شا یو کاڼی ولګېد. تر څو چې مې شاته کتل د سخي پر ملا بل کاڼی ولګېد.

موټرسایکل چپه شو او موږ دواړه  په کوڅه کې ولوېدو، خلک راباندې راټول شول.

سخي چې ګونډه یې ټپي وه ماته یې مخ راواړاوه ویې ویل:

- ودې لیدل چې پر موږ دې څه بلا راوسته؟

یوه سړې په خوله ووهلم.

ویلې مې وچې « تقدیر به مو څه وي ». تقدیر مې دا شو چې بېرته یې زندان ته راوستم. بلاک ته چې ننوتم، ملا یاسر د بلاک په دروازه کې د شپې اذان وکړ. د خنجرخان سترګي چې پرما ولګېدې، ویې خندل او ویې ویل:

-  زما زړه شاهدي ورکوله چې ته به بېرته راځې! ستا په زړه کې تر کرونا، له شل کریم څخه د غچ اخیستو اور زیات بل و. کوټه مې همداسې درته ساتلې ده لالا !

ومې ویل:

- قومندان صېب زما جاني جاني یار.

ویې پوښتل:

- لکه  چې په شل کریم  پسې تللی وې؟

-  قومندان صېب ! زړه مې نه صبرېده.

- لکه  چې مړ دې کړ ؟

نور مې ځواب ورنکړ ، کوټې ته مې دننه شوم. سترګې مې نه پټېدلې، پر بستر سترې ستومان پرېوتم ؛ تر سبا مې وخت درلود چې ښه خوب وکړم.



وچ تھوخی

د هرات په محبس کې تازه شخړې پای ته رسېدلې او حالت ارام و. شخړه د چهارشنبې په ورځ بندیانو ته د ډوډۍ د وېش پر مهال پیل شوه. د ماښام کابو پنځه بجې، بندیانو د یوه پلان له مخې د الله اکبر په ویلو له څلورم بلاک څخه پرمامورینو برید وکړ. ناڅاپه په ټولو بلاکونو کې ګډوډي شوه. هغوی سرتېري په لرګو او دستکونو وهل. اوسپنیز تختونه یې مات کړل، اوسپنیز راډونه یې په لاس کې نیولي و. ځینو هم د تخت له پایو او اوسپنیزو دروازو څخه د چړو او تورو په څېر اوږدې الې جوړې کړې وې. سرتېري وتښتېدل او بلاکونه د بندیانو لاس ته ولوېدل.

له کومې ورځې چې ولسمشرصیب د کرونا وبا له امله د بندیانو د ازادولو فرمان ورکړی و، هره ورځ به یو شمېربندیان، له زندانه وتل او

خپلو کوروته به تلل. ځینې کسان چې په دې فرمان کې نه شاملېدل، خپه وو. هره ورځ به یې پر یوه ناوړه کار لاس پورې کاوو، ترڅو پاملرنه ورته وشي. د محبس له مامورینو سره یې بحث کاوو، څو ورځې یې اعتصاب وکړ، ډوډۍ یې نه خوړله؛ له دوی څخه یې ځینو حتی خپلې شونډې په سیم ګنډلې وې. اصله خبره دا وه چې ځینې بندیان چې بند یې تر شلو او دېرشو کلونو و، تل په یوه جنجال پسې ګرځېدل. دا حالت به کله په نسبي ارامتیا پای ته ورسېده، خو بیا به په یوه کوچنۍ پېښه پیل شوه. یوه شپه د زلمي په غږ، د الله اکبرچیغو په وهلو سره سخته شخړه پیل شوه. هغه یو اعدامي بندي و، په شخړه کې اته کسان ووژل شول او شل تنه ټپیان شول. بندیانو دروازې او پنجرې ماتې کړې، کلینیک او کتابتون ته یې اور واچاوو، د سرتېرو اتاقونه یې ویجاړ کړل او د محبس کنټرول یې د څو ورځو لپاره خپل کړ.

دوی د دې حالت د سمولو لپاره له مرکز څخه د یوه پلاوي د راتګ غوښتونکي وو. د محبس مدیریت د بندیانو غوښتنو ته غاړه کېښوده او له مرکز څخه یې پلاوی را وغوښت ترڅو د شخړې د پیل څرنګوالی، رسېدلی زیان او وژل شوي کسان وڅېړي. هیت له بندیانو سره ژمنه کړې وه چې پېښې به سپړي، عاملینو ته به یې جزا ورکوي ترڅو د وژل شویو کسانو وینه عبث نشي. د پلاوي غړي د بندیانو تر منځ ګرځېدل، له بندیانو سره یې خبرې اترې کولې او مالومات یې راټولول. له ځینو بندیانو سره خو یې په لاس روغبړ هم کاوو. ځینو د دې حالت عکسونه اخیستل.

څېړونکې پلاوي، چې د محبس مدیر ورته طمطراق (حقیقت

موندونکی) ویل، په دې لیدنه کې یې لومړی د ویجاړیوله لیدو پیل وکړ. د بندیانوکوټې، چې د( کوټه قلفي) په نامه یادېدلې، د امنیتي کسانو لخوا ویجاړې شوې وې. داسې اطلاع موجوده وه چې ځینې خلک له زندان دننه عملیات رهبري کوي. د نوکریوالۍ اتاقونه بیا د بندیانو لخوا سوځول شوي وو. بندیانو پر دیوالونو د مرمیو نښانې راغلي پلاوي ته ښودلې:

- دا د مرمیو لګېدو ځای دی ځارنوال صیب ! دا هغه ځای دی چې پر ملا حارث مرمۍ ولګېده، له هغه مخامخ برج څخه یې پرې برید وکړ، ډېرې مرمۍ له همدې شرقي برج څخه وېشتل کېدې......

د کلینیک د ویجاړیو او سوځېدلـو لیدل د راغلي پلاوي لپاره د تعجب خبره وه. د دې حیرانۍ تر څنګ کله چې د قرنطین او د کرونا مشکوکو ناروغانو د ساتنې ځانګړي کلینیک ته ورسېدل، حالت ته ورته نور هم جالب شو. په نورو ټولو برخو کې ویجاړۍ شوې وې خو د محبس دا برخه بیا روغه پاتې وه او لاس نه و وروړل شوی. قرنطین شویو ناروغانو هم له دې شخړې څخه زیان نه و لیدلی. د پلاوي رییس په لومړي ګام کې پوه شو چې کېدای شي بندیان د خپل ځان له وېرې دې سیمې ته نه و ورغلي.

ټول ناروغان د راغلي پلاوي ښه راغلاست ته د کلینیک په دروازه کې راټول شوي و. په دروازه یې لیکلي و: « د کرونا ناروغانو برخه ».

د راغلي هیت مشر د پنجرو له ها خوا، چې د واټن مراعاتولو لپاره لګول شوې وې، له هغوی څخه پوښتنه وکړه:

- څنګه یاست؟ ان شاالله چې ستاسو حالت ښه دی!

په ناروغانو کې گنګوسې پیل شوې. هر چا له خپل ځان سره څه ویل :

- ښه یوو شُکر دی، تاسو دې ژوندي یاست. د الله په مهربانۍ سره تراوسه خو ښه یوو...

د کرونا ، ناروغانو له جملې یوه یې په کړس کړس وخندل. د هیت مشر هغه سړي ته وکتل چې په کړس کړس یې خندل. له ونې ټیټ او مزی سړی و چې خېټه یې لاندې پسې ځړېدله. د هیت مشرته په کتو یې بیا په لوړ اواز وخندل . د هغه په لیدو سره ملګري یې هم راغلي پلاوي ته په خندا شول. د هیت مشرڅو شېبې د سړي مخ ته وکتل اوغلی شو. مشر د دې لپاره چې د هغه سړي د کړس کړس خندا پر وړاندې کم نه وي راغلی، بندیانو ته یې مخ ور واړولو او ویې ویل:

- د خوشحالۍ ځای دی چې تاسو ته زیان نه دی رسېدلی.

کرونایي بندیان بیا په خپلو کې په گنګوسو شول:

- هو ولا، له موږ سره یې خواخوږي وکړه، بندیان موږ ته رانږدې نشول، د خدای فضل وشو، د الله مهرباني وه، موږ ته زیان ونرسېد ، شُکر دی...

د پلاوي مشرپوښتنه وکړه:

- په دې روغتیایي مرکز کې ټول څو کسان یاست چې د کرونا ناروغي لري ؟

- نولس ، شل نفر به یوو مشره !

ټیټ او مزي سړي چې رستم نومېده، بیا سخت وخندل.

مشر رستم ته وکتل چې پر شونډو یې موسکا وه، پوښتنه یې وکړه:

- ته څنګه یې ځوانه؟ ماشاالله ښه پکې خوشحاله مالومېږې!

رستم ځواب ورکړ:

- الله دې ستاسوله مشرۍ څه کم نکړي. د الله فضل دی کرونا مرونا پرما هېڅ اغېز نه دی کړی، دا دی ګورې مې ډاکټر صېب!

د کرونا ناروغانوله ډلې یوه یې وویل:

- هر څوک چې دلته راشي ډاکټران ورته وايي، زړه ته دې ډار مه اچوه.

ټولو وخندل.

مشر له رستم څخه وپوښتل:

- دلته دې څو ورځې کېږي ؟

- یاره ډاکټر صیب سم یې حساب راڅخه ورک دی.

مشر له ځان سره وویل:

- دوی ته زه ډاکټر ښکارم.

نورو بیا وخندل.

مشر چې ګومان کېده رستم یې خوښ شوی، له هغه څخه یې په پرانیستي تندي بیا وپوښتل :

- ووایه زړګیه ! دلته یې څنګه راوستې؟ دوی دي ټسټ اخیستی او که همداسې تش په تشه ...

سړي بیا وخندل او ویې ویل:

- پر ټسټ میسټ خو نه پوهېږم ډاکټر صېب! مقصد یوه ورځ د خپل بلاک په اتاق کې ناست وو،

دا زما ملګری فضل احمد هم شاهد دی......



نورو بندیانو بیا وخندل. له هغوی څخه یوه یې  وویل:

-  په هر کار کې فضل احمد غریب شاهد نیسي مشره !

د پلاوي مشر وویل:

- ډېر ښه، ښا له هغه وروسته څه وشول؟ ادامه ورکړه.

رستم ادامه ورکړه:

-  ویل مې چې یوه ورځ ناست وو، سهاروختي و، چای مو څښنه، دا فضل احمد هم و ...

د پلاوي غړیو، مشر او نور ټولو وخندل خو رستم خپلو خبرو ته ادامه  ورکړه:

- ناست وو د سهار چای مو څښنه چې درز و دروز شو. امر وشو چې له خپلې کوټې څخه راووځئ. له تا قربان شم مشره! ټول دباندې

را ووتو، ومو ليدل چې ډاکټران راغلي دي. ستاسو په شان درېشي يې اغوستې وې او لوکس ښکارېدل. د بلاک قوماندان او د محبس مديرهم له دوی سره و، ټول کرونا وو او ماسکونه يې اغوستي و، فضل احمد هم وليدل.

رستم بيا خپل ملګري فضل احمد ته مخ ور واړولو او له هغه يې وپوښتل:

- همداسې و کانه فضل احمده؟

فضل احمد د نورو په خندا کې پرسر تاييد کړه او ويې ويل:

- ياره مړ نشوې چې موږ ارامه شوي وای!

رستم ادامه ورکړه:

- کله چې دباندې راغلو، هغه سوځېدلي موږ په کتار کې لين کړو.

له هغوی څخه يوه وويل:

- سوځېدلی هغه قوماندان يادوي.

- هو هغه قوماندان، خو ټول هغه ته سوځېدلی وايي ځکه مخ يې سوځېدلی دی. هغه کتارسم کړ. هماغه سوځېدلي غږ وکړ:

- لېــري ، لېــري ودرېـږئ!

ټول بنديان له کوټو حويلۍ ته را وتلي وو. د بنديانو ترمنځ بې نظمي رامنځته شوه. ټول لکه مېــږي پرخپل ځان راټرخېدل چې د بلاک قوماندان، د رستم په وينا هغه سوځېدلي ؛ بيا غږ وکړ:

- کتار مو سم کړئ او له يو بل څخه په فاصله کې ودرېـږئ .

مخ يې هغه ډاکټر ته ور واړوو چې ګوښه ولاړ و.

- ډاکټر صېب څو متره واټن ؟

ډاکټرله هماغه ځایه دې سوځېدلي ته وویل:
- یو نیم متر یا دوه متره!
قوماندان صېب بیا پر ډاکټر غږ کړ:
- یو نیم متر که دوه متره ، ډاکټر صېب؟ یوه خبره وکړه!
ډاکټر وویل:
پروا نه کوي ، یو نیم یا دوه، هر څه چې وي.
قوماندان بیا غږ کړ:
- ډاکټـر صېب په عسکري کې «هرڅه» نه لرو، «دوه زړه توب» او «اګر مګر» هم نشته، یوه خبره وکړه چې موږ ارامه شو، یو نیم که دوه؟
ډاکټر مجبور شو ویې ویل:
- یو نیم متر.
قوماندان په کتار کې پر نویو راغلو بندیانوغږ وکړ:
- اورئ ؟ یو نیم متر...
په دې وخت کې یې خپلو څلورو خواووته وکتل، خپل ځان ته یې نږدې پریوه سرتېري سترګې ولګېدې، غږ یې پرې وکړ:
- هلکه! ورشه هغه متر راوړه.
سرتېري منډه کړه چې مترراوړي، د نوکریوالۍ دهلېز ته دننه شو. قوماندان یوه شېبه فکر وکړ له خپل امر څخه پښېمانه شو، بیا یې دهلېز ته وکتل او غږ یې وکړ:
- ضرور نه دی چې متر راوړې، وهکله !
دا ځل ډاکټـر، قوماندان ته وویل:
- په عسکري کار کې اګر،مګر او دوه زړه توب نه شته قوماندان

صیب !

قومندان خپل څټ وگراوو او وې ویل:

- خدای موږ ته متر راکړی، خدایي متر، پر خپلو قدمونو به یې حساب کړو.

قومندان زموږ تر منځ قدمونه اخیستل او موږ یې یو نیم متر له یو بل څخه لیـري کولو. کتارونه جوړ شول.

کتار جوړونه چې پای ته ورسېده، بندیانو ته د ماسک د وېش وخت راورسېد. قومندان صیب د بندیانو هر کتار ته یوه بسته ماسکونه ورکړل او ویې ویل:

- یو یو ماسک در واخلئ !

په پای کې یې سرتېرو ته وویل:

زیات شوي ماسکونه ټول کړئ دفتر ته یې یوسئ.

د ماسک وېش چې پای ته ورسېد، سوځېدلي قومندان ډاکټر ته وویل:

- زموږ کار پای ته ورسېد پخیر، اوس ستاسو نوبت دی.

اوس نو د کرونا ډاکټر په لوړ اواز روغتیایي تبلیغات پیل کړل:

(( لکه څنگه چې بندیان خبردي، کرونا، دا اسماني بلا، زموږ هېواد ته راغلې، که تاسو د کرونا نښې لرئ موږ باید تاسو له نورو بېل کړو، تر څو نورو ته دا وبا ونه لېږدوئ. له نښو یې یو ټوخی دی؛ هغه کسان چې ټوخی لري...)).

یوه بندي ټوخی پیل کړ، قومندان په کتار کې غږ وکړ:

- څوک و؟ څوک وټوخېده؟ هر څوک چې وي پخپله دې له کتاره را ووځي!

له کتار څخه يو بندي بېل شو. ډاکټر بيا  وويل:

- خپل لاسونه ډېر پرېمينځئ، که ټوخی يا تبه لرئ ......

بيا يو بندي وټوخېده. قوماندان ترڅو غوښتل هغه پيدا کړي بل په ټوخېدا شو. لږ لږ ټوخی زيات شو. قوماندان به ترڅو چې يو پيدا کاوو بل به ټوخی پيل کړ. د بلاک قوماندان د بنديانو په کتار کې منډې وهلې. د هرات په سوځوونکي اوړې کې خولې پرې روانې وې او غاړې ته يې څڅېدلې. ټول بنديان يا قصدي يا بې اختياره ټوخېدل. د ټوخيو په منځ کې  ډاکټر غږ وکړ:

- قوماندان صېب تاسو يې موندلو ته اړتيا نه لرئ، زه يې پخپله پيدا کوم.

ډاکټر چې دا خبره کوله، قوماندان داسې ښکارېده لکه د منډې سيالۍ چې پای ته رسېدلی وي. ارامه ساه يې واخيسته، له کتاره ووت له جېب څخه يې دستمال را ويوست او پر سوځېدلي مخ يې راکش کړ، يوه سرتېري يو گيلاس اوبه ورکړې.

ډاکټر غږ وکړ:

- ټول خپل ماسکونه وتړئ !

ډاکټـر د تبې مالومولو ماشين پرلاس، د بنديانو منځ ته په کتار کې دننه شو. ډاکټر به د هر بندي په يو مترۍ کې درېده او د تبې ماشين به يې د تمانچې په څېر د بندي تندې ته ونيو، بيا به بل بندي ته ورغی؛ د تمانچې د علامې په مرسته به يې  ناروغ بندي پيدا  او له کتار څخه جلا کړ. بيا به بل بندي ته ورغی، کله يې چې تمانچه د رستم پر سر کېښوده ، رستم ډاکتر ته وخندل. د ده په خندا سره ټول په خندا شول. په دې وخت

کې ډاکټر رستم ته وویل:

- تبه لرې، له کتاره راووځه !

په دې وخت کې رستم د پلاوي مشر ته وویل:

- مشره ! کله يې چې زه له کتار څخه ويستلم، خدای شاهد دی چې نه مې تبه درلوده نه ټوخی. دا دی فضل احمد هم شاهد دی.

د پلاوي ټولوغړو وخندل. د پلاوي مشر وپوښتل:

- نو چې ناروغ نه وې ، ولې يې دلته راوستې ؟

رستم ځواب ورکړ:

- زه نه پوهېږم ډاکټر صېب! هره بلا چې وه په هماغه پلاستيکي تمانچه کې وه، هغه يې زما سرته ونيوله او بيا يې راته وويل چې له کتاره ووځه . په ما پسې يې فضل احمد هم له کتار څخه را ويويست.

په دې کې يو بندي وويل:

- وايي ډاکټران په دروغو خپل ځان ته ناروغان پيدا کوي، د دې لپاره چې خپله دنده له لاسه ورنکړي.

د پلاوي يوه غړي وخندل ، وې ويل:

- په دې خبرو پسې مه ګرځئ!

د راغلي پلاوي مشر وويل:

- نور نو څه غواړئ، ډوډۍ مو تياره، چپرکټونه مو پاک او صفا، ښه ځای، نور نو څه واياست ؟

رستم بيا خندا ته زور ورکړ، د پلاوي مشر د محبس د سواد حياتي ښوونځي لوري ته ورغی چې بشپړ سوځېدلی وخو په تلو کې به يې کله کله رستم ته شاته را وکتل. رستم لا هم له خندا شين و.



# سیدنجات آغا

له هغې ورځې چې د کرونا اوازه خپره شوه، په کورکې مو دا خبرې اورېدل کېدې چې «راځئ چې ټول غزني ته ولاړ شو.» دا زمزمې هم له قره باغ څخه زما د نیا له ټیلیفونو وې. نیا مې خبره شوې وه چې کرونا له ایران څخه هرات ته رسېدلې ده. ساعت په ساعت یې زنګ واهه چې بار او بستره مو ټوله کړئ او غزني ته راشئ ، قره باغ ته راځئ. دا کلی دی، ګوښه دی اودلته کرونا د خدای په مهربانۍ او د « سید نجات آغا » په برکت نه راځي.

نیا به مې همدا ویل چې یو ځل د سید نجات آغا زیارت ته راشئ کېداشي چې د زیارت په برکت د دې بلا شرلېري شي. الله او سید نجات آغا دې زموږ ټولو پرده وکړي. د کرونا مخ دې بل لوري ته واوړي.

د کرونا په لومړیو ورځو کې مې پلار دا خبره نه منله.

- کرونا چېرې ده ! اووووه تر څو چې له چین څخه دې ځای ته را رسېـــږي قیامت به راغلی وي.

پلار به مې له چایو یو غړپ وکړ او زیاته به یې کړه:

- دا مرض د چینایانو د خوړو له امله دی، موږ خو شکر نه موږک خورو نه چینګښي او نه مار و سوسمارخورو. اووووق!

پلار به مې انۍ ( نیا) ته ویل:

- ان شاالله هېڅ خبره نشته. کرونا مرونا دروغ ده، دا ټول هسې تبلیغات دي. ټلویزیونو په هرات کې لومړی کرونایي ناروغ په خپلوسکرینونو وښود، ناروغ جګه ونه او ښه اوجود درلود. پلار مې وویل:

- دا خو ترموږ او تاسو هم روغ دی.

کله چې په هرات کې له کرونا لومړۍ مړینه اعلان شوه، پلارمې لږ وارخطا شو. پلار ته مې په کوڅه کې کوم چا ویلي و چې د کرونا مړي سوځوي. لږ لږ یې نظر بدل شو. له ټلویزنو یې چې د دویمې مړینې خبر واورېد، له ځانه سره یې وویل:

- په خدای دا خبرې ټوکې نه دي، کرونا وبا ده.

بله ورځ یې فیصله وکړه چې موږ له هرات څخه غزني ته ولېـږي.

- ښه خبره ده چې تاسو څو ورځې غزني ته لاړشئ!

پلارمې د وظیفې له وجې له موږ سره نشوای تلای، ځکه خو د داسې چا په لټه کې و چې موږ غزني ته ورسره ولېـږي. له بل پلوه اوازه وه چې، څوک چې له ایران څخه راځي کرونا لري او سې صدوسې بسونه ایران

ته له تللو مهاجرو ډک دي او ټول کرونا لري. لومړی تصمیم دا شو چې په سپې صدو سې بس کې به نه ځو. ټول فکرمو تګ ته و چې څنګه له هراته لاړشو. مریخ ته تګ ساده و خوغزني ته سخت. هره شپه به په دې غـږېدو چې غزني ته به څرنګه او په څه شي کې ځو، پلارمې وویل:

- لیني موټرې ایران ته له تللوو مهاجرو ډګې وې، مسافر کرونا لري، خدای مه کړه په خپلو پښو به د بلا مخې ته ورشو.

دربست موټر هم نه و. که وای هم کرایه یې څو برابره وه خو پلار به مې ویل:

- کرایه یې مهمه نه ده، باید یو پاک موټر دربست کړو چې یوازې تاسو ورسوي.

له څو ورځو فکر کولو، په قرآن شریف استخاره او پر تسپو له فال اچولو وروسته مې پلار یو پلاینکـوچ موټر کورته راوست. پلار مې مور ته وویل:

- په خلکو کې انصاف نه دی پاتې، له هراته ترغزني پورې کرایه پنځه سوه افغانۍ ده، اوس مو ترغزني پورې د یوه کس کرایه یوزر اووه سوه افغانۍ ورسره وکړه.

له بلې خوا موټروان وویل:

- په خدای له تاسو سره مې ډېرمراعات کړی دی، نور موټرچلوونکي مو له دوه زره افغانۍ کم نه وړي، کنه نو پوښتنه کولای شئ.

کرونا ځینو خلکو ته جشن وه. ماسک په یوه ورځ کې له درې افغانیو تردېرشو او پنځوسو افغانیو پورې لوړ شو.مکروب ضد مایع نه موندل کېده، په یوه شپه کې له بازاره داسې ورکه شوه چې تا به ویل ټول

ترځمکه لاندې شول. د خوراکي مواد بیه خو له وړاندې پورته شوې وه.
موټرچې د حویلې په دروازه کې ودرېده، پلارمې موټرچلوونکی دې ته اړ کړ چې لاس او پښې پر صابون پرېمنځي، په خپله یې په تشت (لګن) کې اوبه او مکروب ضد مایع واچوله او د موټردستګیرونه او دروازې یې پریمینځلې. په پای کې یې په موټر کې دننه مکروب ضد دوایي وشیندله. موږ په موټـرکې سپاره شوو. پلار مې موږ هریوه ته یوه بسته ماسک او یو دانه دستکش ورکړل. فکر مو وکړ چې جګړې ته روان یوو. موټرچلوونکي ته یې هم لس ماسکونه ورکړل. پلارمې د مالټو، کیېنو او لیموګانو پلاستیکونه موږ ته په موټر کې کېښودل چې پر لاره یې وخورو. د موټر دروازه یې را بنده کړه او ویې ویل:
- ځئ له خیره ! ان شاالله چې کرونا ورکه شي تاسو به بېرته راشئ.
کله چې د غزني قره باغ ته ورسېدو، مور مې ډېـره خوشحاله وه. دلته مې د مور پلارګنۍ وه. زما پلارهراتی اومورمې غزنیچۍ وه. د ماما ګانو کورمې په یوه لوی بڼ کې له ختېو جوړ شوی و. د غزنیچیانو په وینا «پخسه» و. مورمې موږ ته وویل:
- هراتیان پخسې ته « دای » وایي.
د ختېو تر دېوالو د چنارونې را چارپېر وې. په بڼ کې د مېوو ونې ولاړې وې. ونو لا پاڼې نه وې کړې. مور مې موږ ته ونې راوپېژندلې:
- دا د منېو ونه ده، دا هم زردالو دي. د زرد الو ونه لویېــږي، دا کوچنۍ ونه د بادامو ده. مورمې نیمه غزنیچۍ او نیمه هراتۍ لهجه درلوده.
- دا لاندې د انګورو تاکونه دي، د غزني هوا سړه ده، د انګورو تاکونه

د مني په اخېري میاشت کې تر خاورو لاندې کوي او  په پسرلي کې يې له خاورو راوباسي.
یوې خواته وچه ریشقه پرته وه ، مور مې وویل:
- هراتیان ریشقې ته سبس وايي او دلته ورته ریشقه وايي.
د بڼ په یوه گوښه کې د اوبو حوض و، موږ سخت ورته خوشحاله وو چې کله به هوا گرمېږي چې حوض له اوبو ډک شي او موږ پکې لامبو وکړو. تر اوسه لا د ژمي وروستۍ ورځې پاتې وې او د دوبي تر راتگ پورې، د حوض ډکېدل او لامبو وهل ډېره لېري خبره وه. له ځان سره مې وویل :
- الله دې وکړي چې کرونا تر دوبي دوام وکړي، موږ دلته پاته شو،له لامبو وهلو خوندواخلو او له هغه وروسته هرات ته ستانه شو.
د ماما گانو کور لوی ختېن دېوالونه لرل، لکه تاریخي کلا داسې مالومېده. کور دوه منزله و، په لاندې پوړ کې يې گمبزې، کدانې او د بزگر کوټه وه. د دوی د اوسېدو کوټې په دویم منزل کې وې. مور مې ویل:
- دا کورهغه وخت جوړشوی چې زه ستا په عمروم. ستا نیکه دې خدای وبښي، چې دا کور يې جوړاوو، هغه د کونج کوټه به يې زما په نوم یادوله چې دا به مې د لورکۍ وي. کورلا نه و جوړ شوی چې نیکه دې د مرگ په خوب ویده شو. مورمې په فکرنو کې ډوبه شوه، اوښکې يې له سترگو وڅڅېدې. موږ د پسونو د لیدلو په پلمه غوجلې ته منډه کړه او مورمو یوازې پرېښوده.
په لومړۍ ورځ چې غزني ته ورسېدو، ماما مې ټولو خپلوانوته

زنگونه ووهل چې تر پنځلسو ورځو دې څوک زموږ روغبړته نه راځي.
وروسته یې موږ ته لازمي لارښوونې وکړې:
- له کلا به دباندې نه وځئ! د کلي له هلکانو سره به څو ورځې اړیکه نه نیسئ. خدای مکړه که سبا څوک وټوخېږي، بیا به وایي چې تاسو له هراته کرونا راوړې. په بڼ کې د ننه غوا، خوسکي ، وزې او چرګان شته، خپل ساعت مو تېر کړئ.
که رښتیا ووایم ساعت مو ښه تېرو. په تېره بیا له چرګانواو نویو زېږېدلو وریو سره. غواوو تازه خوسکي زېږولي و. مېږو شوخي کوله، یو خوا بل خوا یې ټوپونه وهل. د وریو سپینې وړې به موخوښېدلې، کله کله خو به زړه غوښتل چې وړې ترې وشکوو او په ځان یې کړو.
ماما مې یوه لویه ډله چرګان درلودل چې هرسهاربه ورتلو نو چرګو به هګۍ اچولې وې. هګۍ به مو حساب کړې او انۍ ( نیا) ته به مو ورکړې. وروسته به مو مېږې را وایستلې په باغ کې به مو خوشي کړې.
د کلي ماشومان راغلل، له لرې یې موږ ته کتل، ځینو یې په تعجب موږ ته کتل. ویل به دې چې انسان یې نه دی لیدلی. په خپلو منځونو کې یې څه ویل. موږ پوهېدو چې زموږ په اړه څه وایي. یوه ورځ مې په یوه مېږه پسې چې تښتېدلې وه منډه کړه، له حویلۍ دباندې لاړو، د کلي هلکان زموږ په لیدلو وتښتېدل، لږ لېرې ودرېدل موږ ته یې ویل:
- کرونا..... کرونا...
دې ښه راغلاست ته مو خندل. ورور مې وویل:
- دوی داسې فکر کوي چې کرونا زموږ په څېر ده.
ومې ویل:


- د هغوی په فکر مور پخپله د کرونا وایروس یوو هههههههه.

انې (نیا) مې ویل چې څه موده مخکې کوم مسافر له ایرانه راغلی و،خو خلکو کلي ته نه راپرېښود، هغه کس بېرته غزني ښار ته تللی و؛ ځان یې قرنطین کړی و، له شلو ورځو وروسته بیا راغی ویل چې زه جوړ تیار یم . له کومې ورځې چې مور قره باغ ته راغلي وو، انې او نورو به هره ورځ « سید نجات آغا » ته د تګ خبرې کولې. د سید نجات اغا زیارت ته یې ورځې سنجولې چې کومه ورځ به ښه ورځ وي. مور هم چې د سید نجات اغا د زیارت لپاره راغلي و، ترڅو له کرونا وساتل شو، هره ورځ دې زیارت ته د تګ انتظار یوست.

سید نجات اغا د کلي د خلکو لپاره هر څه و.انې که به مې غوښتل چې قسم وخوري په سید نجات اغا یې قسم خوړ، که به یې چاته دعا کوله نو سید نجات اغا به رانګاوو؛ که به یې غوښتل خدای مکړه چاته ښېرا وکړي بیا به یې هم سید نجات اغا ته سپاره.

یوه ورځ مې انې (نیا) مور ته د سید نجات اغا هغه کیسه وکړه چې سید نجات اغا ولې او څرنګه سید نجات اغا شو. انې مې ویل:

- په پخوا زمانه کې په غزني کې د دې کرونا په څېر وبا راغله. هغه وخت دوایي موایي هم نه وه. د خلکو جنازې وې چې هدېروته روانې وې. له وبا د خلکو مړینه نوره هم زیاته شوه، په هدېــرو کې ځای نه و. کرونا خو ښه ده وایي یوازې زاړه نیسي او وژني یې، هغې وبا خو له یوسره ټول وژل، زاړه او ځوانان یې نه کتل. څوک به چې پرې اخته شو، مړکاوو به یې. وبا همداسې خلک نیول ترڅو یې چې سید محمد حسین د سید عباس زوی ونیو. سید محمد حسین څو ورځې ناروغ و، بله ورځ



مړ شو، خدای پاک دې جنتونه ورکړي.

انۍ مې ستونی تازه کړ او خپله خبره یې پسې وغزوله :

- کله چې خلکو غسل ورکړ او سید محمد حسین یې په کفن کې تاو کړ او خښولو ته چمتو شو، د کلي یوه مشر وویل:

- اې پاک سیده! ستا له نیکه جار شم، ته خوموږ څخه وبا واخیستې، هلته چې ولاړې خپل نیکه ته دې زموږ شفاعت وکړه، له خپل نیکه دې وغواړه چې موږ د دې بلا له شره خلاص کړي. په همدې وخت کې سید نجات آغا له کفن څخه لاس راپورته کوي او د کلي د خلکو په حق کې دعا کوي.

د انۍ په وینا مې له هغه راهیسې تر ننه، په دې کلي کې وبا، طاعون

او شری ورک شول. هر ځای ته وبا راغله، طاعون راغی، شری راغی خو دې کلي ته نه دي راغلي. له هماغه ورځې د سید محمد حسین نوم « سید نجات اغا » شو. د سید نجات اغا د دعا له برکته، د دې کلي خلک هېڅ کله وبا نه نیسي. د کیسې په پای کې مې انۍ هغې هدېرې ته مخ کړ چې سید نجات اغا پکې ښخ و، لاسونه یې پورته کړل وې ویل:

- د سید نجات اغا د دعا په برکت ان شالله چې کرونا هم دې لوري ته نه راځي.

د جمعې په ورځ د سید نجات اغا زیارت ته لاړو. د سید نجات اغا قبر د هدېرې په منځ کې و.د قبر په څنگ کې یې دوې ډبرې پرتې وې، یوه ډبره په منځ کې سوری وه، لکه په نېزه چې لگېدلې وي. ویل یې چې دا د شېرخدا د نېزې نښه ده. خلکوچې پر ډبره یې ډېر لاس راکش کړی و، ډبره ښویه شوې وه. مور هم پرتیره لاس را کش کړ. د هغې بلې ډبرې په منځ کې یې د لاس د نښې په څېر ځای و. دوی ویل د کوم بزرگ د لاس نښه ده. په پا کې انۍ پر تیره لاس راکش کړ او زمور پرسر او مخ یې وموښلو او ویې ویل:

- یا سید نجات اغا! د کرونا بلا زمور له کلي لېري کړه. د شاه اولیا په برکت، چې هر چېرته وي هغلته یې ختمه کړه.

مور بېرته هرات ته راغلو خو شکر دی چې انۍ (نیا) مې کرونا ونه وژله او بېرته جوړه شوه.



يو کروناييي مابنام

هغه څه چې لیکم د یوې شخصي تجربې او د یوه روایت کوونکي د سترګو لیدلی حال دی چې د هرات ښار د دوولسمې ناحیې په سیمه کې په یوه کرونایي ماښام کې پېښ شول.

د دې لپاره چې له داستان سره مو ښه اړیکه ټینګه کړې وي او واضح انځور پیدا کړئ له تاسو غوښتنه کوم چې لومړی په خپل ذهن کې د څو ضلعي شکل جوړکړئ. د دې شکل هره څنډه د دې داستان پېښه کېدلی شي. اوس چې د داستان اورېدلو ته چمتو یوو، هغه کور ته دننه ورځو ترڅو وګورو چې څه پېښ شوي دي.

دا کور یو منزله ، پخوانی او خټین کور دی. دا کور د څو لوړو ودانیو په منځ داسې ښکاري لکه هدېره. تر دې زاړه کور په راتاو شویو

څوپــوړه ودانیو کې که یوه کاشوغه له یوې کاسې سره ټکر شي، د هغه کور سپین ږیري شاید هغه غږ نه وی اورېدلی خو د دې زاړه کور ښځې به هرومرو هغه غږ اورېدلی وي. دا پوهېده چې د مخامخ کور په درېیم منزل کې یوڅوک شته. یا په شاته کورکې کومه مېرمن لوښي مینځي.

که څه هم کور ډېر پخوانی و خو د انګورو د څانګو تر منځ د نسترن او نیلوفر ګلونو درلودونکې کوچنۍ حویلۍ یې درلوده. په دوبي کې – په ځانګړي توګه د مازدیګر د لمانځه پر وخت – ښځې به چای پوخ کړ او له خپل خاوند سره به یې یو څوګیلاسه چای وڅښه . دوی به خوږې کیسې کولې. کله کله خو به چوپتیا خوره وه ، ښځه او خاوند به په خیالونو کې ډوب وو.

یو وخت دا کورلکه اوس ارام نه و، دلته به خپلوان او مېلمانه راتلل. په هغو کلونو کې ښځه ځوانه او ښکلې وه، سړی هم پیاوړی او ځوان و. د وی درې زامن او دوې نجونې لرلې. د وخت په تېرېدو او د دنیا له دود سره سم، ټولو اولادونو یې په نوبت، د خپل ژوند سفر له دوی څخه بېل پیل کړ. اوس خانم ګله او صوفي ګل احمد یوازې د دې حویلۍ په یوه کوټه کې ژوند کوي. ښځه له عمره پخه او صوفي ګل احمد اوس سپین ږیری شوی و.

یو ماښام حویلۍ ته څېرمه په کوټه کې چې کړکۍ یې د کوڅې خواته پرانیستې وې، خانم ګلې په پرېشانه حالت کې د خپل خاوند ګل احمد خدمت کاوو. استاد ګل احمد نن هم د تېرو ۱۵ ورځو په څېر یخ نیولی و او د ونې د پاڼې په څېر لړزېده. د هرات په سوځوونکې دوبي کې، خانم ګلې پر استاد دوه څادرونه اچولي وو خو سپین ږیری بیا هم

له تبي لړزېده. هر وارې به چې پر استاد تبه او لړزه راغله، له ځان سره به يې ويل:

- دا خو د ملاريا په څېر دی...

ښځې به يې سر ته ټکان ورکړ وبه يې ويل:

- هر څه چې دي ان شاالله ژر به ښه شې!

لومړۍ پېښه د مازديګـرپه شپېږو بجو د استاد ګل احمد کور ته مخامخ رامنځ ته شوه. يو ځل د مېلمنو د موټرسايکلو، رېکشاوو او موټرو تګ راتګ، د استاد ګل احمد ارامتيا ترې واخيسته. اوجود يې تازه ګرم شوی و. سريې راپورته کړ او له خپلې مېرمنې يې وپوښتل:

- څه خبره ده؟ په کوڅه کې څه بېــروبار دی؟

خانم ګله چې په چورت کې تللې وه ، يو دم يې ځواب ورکړ:

- نه پوهېږم، فکر کوم د دې کورونو هلکان کوڅې ته راوتلي.

استاد ګل احمد نه و قانع شوی، بيا يې وپوښتل:

ـــــــ د موټرسايکل او رېکشا غږ دی.

خانم ګله له ځايه پورته شوه ، د حويلۍ دروازه يې نيمه پرانيستله او کوڅې ته يې وکتل.

د ماشومانو له نويو جامو پوه شوه چې کوم محفل دی. د کرونا په ورځو کې يې د واده صالونونه بند کړي و. د واده او کوژدنو محفلونه به کور کې ترسره کېدل. خانم ګلې په کوڅه کې له کوچنيي جنۍ وپوښتل:

- څه خبره ده لورکې؟

نجلۍ په داسې حا کې چې ايسکريم يې څټلو ويې ويل:

- واده دی ، واده.

ښځې د حویلۍ دروازه کلکه بنده کړه. ترکوټې پورې له ځان سره ډونګېده. اساد ګل احمد ته یې وویل:

- د مخامخ ګاونډیانو په کور کې واده دی.

سپین ږیري وویل:

- همدا بادغیسیان یادوې ؟

- یوه لور یې کوژده شوې وه ، لکه چې د هغې واده دی.

استاد ګل احمد بیا وویل:

- نو بیا قرنطین څه شو! د کرونا په دې حالت کې بیا دا منډې رامنډې نو څه دي ؟

- دوی باور نه کوي ، وايي کرونا دروغ ده.

له هغه ورځې چې دا د اوږدې ګیرې لرونکی ګاونډی دې کوڅې ته راغلی او دوی ته یې مخامخ کور نیولی و؛ د دوی تر منځ یوه خبره نه وه شوې. د کوڅې دوکاندار ورته ویلي و چې هغوی د بادغیس له مالدارو خلکو څخه دي. کله چې په بادغیس کې وچکالي راغله ، دوی د هرات په خوا راکډه شول.

خانم ګلې بیا د څو لیموګانو اوبه په ګیلاس کې واچولې او خپل خاوند استاد ګل احمد ته یې ګیلاس نږدې کړ او ویې ویل:

- وڅښه ، د خدای شُکر دی چې ستا لړزېدا لـږ ورکه شوه، تود شوې.

استاد ګل احمد چې د مېرمنې له لاسه یې ګیلاس اخیست، ښځې ته یې په ژړغوني غږ وویل:

- ټول ځان مې خوږېـږي. داسې درد کوي لکه تراکتور چې له پاسه

راباندې تېر شوی وي.

مېرمنې يې پوښتنه وکړه:

- ګولۍ خورې؟ دا سرې يې د درد لپاره دي، يوه وخوره.

- ډېرې ګولۍ مې وخوړې، ويرېږم چې زړه او ينه مې له منځه يوونسي.

مېرمنې بيا په ګيلاس کې چای واچاو او وې ويل:

- لـږ ګرمې اوبه وڅښه، وايي اوبه د کرونا لپاره ښې دي.

- کومه کرونا ؟ ته ما مړه کوې ښځې؟

خانم ګلې بيا يو ليمو په چای کې وزبېښه او سپين ږيري ته يې ورکړ. استاد ګل احمد لږ څه راپورته شو، ګيلاس يې په سختۍ له مېرمنې واخيست، په لړزه يې چای وڅښه. خانم ګلې ورسره مرسته وکړه چې ګيلاس يې له لاسه ونه لوېږي.

د ماښام اذان چې وشو، په کوڅه کې په يو وار د موسيقۍ غږ لوړ شو. له کوڅې څخه د ګل احمد استاد کورته داسې لوړ غږ ته راته چې تا به ويل کوټه را ړنګه شوه : (( جونی جونم، بيا دردت به جونم، شب مهتاب لب دريا....... جونی جونم، بيا دردت به جونم، شب مهتاب لب دريا.....)).

د خوشحالۍ لوړو غږونه ، سپين ږيری هم په حرکت راوست. د غوږو له دروند والي سره سره يې ناڅاپه ټکان وخوړ او په ځای کې ګنګس او سربداله راکېناست. له څو شېبو وروسته يې چې اعصاب ارامه شول له ځانه سره يې په ژړغوني غږ وويل:

- خدايه توبه، دا لا پسې څوک دي ؟

په کوڅه کې د خلکو د تګ راتګ له امله ډېرشورماشور و. مېلمانه له کوڅې دویم منزل ته دننه کېدل. د واده درز او دروز پیل شوي و. له موټرو او د کور له دویم منزل څخه د استاد ګل احمد د خوب کوټې ته د سندرو غږ راته.

خانم ګلې د کوڅې لوري ته پرانیستې کړکې بندې کړې. له ځان سره یې وویل:

- بل وخت نه و چې د کرونا په دې خطرناک حالت کې یې واده کاوو ؟

په مخامخ کورکې د واده د سندرو تر څنګ، دویمه پېښه د ماښام پراووه بجې د استاد ګل احمد د کورلوېدیځ خواته د یوه کور مخې ته په کوڅه کې را منځ ته شوه. جنجال او چغې پیل شوې.

استاد ګل احمد تر څادره لاندې وپوښتل:

- بیا څه شورماشوردی و ښځې !؟

- نه پوهېږم، لکه چې شخړه ده ، همداسې خو مالومېـــږي.

- د دوی مېلمانه دي؟

- نه ، له هغې بلې خوا غــږ راځي.

دا یې چې وویل، پوړنی یې واخیست د کوڅې په طرف لاړه. په څنګ کوڅه کې یې، د کوڅې په لوېدیځه څنډه کې یې څو کسان ولیدل چې سره جنګ یې دی. ښځینه او نارینه، د سیمې واړه و زاړه او حتی ځینې لاروي، هم ولاړ دي. د یوې ښځې او یوه سړي تر منځ، او د یوه سړي او څو ماشومانو د شخړې ننداره کوي. خانم ګلې واورېدل چې یوه ښځه سپکې سپورې وایي:

- هغه بد کول چې زه يې د کرونا مريضه ياده کړې يم. په پلار دې لانت شي چې ويلي دي زه کرونا لرم.

خانم گلې وليدل چې ښځه خپل مخامخ نارينه ته وايي:

- دا ته، اوس په ما کې کرونا ليدلی شې؟ که زه کرونا ولرم داسې خبرې کولی شم؟

سړي ښځې ته په ځواب کې وويل:

ــــــ اوس خو هغه دلته نشته خورې! زه هم وايم چې بد يې کړي، تاسو يې هم وبښئ.

ورو ورو د سيمې ارباب او د گذر وکيل هم راغلل. د سيمې د ارباب په راتلو سره خانم گلې ته کيسه لا جالبه شوه او خبرې اترې تودې شوې. دې غوښتل په پېښه سمه پوه شي. خانم گلې چې څو دقيقې نوره هم ودرېده، لږ په اصله خبره باندې پوه شوه. کوم هلک د خپل گاونډي مېرمنې ته ويلي و چې تاسو کرونا لرئ. دې خبرې د گاونډي مېرمن حيرانه کړې وه اوخبره لويه شوه.خبره د ښځې خاوند ته ورسېده او بالاخره خبر تر شاهدانو ورسېده. خانم گله د خلکو له خبرو په دې هم پوه شوه چې په پېښه کې اصلي هلک ، چې پر ښځه يې د کرونا تهمت لگولی و نشته او ورک دی.

هغه هلک چې پر دې مېرمن يې د کرونا تهمت لگولی و، ۱۱۵ شمېرې ته يې زنگ وهلی چې راشئ دا د گاونډي مېرمن روغتون ته يوسئ چې کرونا نيولې ده. خانم گله لا ولاړه وه او دا حالت يې ليده چې په کوڅه کې د امبولانس غږ شو. تر څو يې چې د غږ لوري ته مخ اړاوو، امبولانس په کوڅه کې راتاو شو او هغه کور ته ورغی چې د

کرونا جنجال پکې و. وروسته د پولیسو یو رېنجر هم راغئ او ورسره نور خلک هم راټول شول. خانم گلې له دې زیات نه غوښتل چې په دروازه کې ودرېـږي ، کور ته راغله .

یوې خواته واده روان و او سندرې چالانې وې. بلې خواته په بله کوڅه کې د کرونا پر سر لانجه راونه وه، اموبولانس او پولیس هم ولاړ وو. خانم گله چې کور ته دننه شوه، استاد گل احمد یې په وارخطایي انتظار کاوو. له مېرمنې یې پوښتنه وکړه:

- څه خبره ده؟ د امبولانس څنگه راغی ؟

مېرمنې یې ځواب ورکړ:

- هغه ښځه چې یوه ورځ تا ویل بې سوره ټوخېږي، په همدې ټوخي یې له گاونډي سره جگړه وشوه.

سپین ږیري بیا پوښتنه وکړه:

- او هغه امبولانس ؟

- امبولانس هم په هغه ښځې پسې راغلی چې روغتون ته یې ورسوي. د گاونډي زوی روغتون ته زنگ وهلی ، هغوی هم راغلل چې هغه ښځه یوسي.

- هر څوک چې وټوخېـږي دوی یې بوولو ته راځي؟

استاد گل احمد سر په بالښت کېښود او وې ویل :

- کاشکې چې یو څوک خو بیا په هغه ځای کې ښه کېدلی.

سریې په څادر کې ور پټ کړ، ټوخی یې لا زیات شو.

په کوڅه کې روان جنجال د پولیسو او وکیل گذر په منځگړیتوب د شپې په اتو او اته نیمو بجو پای ته ورسېد. امبولانس له ناروغ پرته

روغتون ته ستون شو. امبولانس په ستنېدو کې چیغې نه وهلې. د امبولانس په ستنېدو سره غالمغال هم غلی شو. خو د واده مستي نوره هم زیاته شوې وه او کوڅه له مېلمنو ډکه وه.

د دې دوو پېښو ترمنځ، کله چې خانم گلې، استاد گل احمد ته درېیمه یا څلورمه کاشوغه سوپ ورکاوو، درېیمه پېښه رامنځته شوه. دا شپه داسې وه لکه هندي فلم، په پېښه پسې پېښه. د شپې نهه بجې وې چې یو ناڅاپه د ښي طرف گاونډي په کور کې، چې دیوال یې د استاد گل احمد د کور له دېوال سره نښتی و، چیغې او غوغا پیل شوه.

خانم گلې له ځان سره وویل:

- اوس ښه شوه ، یو دوی پاتې و ، دوی هم شروع وکړه.

استاد گل احمد د یوې مېرمنې او سړي له چیغو په دې پوه شو چې د نفس گلې او مراد تر منځ جگړه بیا پیل شوه، خانم گلې ته یې مخ ور واړولو:

- د خلیفه په کور کې څه نارې دي؟

خانم گلې د سوپ کاسه پورته کړه. د پخلنځي خواته چې تلله، ویې ویل:

- له هغه ورځې چې کرونا راغلې، جگړې هم ډېرې شوي دي. ودرېـــږه که دا قرنطینونه و، پر خلکو به نورې څه بلاوې راولې.

خانم گله چې له پخلنځي راستنه شوه، وی ویل:

- تالارونه بند شوي، مراد خو هم په تالار کې د اشپز شاگرد و. اوس بېکاره شوی دی، اوس یې له جنگه پرته بل کار نشته.

نفس گله د هرات له پخوانیو خلکو وه، خاوند یې مراد د هرات د



مرکزي سیمې و. هغوی دوه اولادونه درلودل. خانم گلې به چې نفس گله ولیده نو اول خو به یې د هغې د زوی پرویز غومبري کشول، بیا به یې نفس گلې ته ویل:

- رښتیا یې ویلي چې دوه رگه نسل ښکلی وي.

بیا یې د پروېز غومبوري ومومبل او ویل به یې :

- اخ له تا ځارشم.

بیا به یې نفس گلې ته مخامخ وویل:

- ماشالله ، اولادونه دې ښکلي او نازولي دي.

نفس گلې به یې په ځواب کې یوازې شرمېدلې موسکا کوله.

د واده په شورماشور کې د نفس گلې او خاوند غالمغال په زیاتېدو و،

بس چيغې وې. ښه خبره دا وه چې وهل ټکول پکې نه و، يوازې ښکنځل کېدل ؛ د يوبل قوم او قبيلو ته يې سپکې او پوچې ويلې. لږ څه وروسته، د خاوند پلار هم د مراد پر لوري شو او په جګړه کې شريک شو.

خانم ګلې وويل:

- دا سور ګيرى هم تل د خپل زوى پلوي کوي!

سپين ږيري ځواب ورکړ:

- حق لري، زوى يې دى...

غوښتل يې څه ووايي، خو ټوخي وخت ورنکړ او غږ يې پرې شو.

خانم ګلې وويل:

- په دې حالت کې هم حق نه وايې سړيه! زه د دوى ناوې پېژنم، پرښته ده، پرښته.

سپين ږيري له پټو لاندې وويل:

- هو، يو ته پرښته يې، يو هم ...

بيا يې ټوخي غږ بند کړ، ټوخي پسې ټوخى، تا به ويل چې سينه يې څيري کېږي.

ګاونډي سړي په لوړ غږ د خپلې نږور پلار او مور ته بد رد ويل. ورو ورو په جګړه کې د ښکېلو خلکو شمېر له څلورو پنځو کسوته لوړ شو. د خاوند مور او ورور يې په نوبت سره ښکېل شول؛ خو نفس ګلې، په هراتۍ لهجه، په يوازې ځان د پنځو کسانو ځواب ورکاوو.

د ګاونډي د کور دروازې خلاصه شوه. خانم ګلې استاد ګل احمد ته وويل :

- زما په خيال لکه چې نفس ګله لاړه.

سپین ږیري ترڅادره لاندې ځواب ورکړ:

- په دې نیمه شپه کې چېرې ځې؟

د دروازې په ترړل کېدو سره د نفس ګلې غږ هم ورک شو. تر شا یې د موټرسایکل غږ شو. مېرمنې بیا سپین ږیري ته وکتل او ویې ویل:

- نفس ګله لکه چې لاړه.

سپین ږیری ځواب ورکړ:

- د موټر سایکل غږ دی ، کېدای شي خاوند یې ورپسې تللی وي.

د نفس ګلې په تګ سره جګړه بنده شوه، خو د واده د ساز او ډول غږ لازیات شو. په دې وخت کې د څلورم ګاونډي په کور کې له درېیم منزل څخه د ژړا او فریاد غږ راغی. دا غږ داسې یو ناڅاپه راپورته شو چې د نفس ګل د کور لانجه یې په استاد ګل احمد او خانم ګلي هېره کړه. په هغه بل کورکې چې د واده مراسم روان و، د ساز او موسیقۍ غږ کم رنګه شو. په درېیم منزل کې د ښځو ژړا دومره لوړه شوه چې استاد ګل احمد یوناڅاپه په څادر کې نیم راجګ شو او په ځای کې کېناست. خانم ګلې ته یې وویل:

- څه خبره ده بیا ؟

خانم ګلې ځواب ورکړ:

- ولې جګ شوې ؟ بیا به دې یخ ونیسي. د فرایانو له کور څخه د ژړا غـــږ راځي.

د استاد ګل احمد څېره یې ژېړه اوښتې وه او ساه یې بندېده ، ویل به دې چې مړ کېږي. مېرمنې ته یې مخ کړ ویې ویل:

- د حاجي توریالی ساه بندېدله ، سینه یې د کب د سینې په څېر

ښکته او پورته کېدله.
- کرونا یې درلوده، که نه؟
- نه پوهېږم، ویل یې ناروغ دی. که کرونا یې هم وي خلک نه وایي.
- ولې جګ شوې؟
استاد ګل احمد خپل لاس د مېرمنې لوري ته وړاندې کړ، ویې ویل :
- ما ونیسه ښځې ! یو ګیلاس اوبه راکړه، ستونی مې وچ دی.
مېرمن یې بیا لیمو د ګرمو اوبو په ګیلاس کې وشېپېلل او ګیلاس یې خاوند ته ورکړ. استاد ګل احمد وټوخېده، ګیلاس یې له لاسه ولوېده.
خانم ګلې وژړل:
- په تا څه شوي، ولې داسې شو یې؟
خانم ګلې استاد ګل احمد په مهربانۍ سره تر لاس ونیو، ویل به دې چې له درېیم منزل څخه د ښځو د غږ په اورېدلو سره یې له سپین ږیري سره ډېره خواخوږي پیدا کړه. ویې ویل:
- ویده شه !
استاد ګل احمد په ارام سره خپل سر پر بالښت کېښود، خوساه یې نه اخیسته.
خانم ګلې، څادر پر سر ورکش کړ تر څو له هغه درېیم منزل څخه د ښځو ژړا د غږ د سپین ږیري غوږو ته ونه رسېږي. په مهربانۍ سره یې خپل خاوند ته وویل:
- مړه خو مړه دي، ته ولې ځان خپه کوې. هغه خو د زړه ناروغي درلودله. مېرمن یې ویل شکر یې هم درلو. په کوڅه کې به نشوای تلای.

له دریـم منزل څخه د ښځو ژړا پر استاد ګل احمد د درانده بار په څېروه. د ګاوندي په کورکې په درېیم منزل کې د سپین ږیري مړینه د استاد ګل احمد لپاره د مرګ د شپېلۍ وه. د زړه ټکان یې زیات شوی و او په ځان کې یې درد له سره پیل شوی و. ویل به دې چې د عزرائیل (ع) کار په درېیم منزل کې پای ته ورسیږي د استاد ګل احمد لوري ته به راځي. مېرمن یې وویل:

- موټـر راوغواړم چې ډاکټر ته لاړ شو؟

- استاد ګل احمد څه وویل چې مېرمن یې پرې پوه نشوه. خانم ګل ټلیفون یې راپورته کړ او نومره یې لټوله. اوس نو د شپې دوولس بجې وې، په دې نیمه شپه کې د غم اوازونو د اسرافیل د شپېلۍ په څېرحالت جوړ کړی و، تابه ویل چې قیامت شو. ښځې شمېره یې لټوله، په دې وخت کې د ګاونډي له کوره د نڅا او ساز غږونه بند شول. شپه نیمه شوې وه، مېلمانه یو یو کوځې ته وتل او له محفل څخه یې خدای په اماني کوله. په درېیم منزل کې هم غږونه ورک شول. خاموشي خوره شوه. په دې چوپتیا کې چې خانم ګلې هر څه وکړل چې د خپل خاوند استاد ګل احمد غږ واوري خو بریالۍ نشوه. تر دې چې د ستوني د خرخر غږ یې هم بند شو. کور د ګل احمد استاد، د مېرمنې لپاره لکه ګور سوړ او تیاره شو.



# گرداب

«گرانو ښاريانو! کرونا جدي وګڼئ ، له کرونا سره د مبارزې په خاطر دغه لارښوونې په پام کې ونيسئ:

له کور څخه د وتلو پر مهال ماسک وکاروئ، له يو بل سره په لاس اوغېږ روغبړ مه کوئ . څومره چې کولای شئ تازه مېوه او ترکاري وخورئ....».

څو ورځې کېدلې چې فېروزکوه ته کرونا را رسېدلې وه. په کوڅو او لارو کې د لاسپيکر غږونه اورېدل کېدل. حکومت د نورو ښارونو په څېر په فېروزکوه کې هم د کرونا پر وړاندې د روغتيا وزارت لارښوونې خلکو ته په لاسپيکر بيانولې؛ ترڅو خلک دا پوهه ترلاسه کړي چې له کرونا سره څنګه مبارزه وکړي.

خلک باید خپل لاسونه په ورځ کې څو ځلې په اوبو او صابون پریمینځئ، له لاس اوغېږې ورکولو ډډه وکړئ، او...

د کرونا په اړه د دې پوهاوي ترڅنګ ښار د ۱۵ ورځو لپاره قرنطین شو.

هغو خلکو چې له دې وړاندې يې پر کرونا کم باور درلود ، د ادارو له قرنطین او په لاسپيکرو د پرلپسې خبرتيا وو له امله يې په زړونو وېره ګډه شوه. فېروز کوه دومره نېکمرغه ښار نه و، د دولت او طبيعت له مينې پرته اوس کرونا هم پکې وتوکېده. دا ښارپه کال کې يوه اوږده موده سړه هوا لري . دې سړې هوا ښار له ونو او شنو ځمکو خالي کړی. په دې ښار کې د مېوې ونې له دې امله مېوه نه نيسي چې يوازې درې مياشتې اوړی لري.

په يوه ځای کې مې لوستي و چې د رياضي کوم ښوونکي پوښتنه کړې وه چې ، که په يوه لوښي کې درې دانې نارنج موجود وي او دوه دانې نارنج په بل لوښي کې وي، ټول څو نارجه کېږي؟ يوه زده کوونکي لاس جګ کړی و، پوښتنه يې کړې وه چې ښوونکی صيب دا نارنج يې لا څه شی وي؟

دا کيسه که ټوکه وي او که رښتيا، ښايي د غور په يوه ښوونځي کې پېښه شوې وي. د دې ښار يوزاينۍ ښکلا په ځانګړې توګه په دوبي کې د هريرود سيند دی. هريرود د دې ښار له منځه تېرېږي او ښار په دوو برخو، جنوب او شمال وېشي. خو ښاريان بيا له دې اوبو هيڅ ګټه نه اخلي. د ښار د يوه اوسېدونکي په وينا چې (( موږ په دې سيند هيڅ کار نه لرو، په دې شرط چې سيند به هم له موږ سره کار نه لري)).

په دې ښار کې یو دودیز کار، خس راټولول دي. خلک د خسو (بوټي او لرګي) بار له غرونو ښار ته راوړي، په بازارکې یې خرڅوي او په پیسو یې جنراتور ته یو ګیلن تېل اخلي او د جنراتور پر برېښنا تلویزیون ګوري. که ترکي سریالونه ونه ګوري، شپه یې نه سبا کېـږي. د دې تر څنګ ځینې خلک مالداري کوي او رمې لري. تر دې ورهاخوا که خلک کاروبارغواړي باید ښار پرېږدي او په سفر لاړشي. د فېروز کوه ځوانان که ترهرات پورې د لارې خرڅ ولري، ایران ته ځي. هغه کسان چې پیسې ورسره کمې وي، هرات ته ځي، تر څو خپلې کورنۍ ته یوه ګوله ډوډۍ ومومي. آلبرکامو د «طاعون» په کتاب کې د «ارن» طاعون وهلي ښار په هکله وایي:

« د یو ښار د پېژندلو لپاره ساده لاره داده چې د هغه ځای د خلکو د کار کولو په څرنګوالي باندې پوه شو، څرنګه مینه کوي او څرنګه مري» .

خو په فېروز کوه کې نه کار شته او نه مینه. یوازې د مړینې په څرنګوالي خبرې کېدای شي. په دې ښارکې خلکو ته له پخوا څخه له وبا د خلکو مړیني په یاد دي. دوی ته په پخوا تېرو کلونو کې د شري له امله د خلکو مړینه او په بنګله دېش کې د لوږي له امله د ماشومانو مړینه یاده ده.

او اوس دغه ده د کرونا بلا نازله شوه. د ښار په زړه کې د کرونا د راتګ ګنګوسې شوې. د هېواد له نورو ښارونولېري والي ، د غور خلک په دې ډاډه کړل چې دلته کرونا نشي راتلی. له کوچني اختر وروسته هم دا باور د خلکو په ذهنونو کې موجود و؛ خو له ایران څخه غور ته د

مسافرو راستنېدل، په اخترکې له یو بل سره لیدل، د دې لامل شول چې په ښار کې د کرونا لومړۍ بېلګې وموندل شي. په روغتون کې د کرونا د لومړي ناروغ بستري کېدل، خلک ووېرول.

ښار کوچنی و، کله چې ادارې رخصت شوې، خلک په خپلو کورونو کې پاتې شول. په دې کې مسافر کار کوونکي، د دولتي ادارو او خصوصي موسساتو مامورین چې مسافر ول، نور هم زړه تنګي شول. په فېروز کوه کی لوړ رتبه دولتي کارکوونکي د هېواد د نورو سیمو اوسېدونکي دي. په غور کې له میدان وردګ څخه تربدخشان، لوګر او هرات پورې، د ټولو ولایتونو مامورین شته دي. دې مامورینو ته چې به کله هم خپل کور او کلی ورياد شو نو د تفرېح لپاره به ځای لټاوو. له خلکو به يې پوښتل چې په دې ښارکې تفرېح ځای چېرته دی ؟

ځینو به ورته ویل چې، فېروزکوه د تفرېح لپاره چندان ځای نلري، ځینې خلک کله کله د وردګو سیمې ته ځي چې د ضحاک کلي د ونو تر څنګ دی.

د ضحاک کلا د ښار په ختیځه سیمه کې یو ړنګ کلی دی چې دولت یار ولسوالۍ ته د فېروز کوه پر لار د هریرود سیند تر څنګ ده. دغه ځای  د وردګو د سیمې په نامه هم یادیږي. د کلا په شمالي برخه کې، د سیند تر څنګ د چنار او بېد ونو د ځنګل په څېر یوه فضا جوړه کړې ده. په فېروز کوه کې د تفریح کولو یوازینی ځای همدا دی. د سیمې د خلکو په وینا: (( مرغۍ پر ونو د کېناستلو لپاره نوبت نیسي )).

پر مرغیو سربېره، ماشومان هم د دوبي په لنډ فصل کې سیند ته څېرمه د وردګو سیمې ته ځي او د سیند په کمو اوبو کې لامبو وهي؛ په دې ډول

له هریرود څخه خوند اخلي.

وړمه ورځ چې د۱۳۹۹ لمریز کال د اوړي له ورځو یوه ورځ وه، د ښار ماشومانو د هریرود سیند تر څنګ په ګډه د کرونا سندره ویله :

« خپل لاسونه په صابون او اوبو پاک پرېمینځئ، نورو ته له لاس او غېږ ورکولو ډډه وکړئ...»

په پای کې به ټولو په لوړ اواز غبږ کړ:

« تر خپله وسه تازه میوې او ترکاري وخورئ ».

د دې سندرې په ویلوسره به ټولو د اوبو پرمخ د هندوانو او خټکیو د پوټوکو پر لوري ور وځغاستل. د هندوانو او خټکیو پوستکي به له پاسه د اوبو پر سر ښکته را روان وو.

د سیند په پورتنۍ برخه کې د بېد او چنارونو تر سیوري لاندې، پر سرو قالینو به لوکس خلک ناست ول او بالښتونو ته به یې ډډه وهلې وه. ځینوبه یې لوکس کالي او منظمې درېشۍ اغوستې وې، یوه نیم به یې نیکټایي هم پرغاړه وه. مېلې ته راغلي خلک به ګروپ ګروپ ناست وو او چای به یې څښنه. ځینو ځوانانو به قېټې (ورقې) کولې او سپین ږیرو به کیسې یې کولې. لږ هاخوا به ځینو کسانو منقلونوته پکه وهله او کباب به یې پخاوو. د دوی تر څنګ ناستوځینو کسانو په قابونو کې مېوې ټوټه کولې او پوټوکي یې اوبو ته اچول.

د دې خلکو له څېرو، له هایلکس او کروزین موټرو دا جوتېدله چې هغوی یا دولتي مامورین دي یا د بهرنیو موسسو کارکوونکي دي ؛ یا هم هغه خلک دي چې په دې ښار کې مسافر دي. د سیمې خلک پوهېدل چې یوازې هغه کسان په دې ښار کې د تفرېح شوق کوي چې

، په موسسوکې په ډالري تنخواوو کارکوي. دوی دلته هم ځان قرنطین باله او هم یې تفریح کوله.

له دوی ها خوا د ونو په منځ کې د هریرود پرغاړو یو شمېرعسکري موټرې ولاړې وې. سرتېري له یو بل لرې له خپلو ټوپکو سره لاس په ماشه ولاړ وو. د هرې ونې تر څنګ یوه عسکرپیره کوله. د دې صحنې په لیدو به، د انسان په زړه کې وېره خوره شوه ؛ ورخطا کېده به ، اندېښنه به یې شوه چې خدای مه کړه جګړه پېښه نـشي. دا عسکرولې لاس په ماشه دي؟

د مېله ځای په بله برخه کې ځینې ځوانان په تبله، هارمونیه او دمبوره خوږ ساز کوي او مېلمانه خوشحالوي . دوو تنو نڅا کوله، یوه بل بیا په کندوزي سبک سندرې ویلې :

وی ښار ته کرونا راغلې، لاس او پښې پرېمینځئ !

غېـږ یو بل ته ورنکړئ ، د یو بل تر څنګ مه کېنئ!

له هنرمندانو په لږ لرې واټن کې، ماشومانو بل ګروپ جوړ کړی و. ماشومان له امنیتي کسانو یو څه لېري ، ځینې ناست او ځینې ولاړ ول. دوی پرغالۍ ناستو کسانو ته کتل. په ډېر ځیر سره یې د هغوی ټول کارونو څارل. درې تنو سرو منقلونو ته پکې وهل او کباب یې پخاوو. دوو تنو عسکرو وسلې یوې خواته ایښې او په لوښو کې یې مېوه اچوله.

په پټنوسونو کې نوشابې او د مېوو اوبه ایښې وې. چې چا به معدني اوبه یا کومه نوشابه وڅښله بوتلونه او خالي قوتي به یې لېري واچول. ماشومانو به په تشو قوتیو او بوتلونو ورمنډه کړه،هر ماشوم به د ځان

لپاره د پیپسي قوتي او د اوبو بوتلونه راټول کړل. دوی هر یوه د دې شیانو د ساتلو لپاره ځایونه جوړ کړي و.

د اوبوهر بوتل او د نوشابو هرقوتی چې به تش شو، د ماشومانو په طرف وراچول کېده. د ماشومانو تر منځ به د بوتلونو پرسر بزکشي پیل شوه. کله کله خو به د یوه خالي بوتل پرسر داسې صحنه رامنځ ته شوه چې تابه ویل د بېسبال (امریکایي فوټبال) سیالي روانه ده.

په پای کې به ماشومانو په ډله یزه توگه، هغه په لاسپیکرونوکې د کرونا اعلانونه په ریشخند سره زمزمه کول : « د تازه او ویټامین سي لرونکو مېوو اوبه نوش جان کړئ !»

بیا به یې پر بل خالي بوتل سره لانجه شوه، هر ځل به یو سرتېری راته او ماشومان به یې تر غوږ کش کړل.

- ځئ لاړ شئ ، ورک شئ! که بیاځل راغلئ، له پښو مو نیسم سیند ته مو اچوم.

ماشومان به د چنار د ونو تر منځ خپاره شول. کله به چې سرتېری لاړ، بیا به یو یو محفل ته راټول شول. هریـرود مست او له ځپو ډک و. تابه ویل چې د ماشومانو دې صحنې ته خاندي. اصله کیسه خو به هغه مهال پیل شوه چې خلکو به مېوه خوړل پیل کړل. کله به چې هنداونې یا خټکي په قابونو کې واچول شول، سرتېرو به یې پوټوکي هریرود ته ور واچول. هریرود به د مېوو دا پوټکي په خلاص لاس تر ماشومانو پورې لاندې راوړل ، بیا به نو ماشومانو له اوبو د دې پوټوکو د رانیولو پر مهال چیغې کړې :

« ځومره چې کولای شئ تازه مېوې وخورئ ».

له دې مخکې چې د اوبو پر سر د مېوو پوټوکي غرق آوي (د غرق کولو ځای) ته ورسيږي، ماشومانو به يې د رانيولو لپاره هڅه کوله. ځيني هلکان خو به په اوبو کې تر سينې د ننه شول، ترڅويې لاس پوټوکو ته ورسېږي. پوټوکي به يې را ونيول او بيا به يې خوله پرې ولګوله. کوم پوټوکي به چې له هلکانو تېر شول لږ وړاندې د اوبو يوې ګردابي ته لوېدل، د ګردابې اوبه، به داسې څرخېدلې چې تابه ويل کومې څاه ته ور توېـــږي.

ماشومانو هغه ځای ته غرقاوه (دغرق کولو ځای) ويل. کوم غټ شی به چې د غرقاوې څنډې ته ور ورسېده، غرقاوې به هغه د مار په څېر خېټې ته تېر کړ. يوه ورځ وروسته ، کله هم دوه ورځې، حتی يوه اونۍ وروسته به د سيند په لاندې برخو کې يوې څنډې ته پروت و.

ماشومانو د سيند په کوزه برخه کې د سيند پرغاړه کمين ونيو. د هندوانو او خټکيو پوټوکي سرتېرو سيند ته واچول. ماشومانو د هندوانو او خټکيو د پوټوکي په ليدلو سره خوشحاله شول او ځانونه يې سيند واچول چې د هندوانو او خټکيو پوټکې را ونيسي. سرتېرو يې ننداره کوله. ځينو به يې د دې نندارې په ليدو خندل. ماشومانو به د بزکشۍ د پهلوانانو په څېر د دې پوټوکو د لاسته راوړلو لپاره يو بل وهل او ټېله کول به يې. کله به چې شخړه زياته شوه سرتېری به راغی او په غوسه به يې هغوی سره بېل کړل. بيا به ماشومانو په ګډه چيغې کړې : « تازه ترکاري او ويټامين سي لرونکې ميوې زياتې وخورئ ».

پر غاليو ناستو کسانو به په کړس کړس وخندل. د ماشومانو په ډله کې ، خيرالله په يوه پښه ګوډ و. دی به تل له نورو وروسته پاتې و. غږ

یې هم له نورو تېت و. د نورو چیغې به چې خلاصې شوې، ایله به د خیرالله غږ واورېدل شو :

« تازه او ویټامین سسسسي لرونکي مممممممېوې وخورئ ، کرونا راغلې ده ».

د خیرالله سترگې چې د سیند د اوبو پر سر د ختکي او هندوانو پر پوټوکي ولگېدې، چیغې یې کړې : « زما مااااال دی ... پوټکې زما دي ....».

سلطان وویل : « ولې به ستا مال وي ، اول خو ما وویل » .

خیرالله چیغه کړه : « ههههغه بل هم زززما و، تا واخیست ».

د خیرالله او سلطان د خبرو په لړکې، د اوبو پر څپو راروان پوټوکی دوی ته نور هم نږدې کېدل. نورو ماشومانو هم نیمه خوړل شوې منه، د هندوانې پوټوکي ، نیم خوړل شوي بادرنگ د اوبو له سره رانیول خو خیرالله او سلطان د ختکې پوټوکی تر سترگو لاندې کړی و. ترڅو چې هغه پوټوکی را رسېده ، د دوی دواړو پرې جنگ شو. خیرالله او سلطان د یوه او بل مخ ته اوبه ورشیندلې چې د هندوانې سور پوټوکی د سیند غاړې ته راورسېد. پوټوکي د سیند پر غاړه ټکر وکړ او بېرته له څپې سره د اوبو منځ ته شو او لږ لرې شو. خیرالله خپل لاس وراوږد کړ چې را وې نیسي ، آن تردې چې لاس یې هم پر پوټوکي ولگېد خو پوټوکی لېري لاړ. په دې وخت کې سلطان وار وکړ، خیرالله یې له شا راونیو او د سیند له غاړې یې شاته کش کړ. سلطان د اوبو پر څپو ورټیټ شو او پوټوکي ته یې لاس وراوږد کړ. په دې وخت کې خیرالله له ځایه جگ شوی و، لامبو یې پیل کړه ، تر سلطان پورې یې ځان را ورساوو او سلطان یې

په داسې حال کې وواهه چې سر یې اوبو ته ټیټ کړی و. سلطان د دې ګذارله امله د غور د خلکو په وینا «سرغومبک» وواهه. هلکانو چیغې کړې : (( غرقاوي، غرقاوي ...)) د سرتېرو ور پام شو؛ یوه سرتېری ځان اوبو ته ورواچاوو خو سلطان ګرداب ته رسېدلی و. د غرقاوي د یوه لیوه په څېر د سلطان ډنګر ځان وخوړ. ټول ماشومان د سیند غاړې ته راټول شوي ول، هغه ځای ته یې کتل چې سلطان پکې ورک شو. خیرالله هک حیران و. هغه سرتېري چې ځان یې سیند ته اچولی و، غرقاوي ته تر رسېدو وړاندې یې ځان د سیند غاړې ته کړ، د ونې ریښه یې راونیوله خپل ځان یې یوې خواته کړ او چیغې یې کړې :

- غرقاوي کش کړ، د اوبو زور زیات دی، غرقاوي ورکش کړ.

یوه ماشوم وویل:

- زه یې چیغې اورم.

یوه سړي چې درېشي یې کړې وه پر ماشومانو غږ وکړ:

- کور مو وران شه چې زموږ مېله مو را خرابه کړه! ځئ ورک شئ.

مېلې ته راغلي خلک په چټکۍ سره پر خپلو موټرو کې سپاره شول. موټر یو یو په چټکۍ سره له سیمې ووتل. په یو ځل د سیند غاړه له خلکو تشه شوه. د مېله کوونکو له تګ سره ماشومانو، پر پاتې شویو مېوو ور حمله کړه خو سلطان یې په منځ کې نه و.



# د کرونايي مړي غسل

کیسه هغه وخت پیل شوه کله چې خلیفه عزیزالله وفات شو. د کرونا له امله د خلیفه عزیزالله د مړینې خبر په سیستان ښارګوټي کې سم د بم چاودنه وه. خلیفه عزیزالله په سیستان ښارګوټي کې اوسېده چې د نیمروز ولایت له پلازمېنې زرنج ښار څخه یوڅه دباندې و. د خلیفه عزیزالله مړینه د کرونا لومړنۍ مړینه وه، چې د ښارګوټي په اوسېدونکو کې د وېرې لامل شوه. هغوی لا تراوسه پر کرونا باور نه کاوو.

جنجال هغه مهال زیات شو چې مړي ته د غسل مسئله رامنځته شوه. دا چې مړی پر کرونا اخته کس و، د جومات ملا امام یې په خپله دنده کې پاتې راوستی و. له یوې خوا د دیني مسوولیت ادا کول او له بلې خوا

د خپل ځان ساتنه پر یو وخت دوې سختې خبرې وې. بالاخره نتېجه دا شوه چې ملا امام خپل امامت په سیستان ښارګوټي کې له لاسه ورکړي.

د ملا تګ او د ښارګوټي د جومات لپاره د نوي ملا ګومارل د هغه ځای د خلکو لپاره تل ستونزمن و. ځکه د سیستان ښارګوټی څو کاله وړاندې د کندهار نیمروز پر لار د نیمروز ښار څخه یوڅه دباندې نوی جوړ شوی و او تراوسه یې ټول او مجهز امکانات نه درلودل. د هغه ځای خلک د ډېرو چارو لپاره له ښارګوټي دباندې تلل، چې یو یې د ملا لټول و. کله به کندهار، کله هرات او حتی کابل ته به پسې تلل.

ملا یوسف اصلاً د غزني و. حاجي ارباب هغه په هرات کې د خپلو دوستانو په مرسته، له غزني را وستی و. سیستان ښارګوټي ته به چې هر ملا راغی د مسافرۍ ژوند به یې کاوو. د خوب ځای او ډوډۍ یې هم د سیمې خلکو ورکوله. د ملا چای او ډوډۍ هره ورځ پر یوه کور حواله وه.

ملا صیب ته یې د اوسېدو لپاره د جومات په یوه ګوښه کې یوه کوټه، یو تشناب او یو کوچنی دهلېزورکړي و، چې اصلا د جومات د خادم لپاره و خو اوس خادم له ملا سره یوځای اوسېده. سهار وختي چې ملا یوسف د کوټې کیلي د جومات خادم استا رمضان ته ورکوله ورته وې ویل :

- ښه رمضان استاذ! له ما که دې بد لیدلي وي او که دې ښه لیدلي وي، ماته به بښنه کوې.

استاذ رمضان چې پر خپل مخ یې ماسک سمولو ځواب یې ورکړ:

کوم بـــد ملاصیب !؟ خدای د نکړي. بخښنه خو به ته کوې چې خپه

رانه ځي.

دا « خپه رانه ځئ » يې چې وويل، يو ډول خجالتي يې په څېره کې ښکارېدله. ملا يوسف چې غوسه او شرم يې په څېره کې له ورايه معلوميدل ، استاذ رمضان ته وويل:

- زما دنده مقدسه ده، خو د انسان ژوند هم مهم دی، موږ هم پوهېږو چې د ځان ساتنه تر دندې ضروري ده.

استاذ رمضان وويل :

- ملا صيب ! په داسې غم واوښتو چې بې تا يې کړو. دغه دی ته جومات پرېږدې.

ملا ځواب ورکړ:

- بس هرڅه چې و تېر شول. پخپله حاجي ارباب هم حاضر نه دی چې جومات ته دننه را شي، څنګه بيا له ما تمه لري چې خليفه عزيزالله ته غسل ورکړم. څه ساده خبره خو نه ده ، د کرونا له امله وفات شوی. که ارباب ته خپل ځان خوږ دی، زموږ اوجود خو هم څه لوټه يا ډبره نه ده. موږهم اولاد لرو، ښځه لرو، ژوند لرو. ماته وايي ستا ديني دنده ده، غسل ورکړه.

د ملا يوسف موخه د حاجي ارباب پرونۍ خبرې وې. کله چې حاجي ارباب وويل : «ملا صيب ! دا ستا ديني دنده ده چې خليفه عزيزالله ته غسل ورکړې»، ملا يوسف ځواب ورکړی و:

- د هر چا ديني دنده د ځان حفاظت دی.

حاجي ارباب يې په ځواب کې ويلی و:

- ملايي د همدې ورځو لپاره وي .

- د ملا ديني دنده، امامت دی نه د مړو مينځل.
اوس بيا حاجي ارباب وويل:
- ملا صيب، که جنازه له دې زياته پاتې شي، په دې پنځوس درجه ګرمي کې خرابېـــږي، بوی کوي، راشه دې مړي ته غسل ورکړه چې خښ يې کړو.
حاجی رښتيا ويل، تر اوسه د سهار لس بجې نه وې، د تناره په څېر ګرمه هوا لګېده. د کال په دې وختونو کې د نيمروز تودوخه کله تر اته څلوېښتو او پنځوسو رسېـــږي.
ملا ځواب ورکړ:
- زه ستاسو ملا يم حاجی صاحب نه مرده شوی. ما له تاسو سره کوم قرارداد نه دی امضاء کړی چې مړي ته به غسل ورکوم.
حاجي وويل:
- نو ولې دې له دې وړاندې مړو ته غسلونه ورکول؟ په هماغه لومړۍ ورځ دې بايد ويلي وای چې زه مړو ته غسل نه ورکوم. چې موږ يو فکر کړی وای.
- له دې مخکې مې که غسل ورکړی، اول خو مې غلطي کړې، له ناپوهۍ مې کړې ما وبښئ، دويم د ثواب لپاره مې غسل ورکړی چې د اخرت ذخيره مې شي، کومه رسمي وظيفه مې نه وه.
د سيمې څو کسان چې د خليفه عزيزالله له نږدې او لرې خپلوانو څخه وو، پر جومات کې راټول شوي وو او مړي ته ناست يا ولاړ و. دوی د حاجي ارباب او ملا يوسف شخړې ته غوږ نيولی و. ټولو ماسکونه اچولی وو او ځينو خو يې دستکشي هم په لاس کړې وې.

په دې منځ کې دوو کسانو چې په خپلوکې یې خبرې کولې ، د ملا قمر الدین زړه کیسه کوله. یوه یې وویل:

- دا پېښه هم د خدای بښلي ملا قمرالدین د کیسې په څېر ده، د ملا قمرالدین کیسه دې په یاد ده؟

دویم یې وویل:

- هاغه چې ویلي یې وو زه د یوه من غنمو لپاره ځان د لېوه خولې ته نه اچوم؟

لومړي کس وخندل او ویې ویل:

- هوکنه ، وایي ملا قمرالدین په کوم کلي کې ملایي کوله، د کلي ارباب ورته ویلي و چې ملا صېب ولې د سهار لمانځه ته اذان نه کوې؟ - په هغو وختو به په کلیو کې لېوان زیات وو، په تېره خو به په ژمي کې گلې گلې لېوان کلي ته راښکته کېدل - ملا قمر الدین ورته ویلي و چې ارباب صېب زه د یوه من عنمو لپاره ځان د لېوانو خولې ته نه وراچوم.

دې بل ملگري یې زیاته کړه :

- اوس هم هماغه کیسه ده، بېچاره ملا یوسف هم رښتیا وایي، له یوې خوا ډاکټران وایی د کرونایي مړي جسد ته مه نږدې کېږئ او دلته موږ ورته وایو چې ملاصیب ته راشه زموږ مړي ته غسل ورکړه.

- خلک وایي چې په هرات کې د کرونا مړی له جامو سره ، له شرعي مراسمو پرته یوې کندې ته اچوي

- هو، هو! وایي له ښار دباندې یې یوه لویه کنده جوړ کړې، د کرونا مړي هماغه ځای ته وړي او کندي ته یې اچوي.

- که سبا په ملا یوسف څه وشي، خون یې زموږ پرغاړه دی.



د ملا یوسف او حاجي ارباب په دې جنجال کې ملا حاجي ته وویل:
- ولې یې خپلوان غسل نه ورکوي؟ پر خپلوانو خو یې حق دی، هغه کسان یې چې میراث اخلي.
حاجی، یوسف ته وویل:
- ملا صیب ته خو په دعوه کې نرخ ټاکې. د مړي غسل یوه شرعي مسئله ده، عادي غسل خو نه دی، که یوازې د مینځلو بحث وي، هر څوک یې مینځلی شي. ته دومره وکړه چې راشه د مړي تر څنګ ودرېږه ،هېڅ لاس مه وروړه، یوازې لارښوونه وکړه. په دې کې خو کوم خطر نشته!
ملا ته په دې وخت کې یو فکر ورغئ، حاجي ارباب ته یې وویل:
- څوک یې مینځي؟ هر څوک یې چې مینځي ولاړ دې شي، زه د

شیشې له شا ورته د غسل آداب او شرایط ورښیـیم ، غسل دې ورکړي. که داسې هم نه کوئ، زه به په موبایل لارښوونه ورته کوم.

حاجي ارباب ، سردار ته چې د مړي تر څنګ ناست و غبږ کړ.

- سرداره ته یې مینځې؟ راشه خو پلار دې دی ، اول حق یې په تا دی. راشه غسل ورکړه. ملا صیب به په ټلیفون لارښوونه درته کوي.

ملا یوسف سردار ته وویل:

- که انټرنټ لرې زه د تصویر له لارې لارښوونه درته کوم. ته دې د وټسپ یا ایمو، شمېره راکړه چې اړیکه سره ونیسو.

ملا یوسف د جومات تر څنګ یو سیوری وموند او هلته کېناست. ماسک او دستکش یې راویستل موبایل ته یې کتل او پیل یې وکړ:

- ګوره سردارګله! اول یې سر او غاړه ........ سر او غاړه سمه پرمینځئ. آفرین، سمه ده، دومره صابون وهلو ته اړتیا نشته،...... سمه ده ، دغسې .... افرین .... اوس اوبه پرې واچوه، هو افرین....اوس یې ښي اړخ ته ، له مټ څخه د پښو تر ګوتې پورې، ... وروسته کیڼ اړخ، له مخې دې حیا وي د جنابت د غسل په څېر........ افرین ..... د جنابت غسل خوبه دې زده وي؟

د حاجي ارباب موډ خراب و، ملایوسف ته یې د څو کسانو په مخ کې وویل:

- ملا صېب له نن وروسته رخصت یې. هغه ځای ته ولاړ شه چې خلک یې هېڅ مړی نلري.

ملایوسف خپل موبایل بند کړ او ویې ویل:

- حاجي صېب!رزق الله (ج) ورکوي، که نه نو څوک چې مجبور نه

وي، د نیمروز په دې دوزخ کې پښه نـږدي.

نن سهار ملایوسف خپل بکس او بار ټول کړل، ږیره او برېت یې اصلاح کړل غزني ته روان شو. د کوټې کیلي یې استاذ رمضان ته ورکړه، له هغه څخه یې ډېره مننه وکړه چې تل یې په خدمت کې و. استاذ رمضان یې په ځواب کې وویل:


- ملا صیب! خدای شاهد دی چې حقداره ته یې، خوشه وکړو له یوه لوري کرونا له بل لوري دا ګرمي وګوره، اعصاب یې بیخي راخراب کړي، ته یې هم له ملایي وایستې.

ملا یوسف وویل:

- کرونا ښې نخرې راوکړې، په سوچ کې مې هم نه و چې زه به د سیستان د ښارګوټي امامت پرېـږدم.

ملا صیب بستره پر شاه استاذ رمضان ته لاس وخوځولو او ورته وېې ویل:

- د خدای په امان.




# د ملا تــــنخــــواه

د کرونا له راتګ یوه میاشت کېدله. هرڅه قرنطین، ښوونځي هم بند وو. په کورکې مو په یوه کار هسې ځان بوخت کړی و. پلار مې چې د کرونا ټسټ یې مثبت شو، شکریې جګ شو او د پښو له درد څخه په عذاب و. د کویډ ۱۹ له روغتون څخه نوی رخصت شوی او کور ته راغلی و. تل به یې د زیتون او شړشمو په تېلو یې خپلې پـښې غوړولې. په ټول کور کې د تېلو بوی و. پلارمې ډېر ټوخېده، کله به یې چې وچ ټوخی پیل شو، د جیپ موټر د سلنسر په څېراواز به یې کاوو. د لاس لکړه به یې را واخیسته او پر تخت به اوږد پرېوت. د تخت پر څنډه به یې ځان تکیه کړې وه، ساه به یې بندېده. مورمې لږ هاخوا د ګنډلو ماشین ته ناسته وه ، کوم څه یې ګنډل . ماشین به چې تار وشکاوو نو

مور به مې ماشین ته یو درز ورکړاو وبه یې ویل:

- خاورې دې د لیلامي مال پرسر شي.

ماشین به یې پورته کړ، شکول شوی تار به یې راویست او کار به بیا پیل شو ،ګرررررررر.

د کور پر دروازه مو یوه لوحه لګولې وه چې پرې لیکلي و« د ښځینه او ماشومانو د جامو ګنډل »

ما څلورم ټولګی نوی پای ته رسولی و. ویل کېدل چې درسونه انلاین شوي دي. د دې لپاره چې په درسونو کې شاته پاتې نشو، په کورکې مو درسونه پیل کړل. یوه ورځ مو دروازه ټک ټک شوه - زه له صفر سره چې په پنځم ټولګي کې و ـــ په درسونو بوخت وم او د انګلیسي کلیمې مو زده کولې. هغه په انګلیسي پوښتنه کوله او ما ځواب ورکاوو.

- اپل؟

- مڼه.

- برید؟

- ډوډۍ.

- دروازه

- دور.

صفر وویل:

- نه ، وایم دروازه...

ومې ویل:

- دور.

دروازه بیا ټک ټک شوه، صفر د دروازې په طرف اشاره وکړه وې

ویل:

- وایم دروازه ټکېـــږي، ورشه دروازه پرانیزه.

کله به چې د کور دروازه ټک ټک شوه، مورمې په موږ غږ کاوو چې دروازه پرانیزو، صفر به کارکې لټ و، دروازې ته به نه ورته. که په کورکې مو ترما کوم بل کوچني وای، نو مابه هغه ته ویل چې ورشه دروازه خلاصه کړه.

د دروازې پر لوري مې منډه کړه، غږ مې وکړ:

- څوک یې ؟

د دروازې له شا یې را غږ کړ :

- د ملا پیسې!

و مې پېژانده ، دا د « بلا » غږ و. دا هغه سپین ږیری و چې یوه میاشت بله میاشت به یې د خلکو دروازې ورټکولې او د ملا صیب پنځوس افغانۍ تنخواه به یې ټولوله. خلکو به یې لنډ قد ته چې وحشتناکو کارتوني څېرو ته ورته و خندل. سترګې به تل سرې وې، ځکه خو صفر د بلا په نامه یاداوو. مور موږ ته څو ځلې ویلي چې هېڅ وخت یو څوک د هغه د څېرې یا قـد له امله مه مسخره کوئ.

دې سپین ږیري ګرد او غوټ مخ درلود کله به یې چې خندل، څېره به یې ماشومانو ته ورته شوه. پر سر به یې شین لنګوټی تړل و، څادر به یې پر اوږه پروت و. دی هم د جومات خادم و او هم د ملا مرستندویه کس.

منډه مې کړه، غږ مې وکړ:

- د ملا پیسې!

مور مې وویل:

- بلا ده؟

له خپل ځان سره یې وخندل او ادامه یې ورکړه:

خدایه توبه! هلکانو ته مې څو ځلې غوسه شوې یم چې دې سړي ته بلا مه وایاست خو نن ما پخپله هم ((بلا)) ورته وویل .

مور مې پلار ته مخ کړ. پلار مې خپلو جېبونو ته لاس کړ او ویې ویل:

- له ما سره خو لکه چې پیسې نشته ، ته یو پنځوس افغانۍ نه لرې ؟

مور مې جېبونه او د خیاطۍ مېز شاوخوا لټول پیل کړل، په لټولو کې یې وویل:

- موږ یې له کومه کړو، یو پنځوس گون راسره و پرون شپه مې ډوډي پرې راوغوښته .

پلار مې ماته اشاره وکړه:

- له ما سره مې جېبونه ولټوه ، وگوره چې شته؟

د پلار جېبونو ته مې لاس کړ،هرڅه مې دباندې راویستل. د کاغذونو او کارتونو په منځ کې د پنځوس گون، شل گون او سل گون په لټه کې وم. د هغو ټولو کارتونو او کاغذونو په منځ هغه څه چې نه وو، هغه پیسې وې. په اخېرکې مې د یوه کاغذ ترمنځ یو لسگون وموند. پلار مې په ناهیلۍ ماته کتل. د لرگي لکړه یې په لاس کې نیولې وه ،غوښتل یې ولاړ شي. په بل لاس یې غوښتل د جامو جېبونه ولټوي.

دروازه بیا ټک ټک شوه.

مور مې پلار ته مخ کړ:

- ژر شه، شته که نه؟

ورور مې له بل لوري غږ کړ:
- دا څنګه سپین سترګی سړی دی ، همداسې دروازه پسې ټکوي !
مور مې وويل:
- تر څو پنځوس افغانۍ وانخلي، نه ځي.
پلار مې ځواب ورکړ:
- نه يې لرم، نشته راسره.
مور مې وخندل او ويې ويل:
- دا ملا څنګه بد نصيبه دی، چې کله هم راشي موږ پيسې نه لرو. ملا او داسې تنګه روزي؟
صفر په خندا وويل:
- موږ پيسې نه لرو او د ملا روزي تنګه ده؟!!
ټولو وخندل، له موږ سره مو پلارهم وخندل.
مور مې وويل:
- يوه ورځ داسې رانغله چې دا سړی راشي او موږ پيسې ولرو. هغه بل ځل خو ښه و، چې دی راغی نو ګل افروز نيا مو همدلته وه، له هغې غريبي مې پنځوس افغانۍ ورته واخيستې. دا شُکر دی چې د جامو ګنډلو واله خلک خو پيسې راکوي، يو ځای خو نيسي.
پلار مې ماته مخ کړ او ويې ويل:
- ته يې نه لرې؟ افرين زويه، قرض يې راکړه بيا به يې درکړم.
صفر وخندل او په شيطانت يې وويل:
- بيا يې راکوي.
دواړو وخندل. مور مې پلار ته وويل:

- دوی ته دې هم خپل اعتبار له لاسه ورکړی!

درې واړو وخندل. پلار مې موږ ته په وارخطايي کتل، پر مخ يې خولې راغلې وې.

دروازه بيا ټک ټک شوه. پلار مې ماته وويل:

- ور شه ، ته يې ورکړه، بيا به يې دو برابره درکړم، ته پنځوس گون ورکړه زه به سلگون درکړم.

صفر بيا وخندل او ويې ويل:

همداسې يې چې يې ماته راکړې . خخخخخ. ما ته يې وويل:

- له ما څخه تجربه واخله، که له دوی سره حساب وکړم تر اوسه يې څو سلگونونه رانه اخيستي دي.

موږ بيا په خندا شوو .

پلار مې صفر ته داسې وکتل چې خندا يې په شونډو وچه شوه، وروسته يې ماته وويل:

- ورشه له خپله جېبه يې ورکړه چې هغه سړی انتظار دی، زه يې بيا درکوم، وعده ده!

لاس يې پر زړه کېښود ! په بل لاس يې د خپلې ټنډې خولې پاکې کړې او ټوخی يې پيل کړ. زړه نا زړه وم چې وريې کړم او که نه. پر پلار مې سترگې ولگېدې، د مخ رنگ يې خراب و. کله چې سترگې په سترگې شوو، سترگې يې د برېښنا په څېر و ځلېدې. بې واکه له خپله ځايه جگ شوم. له دې مخکې مې مور څو ځلې راته ويلي وو چې پلار ته مو خپگان ښه نه دی،خدای مه کړه چې د زړه بله حمله پرې رانشي.

د الماری په طرف مې منډه کړه، دخلک ( خزانه) مې د کتابونو له

ځنګه راواخیست. ځو ځلې مې ټکان ورکړ په دخلک کې دننه د ماتو پیسو شرنګاه زموږ د کور چوپتیا ماته کړه. صفر له پخلنځي چاقو راوړ او دخلک مو ځیري کړ. له دخل څخه پنځه ګون، دوه ګون او یوه ګون افغانۍ پر فرش تویې شوې. دا ټولې هغه پیسې وې چې ما او ورور مې د خپل جیب له پیسو څخه - چې مور مو راکړې وې - په دخل کې اچولې وې. هره ورځ به چې ښوونځي ته تلو، ما او صفر به پنځه پنځه افغانۍ له ځان سره اخیستې . موږ به دا پیسې نیمې خوړلې او نیمې به مو کله کله دخلک ته اچولې.

پلار مې بیا پر خپل ځای کې را نیغ شو، خپله لکړه یې راپورته کړه، به ټوخېدا یې له موږ څخه پوښتنه وکړه:

- پنځوس پوره شوې ؟ زما په لاس ته چې پیسې راغلې تا ته پوره سل افغانۍ درکوم. دا دي .......

بیا یې لاس په سینه کېښود، د خپل زړه پر سر، نوره خبره یې په ټوخي کې نه اورېدل کېده. صفر بیا په خندا وویل:

- که یې پیسې لاسته ورغلې نو.........

صفر ته مې وویل:


- اوس خو دخل ځیرې شو، مجبوره یوو چې وریې کړو.

د خزانې پیسې مو چې وشمېرلې ۳۲ افغانۍ شولې. پلار ته مې وویل:

- ۳۲ افغانۍ

پلار مې وویل:

- هغه دوه افغانۍ دې ستا وي، هغه لسګون دې چې زما له جیبه واخیست هغه هم ورسره یو ځای کړه.



ومې ویل:

- بیا هم لس افغانۍ کمې دي !

په دې وخت کې مې مور له ځایه جګه شوه، قران کریم یې د الماری له سر څخه راواخیست، پوښ یې ترې لرې کړ، له منځه یې لس افغانۍ راواخیستې او هغه یې مور ته راکړې.

- دا لسګون مې په قران کریم کې د صدقې لپاره ایښی و، ور یې کړه ، خدای مهربانه دی بیا به یو بل لسګون پکې کېږدم.

لاس پر لاس پنځوس افغانۍ راټولې شوې. دېرش روپۍ یې سکې وې او دوه یې لسګونان وو. کله چې د دروازې ته ورغلم، ومې لیدل چې زوړ سړی سترګې شوی او ناست دی، ما ته یې وویل:

- لکه چې برابري شوې؟ تاسي لکه چې خپلې پیسې په څاه کې ساتئ.

ده وخندل او زما يې له دې کنايې بد راغلل. پيسې مې ورکړې او دروازه مې کلکه پسې ووهله.

لا کوټې ته نه وم رسېدلی چې د مور چيغې مې واورېدلې، کوټې ته په منډه د ننه شوم، مور مې د پلار سر په لاسونو کې نيولی وه ؛ د پلار ټوخی مې بند شوی و او مور مې چيغې وهلې:

- څه درباندې وشول ؟ د خدای پارده وغږېږه، څه درباندې وشول؟

مورمې خپل مخ په څپېړو واهه ، د پلار رنګ مې سپين تښتيدلی و، مور مې صفر ته په چيغو کې ويل:

- اوبه راوړه، منډه کړه !

صفر پخلنځي ته لاړ. پلار مې پر فرش بې ساه پروت و. لاس او پښې يې بې حرکته وې. سترګې يې اسمان ته نيولې وي. پر شونډو يې موسکا ښکارېدله، لکه ويده چې وي. مور مې چې هر څومره چيغې وهلې ځواب يې نه ورکاوو، ساه يې نه اخيسته . زه وروسته پوه شوم چې هغه حمله چې مور مې يادوله راغلې وه. چيغې مې وکړې او بيا مې چيغې وکړې، د پلار تر څنګ مې يوازې چيغې وهلې. ژوند په کور کې له کاره لوېدلی و، صفر هم ژړل او پلار مې .....



# د بډوډو خرڅولو بازار

خبریال یم، له څو کلونو راهیسې د خپلې دندې له امله بادغیس ولایت ته سفر کوم. پوهېږئ خبریالي جنجالي دنده ده. له لوېدیځو ولایتونو یو یې هم بادغیس دی. ما د دې ولایت ډېرې ولسوالۍ لیدلي دي. قادس، مقر، جوند، اب کمري او بالامرغاب ولسوالۍ چې یو ښایسته سیند هم لري. په دې ټولو کې د دې ولایت مرکز قلعه نو هغه ځای دی چې زه تل پکې وم. د قلعه نو شاوخوا غونډۍ په پسرلي کې د «گل دختر» له سرو او ژېړو ځانگو ډک وي. خو په مني کې له غنمو ډکې وي. هندوانې او خټکي هم په دې غرني ولایت کې ډېـــرمووندل کیږي.

څومره چې له هرات څخه لېري کیږي او بادغیس ته نږدې کیږې، گام په گام د چاپېریال طبیعي ښکلا او د هوا تازگي زیاتېـــږي. په تېره

خو د سیند پرغاړه د شنو څرځایونو، د مالدارانو د خېمو تر څنګ د مېږو رمې، دې سفر ته لا ښکلا ورکوي. د دې ښکلا اوج، د هرات او بادغیس تر منځ «سبزک بند» دی. کېدای شي « بند سبزک» د افغانستان په کچه ښکلی او زړه راښکوونکی ځای وي. دا طبیعي بند، سړی د یوې لویې کاسې په فکرکې اچوی. کله چې له یوه لوړځایه دې کاسې ته وګورې، فکر کوې چې په یوه کاسه کې نورې کاسې ایښودل شوې دي.

په دې کاسو کې پخپله شنې شوې ونې د سرتېرو د یوه لښکر په څېر ښکاري. ځینې ونې داسې ښکاري لکه پر تورو اسانو سپاره فوځیان چې، د برید کولو لپاره قوماندې ته انتظاروي. له دې طبیعي بند څخه چې تېرشو،هغه سیمې ته رسېږوچې دره لامان ورته وایي. لامان له ونو ډکه دره ده چې دواړو لورو ته یې شنه غرونه پراته دي او په منځ کې یې سیند روان دی. د سیند تر څنګ د خلکو کورونه دي چې د عربو د سړیو په څېر په تورو ټوټو( چلتار) سرتړلې ښځې ترې راوځي.

په وښو پوښل شویوغونډیو کې د پسونو رمې څري، شاو خوا یې د مالدارنو خېمې پلنې وي. په دې دره کې هر څه طبیعي او ابتدایي دي. وایي به چې، په دې دره کې وخت ولاړ دی. خلک یې له بشري تمدن څخه ډېر شاته پاتې دی. سړی داسې فکر کوي چې دلته پېړي مخکې ژوند، خپل طبیعي حالت ساتلی دی. په دې دره کې خلک تر اوسه هم داسې فکر کوي چې نړۍ همدا لامان دره ده او بس. لامان دره که له یوه مار سره ته تشبې کړو نو د سبزک په بند کې د دې مار خولې ته دننه کېږو او کله یې چې له لکۍ وځو د قلعه نو ښار ته به درسېدلي یوو.

قلعه نو ته نږدې یو فلاینکوچ موټرلار بنده کړې وه. خلک پرې

راټول و، پرموټر تابوت اېښودل شوی دی. زموږ د موټر ډرایور تابوت ته وکتل او بيايي وويل:

- کرونايي ده. دوې ورځې مخکې يې هرات ته وړې وه، دغه ده اوس يې جنازه راوړه.

يوه ځوان وويل :

دا د (( پـده )) اوسېدونکي دي او مړه شوې ښځه د کريم بيک نږوردہ.

يو سپين ږيری وويل :

- د چا پښه چې دې روغتون ته رسېدلې ، ژوندی نه دی ترې راغلی، که نه نو کرونا له کومه شوه!

يو ځوان يې په ځواب کې وويل:

- کرونا شته، که نه وای د نړۍ خلک خو لېونيان نه دي چې دومره غوغا يې اچولې ده. دا د عبدالکريم نږور له څه شي مړه شوه؟ په همدې اب کمري پده کې زه لس، پنځلس کسان پېژنم چې کرونا نيولي دي.

د مسافرو له خبرو پوه شوم چې يوه اونۍ مخکې، د عبدالکريم نږور په اب کمري ولسوالۍ کې يو دم ناروغه شوې وه. د يوه ډاکټرشخصي معاينه خانې ته يې وړې وه، ډاکټر هغوی ته ويلي وچې ستاسو ناروغ کرونا نيولې ده، هرات ته يې يووسئ . د هرات په کرونا شفاخانه کې له دوو ورځو وروسته وفات شوه، اوس يې تابوت قلعه نو ته وړي.

د ورځې دوولس بجې او لس دقيقې وې چې د «بهار» هوټل تر څنګ له موټره ښکته شوم. د ورځې په دې وخت کې چې له موټره په قلعه نو کې ښکته شې، د پسه د شوروا بوی دې تر پزه کېږي. د شوروا خوږ

بوی د ښار له ختیځنو هوټلو او سماوارونو سرېی خپل لوري ته را کاږي. زریني خولۍ پرسرځوانان، کبابونو ته پکه وهي او مسافرین دننه هوټل ته رابولي.

ماما غلام رسول چې د کباب سیخونه یې په لاس کې و، غږ راباندې وکړ:

- انجنیر صېب سترې مشې! مهرباني، پاس راځه.

زړه نا زړه شو چې ماته لاس راکړي او که نه؟ ما یې چې په څېره کې دا شک ولید، هغه مې له دې عذابه خلاص کړ ورته ومې ویل:

- ښه ده چې د ځان ساتنې لپاره یو بل ته لاس ورنکړو.

ماما غلام رسول وخندل او ویې ویل:

- زه یې دومره پروا نه لرم انجنیر صېب! د تا لپاره مې لاس درنکړ.

وروسته یې خپل شاګرد ته ورغږ کړ:

- انجنیر صېب ته چای راوړه! انجنیر صېب تور چای څښي.

په قلعه نو کې ټول ماته انجنیر صېب وایي. د قلعه نو خلک د جامو له مخې خلکو ته لقب ورکوي او په هماغه نامه ورته غږ کوي. په دې څو کلونو کې ماته انجنیر وایي. څو کسان په سماوار کې دننه ناست وو، د هوټل شاګرد مې چې مخې ته د چای چاینکه کېښوده، له ماما غلام رسول څخه مې پوښتنه وکړه:

- څه خبرې دي ؟

- خیرت دی انجنیر صېب! خبرونه خو له خبریالانو سره وي.

- له کرونا سره څنګه یاست، دلته شته که نه ؟

دا ځل زما دنده د کرونا په هکله د یوه راپور جوړول و. له همدې

امله، له دې وروسته چې څه لولئ لکه د ورځپاڼې راپورچې لولئ. ماما غلام رسول ځواب راکړ:

- کرونا خو نشته خو وېرې يې خلک تباه کړل. اورېدلي به دې وي چې بلا پخپه دومره نه وي لکه وېره يې چې د خلکو زړونه کاږي.

په هوټل کې له ناستو کسانو څخه يوه يې وويل:

- کرونا چېرې وه لالا! دا خلک د خدای په توکل ژوند کوي. دا وچ کالي، دا جگړه، دا بيکاري، د دې خلکو لپاره تر زرو کروناوو سخته ده. زه د جوند ولسوالۍ يم، پنځه شپږ مياشتې کېږي چې محاصره يوو، يو من اوړه نه پيداکېږي. موږ پخپله يو بل ته کرونا يوو، بلې کرونا ته حاجت نشته.

ماما غلام رسول وويل:

- خلک د دې پر ځای چې روغتون ته ولاړ شي، تورچای او «ابران» خوري. ابران يو ډول يوناني درمل دي، نه پوهېږم چې گټه لري کنه.

په دې خبرو اترو کې وو چې هوټل ته يوه کليواله کورنۍ را دننه شوه.

يوه ځوانه نجلۍ، چې شايد تازه يې واده کړی و، پرخپل مخ يې پوړنی داسې اچولی و چې نيم مخ يې ترې معلومېده. نرۍ پزه، تورې سترگې، گرد مخ اوله رنگه سپينه ښکارېده. د هغې د نيم پټ مخ ننداري زه د جوند ولسوالۍ د نجونو په فکرکې کړم. د دې ولايت د شپږو ولسواليو په منځ ، جوند ولسوالۍ د طبيعت او ښکلا له اړخه تل د ژبو پرسر وه. په بادغيس کې چې کله پر ښکلا خبرې کېږي د جوند وسلوالۍ د نجونو صفت کېږي.

«قرصي» خولۍ يې پرسروه، خولۍ يې ترپوړنی لاندې د مسي کاسې په څېر ښکارېدله. پوړنی يې په چرمو جوړ و او په پيڅو کې يې کوچنۍ ايينې ګنډل شوې وې. د لمن او لستوڼو څنډې يې هم د پوړني د څنډو په څېر پر آيينو ښکلي شوې وې. کله چې زموږ له مخې په هوټل کې د ښځينه وو برخې ته د ننه کېدله، اوجود يې ډنګر او کوچنی معلومېده. نجلۍ لکه نوی رسېدلې هوسۍ ، چابکه د نارينه وو له مخې تېره شوه. پر وچ لاس يې د ستنو يا سېروم لپاره کنوله لګول شوې وه. تر شا يې يوه زړه ښځه پسې روانه وه.هغې هم تور، په چرمو جوړ پوړنی پر سر کړی و. سپين وېښتان يې پر تنډه را خواره و. يو سپين ږيري چې له هغوی سره و، په دوی پسې هوټل ته راننوت. سپين ږيري لويه ګېره لرله.

کله چې ښځې د پردې ترشاه فناه شوې، سپين ږيری د هغې پردې خواته کېناست. ده ته هم سړي ور معلومېدل او هم خپله کورنۍ. دا سړی نيم په نارينه برخه او نيم په ښځينه برخه کې ناست و. د پردې له هاخوا يې له ښځو پوښتنه وکړه:

- چای راوړي؟

له هغې خوا يو نازک غـږ راغی چې شايد د هغې زړې ښځې غږ به و. سپين ږيري د هوټل شاګرد ته ورغـږ کړ:

- وهلکه ! کورنۍ ته مې يوه چاينکه چای راوړه.

د هوټل شاګرد  د سپين ږيري مخې ته چای کېښود، سپين ږيري چای د پردې تر شا ورکړ، بيا يې له خپلې کورنۍ پوښتنه وکړه:

- ډوډۍ خورئ؟

ورته وويل شول :

- نه ، همدا چای او ډوډۍ بس ده.
ماما غلام رسول له دروازې څخه پر سپین ږیري غږ وکړ:
- راستانه شوئ له خیره؟
سپین ږیري وویل:
- هو، خیر دې نصیب شه !
هوټلي چې له سپین ږیري سره اشنا مالومېده، بیا پوښتنه یې وکړه:
- کارونه مو څنګه شول ؟
سپین ږیري ځواب ورکړ:
- هی څه ووایم ولا، هو، وشول.
په خبرو کې یې غم او پښېماني مالومېده.
هوټلي وویل:
- ناروغ مو څنګه ده، یو څه ښه ده؟
سپین ږیري وویل:
- ښه ده، د خدای شُکر دی اوس یې یو څه فرق کړی.
- چورت مه وهه، ډېرداسې کسان مې لیدلي چې په یوه بډوډي ژوند کوي. هېڅ پروا نه لري.
سپین ږیري وویل:
- د دې سپین سرې بډوډۍ یې نه غوښت ، زما د دې نږور بډوډۍ یې واخیست.
- په څویې واخیست ؟
- له دې قرنطین وروسته چې خلک بې روزګاره شول، د بډوډو نرخونه هم را ټیټ شوي دي.

- اخېر يې په څو واخيست؟

- دوه لکه اتيا زره افغانۍ يې راکړې.

- نرخ يې دومره ډېـر هم نه دی راټيټ شوی ، له دې مخکې هم تر درې لکـو، درې لک او شل زره ډېر نه و. له يوې خوا کرونا ده ، له بلې خوا د ايران لاره هم بنده  ده، خلکو دې کار ته مخ اړولی.

سپين ږيري ويل :

- پلورونکي زيات دي خو اخيستونکې يې نشته. اوس له ټلويزنو هم دا غوغاوې پورته شوې، روغتونونه يې هم بند کړي دي.

هوټلي بيا پوښتنه وکړه :

-  کوم روغتون ته ولاړې؟

- نوم مې نه دی په ياد خو په هماغه  دوو روغتونه کې يو يې دی نو، هماغه د عزيز بای زوی چې ورغلی و..

- د عزيز بای زوی همدلته له يوه بډوډي سره په سه شنبه بازار کې خيمه وهلې.

د هغې ورځې په سبا لس بجې موږ خبريالانو د «باغ زراعت» په نامه غونډېيو کې، د پستو بڼ ته څېرمه خيمې وموندلې چې هغه ته به يې «سه شنبه بازار» ويل. سه شنبه بازار د قلعه نو مربوط دی چې په دې يوه کال کې له خېمو ډک شوی. زړې خېمې اوځيرې ترپالونه، ترهرې خېمې لاندې يوه کوروڼۍ له ښځو او ماشومانو سره ناسته وه اوانتظارېې کاوو.ډېری خلک يې د جوند، قادس اومقر ولسواليو و. مرسته کوونکو موسسوهغوی ته کوريني بيځايه شوي ويل. هره ورځ ډلې ډلې خلک په درېشۍ کې له قيمتي موټر سره دلته د سروې لپاره راځي. کاغذي پاڼې له

نوم، د پلار نوم او د اوسېدوځای لیکنې څخه ډکې شي. د یوې ډلې کاغذ چې ډک شي بله ډله راشي. بی ځایه شوي خلک په حوصله سره ټولو ته په پرانیستي زړه خپل نوم او د پلار نوم ورکوي.

درې څلور ورځې کېدې چې یوه تازه خبر، د سې شنبې بازار د خلکو په منځ کې مشهور کړی و. هغه تازه خبر «د بې ځایه شویو خلکو د بېوزو خرڅول» و. خبر هغه وخت خپورشوی و چې یوخبریال خبرشوی و چې په دې کمپ کې، یوې ډله بې ځایه شویو خلکو په ډله ییزه توگه خپل بېوزي پلورلي دي. د کرونا له غوغا سره سم د بېوزو پلور بله غوغا رامنځته کړه.

له هغې ورځې راپه دې خوا دا څوومه ورځ وه چې سه شنبه بازار د خبریالانو، د بشري حقونو د کارکوونکو او دعامې روغتیا له ریاست څخه د راغلي څېړنېز ټیم د تگ راتگ ځای و. ویل به یې: « د بېوزو پلورلو بازار».

زه خو اصلاً پر کرونا د راپور جوړولو لپاره دلته راغلی وم خو دلته د بېوزو خرڅولو په پېښه خبر شوم. هغو خلکو چې خپل بېوزي یې پلورلي وو، کله به یې چې خبریالان ولیدل د هغوی د کمرې مخې ته به کتار ودرېدل. دوی لکه چې په دې څو ورځو کې له خبریالانو سره عدت شوي وو. خپلې د مخې لمنې به یې پورته کړې، پرخپلو گېډو به یې گنډل شوي ځایونه کمرې ته مخامخ وښودل. د خبریالانو د کمرو فلشونو به ترق ترق غړونه پیل کړل،ځینو به یې ویډیوگانې کولې. دا خلک به په ساعتونو، ساعتونو همداسې د کمرو مخې ته ولاړ و. یوتن چې ځان یې ارباب باله ، دې خلکو ته وویل:



- هرڅوک چې څه ویل غواړي، انجنیر صاحبانو ته دې یې ووایي، کم او زیاد به نه وایاست!

دوی به موړ ته د خبریالانو په ځای انجنیران ویل. ارباب موړ ته وویل:

- دې خلکو له مجبوریت څخه دا کار کړی، په دوی څوک نه دي ملامت، خدای مه کړه ډاکټران او روغتونونه په دې کې ملامت نه دي. اصلي پړه د کرونا ده، بیکاري ده، ناداري ده.

د ارباب خبرې به چې پای ته ورسېدلې، له ولاړو خلکو به هریو د یوه ټلویزیون د کمرې مخې ته ودرېد. داسې به غږېدل چې تا به ویل دا خبرې یې حفظ کړې دي:

- له هغه وخت راهیسې چې قرنطین پیل شوی، کرونا زیاته شوې، موږ بې روزګاره شوو، هرات ته لاړو خپل بهوډي مو خرڅ کړل.

زما د کمرې مخې ته یوځوان ودرېد، خپل ځان یې رسول راوپېژانده. رسول۲۷ کلن و، په اوجود کمزوری و. رسول لکه متن یې چې حفظ کړی وي په خبرو پیل وکړ:

- له مجبورۍ، بې روزګارۍ او بې کسۍ ، لس ځلې ایران ته لاړم ،هلته ونیول شوم، پنځه ځلوېښت ورځې بیا په پاکستان کې بندي وم. پر موږ یې مسخرې کولې. د ځمکې پر مخ چې څه کار و تر سره مې کړ، خو ډوډۍ مو پیدا نکړه. خپل بهوډی مې په درې لکه خرڅ کړ. یوه مسلمان ته مې ورکړ. له خدایه غواړم چې تر څو ژوندی وي، ښه کار ورته وکړي.

په دې حال کې یوه بل ځوان رسول شاته کړ او پخپله د کمرې مخې ته راغی:

- انجنیر صیب! له ډېـرې مجبورۍ له خپلې مېرمن او اولادو سره له جوند ولسوالۍ را ووتم، لارې تړلې وې، د جوند بازار محاصره و، یوه لپه اوړه نه پیدا کېدل چې ویې خورو. مجبور شوو دې ځای ته راغلو. چا راته وویل چې په هرات کې یو روغتون بهوډي اخلي، موږ هم د مجبوریت له مخې خپلې ګردې خرڅې کړې.

له دې وروسته یې خیمې ته وکتل او ویې ویل:

- موږ پنځه ورونه یوو، پنځه واړه د دې پر ځای چې لس بهوډي ولرو، پنځه بهوډي لرو. پیسې مو هم په قرض کې ولاړې.

له خېمې څخه یوې مېرمنې سر راویوست، کمرې ته یې وویل:

ــــــزما نوم بي بي سارا دی. له جوند ولسوالۍ څخه دلته راغلې یوو، پر موږ لوږې او ناچارۍ تېرېږي، له څو ماشومانو سره دلته ژوند کوم. لارې بندې دي، کرونا او قرنطین يې بل غم دی چې پر موږ را نازل شول. موږ هم لاړو بډوډي مو خرڅ کړل انجنیر صېب! پیسې مو راوړې، هر یو مو شپږ لکه اووه لکه پوروړي وو، پیسې په پورونو کې لاړې. یو پنځوس زره چې را پاتې شوې، ګاز واخله، ډوډۍ واخله، جامې واخله، هغه هم خلاصې شوې. انجنیره! په خپلو سترګو يې وینې، همدا ښکلې نجونې ټوله ورځ د خلکو په کورو کې غالۍ مینځي، د خلکو کمپلې مینځو، د خلکو په کورونو کې له سهاره ترماښامه کار کوو، په اخېر کې موږ ته پنځوس یا اتیا روپۍ راکوي. له ناچارۍ راغلې یوو، خپل بډوډي مو پلورلي. اوس په دې دښته کې بې سرپناه پاتې یو انجنیر صېب!
ومې لیدل چې کمره مې سېګنالونه راکوي چې حافظه يې ډکه شوې. لکه چې کمرې هم نور نشوای کولای د دې خلکو فریادونه واوري او ووینې.